# شهامت

دولسم کال، دویمه، پرلپسې۷۰مه گڼه، ذي القعده-ذي الحجة ۱۴۳۹هق، اگست۲۰۱۸م

امریکا دې تاریخ بیا ولولي!!

د نیکمرغه لوی اختر په مناسبت د عالیقدر امیر المؤمنین

## شیخ الحدیث مولوي هبة الله اخندزاده (حفظه الله)

## د مبارکي پیغام

- محلي اردو یا د اربکیزم نوی ورژن
- د ټرمپ سرکوبي
- ملت پالي حرکتونه او منحل کېدونکی اروپایي اتحاد
- د غزني عملیاتو د امریکا او ناټو پوځي ورتیا وننګوله
- امریکایي ولس دافغانستان له جګړې څخه ولې ناخبره ساتل کیږي؟
- دسولې پیغام!!
- د ا ځل ولې د څرخي پله زندانیانو اعتصاب ته توجه نه کیږي؟!
- د امریکا او ترکیې یوه نوې جګړه
- طالبانو ولې د سره صلیب سره د خوندیتوب تعهد سلب کړ؟

# شهامت

## علمي، کلتوري او اسلامي مجله

دولسم کال، دویمه، پرلپسې ۷۰مه گڼه، ذي القعده-ذي الحجة ۱۴۳۹هق،اگست ۲۰۱۸م

## لړلیک



| گڼه | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | سرليکنه...................................................................... | ۱ |
| ۲ | دلوی اختر په مناسبت د اميرالمؤمنين شيخ هبة الله حفظه الله پيغام........ | ۳ |
| ۳ | د غزني سقوط دکابل رژيم پزه په بيخ کې پرې کړه......................... | ۹ |
| ٤ | په جوزجان کې داسلامي امارت فاتحانه عمليات او د داعش ................ | ۱۱ |
| ٥ | دغزني عملياتو د امريکا او ناتو پوځي وړتيا وننګوله.......................... | ۱۳ |
| ٦ | غزنی او د کابل ادارې وارخطايي................................................ | ۱۵ |
| ۷ | پر عروس البلاد د سپينو بيرغونو رپرپا........................................... | ۱٦ |
| ۸ | دحجر اسود ... تاريخ او ځآی.................................................... | ۱۸ |
| ۹ | دغزني نيولو کې د طالبانو ګټې.................................................... | ۲۱ |
| ۱۰ | دقربانۍ نصاب............................................................... | ۲۳ |
| ۱۱ | دپېريو په پردو کې پوښلی انځور................................................ | ۲۷ |
| ۱۲ | د اسلامي نړۍ خپلواک او مجتهدانه کردار.................................. | ۳۰ |
| ۱۳ | د سولې پيغام!................................................................ | ۳۴ |
| ۱٤ | دا ځل ولې د څرخي پله زندانيانو اعتصاب ته توجه نه کيږي!؟............ | ۳۵ |
| ۱٥ | ګلورينې پاڼې ................................................................ | ۳٦ |
| ۱٦ | د امريکا او ترکيې يوه نوې جګړه............................................. | ۳۹ |
| ۱۷ | د ټرمپ سرکوبي............................................................. | ۴۱ |
| ۱۸ | د ديني علم برکتونه.......................................................... | ۴۲ |
| ۱۹ | څو نادرې نابلدې............................................................ | ۴۴ |
| ۲۰ | داسلامي تاريخ په اړه يوه کتنه او يوه څېړه ................................ | ۴۵ |
| ۲۱ | ملت پالي حرکتونه او منحل کېدونکی اروپايي اتحاد......................... | ۴۹ |
| ۲۲ | غزني او خارجي مطبوعات.................................................... | ۵۳ |
| ۲۳ | ولې د غزني جګړه؟!......................................................... | ۵۴ |
| ۲۴ | د کاناډايي افسر قاتل، که د وخت وزير محمد اکبر خان .................. | ۵٦ |
| ۲۵ | امريکايي ولس د افغانستان له جګړې څخه ولې ناخبره ساتل کيږي؟!... | ۵۸ |
| ۲٦ | محلي اردو يا د اربکيزم نوی ورژن.......................................... | ۵۹ |
| ۲۷ | د ذي الحجې د لسو ورځو او د قربانۍ فضيلت............................ | ٦۳ |
| ۲۸ | د شهيد مولوي ګل موسی نصرت ژوند ته لنډه کتنه....................... | ٦۷ |
| ۲۹ | طالبانو ولې د سره صليب سره دخونديتوب تعهد سلب کړ؟.............. | ۷۰ |
| ۳۰ | د اخترونو لمونځ .............................................................. | ۷۲ |




**دامتيازخاوند :**

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کميسيون

**مسؤل مدير:**

ابو ظهير

**کتنپلاوی :**

لطيف عزم
حسن '' علوي'' بلال ''وحيد''
نعيم '' صافی '' عابد مجاهد
قاري حبيب

**بيــــه :**

يوه ګڼه ۲۰ افغانۍ او ۳۰
کلدارې په پاکستان کې

**تخنيکي مسؤل :**

تخنيکي څانګه


**يــادونــه**

شهامت له سرمقالې پرته دنورو
ليکنو مسؤليت په غاړه نه اخلي.

بريښناليک: Sham.shahamat@yahoo.com

ادرس : کابل کارته پروان عقب سينمای بهارستان

بسم الله الرّحمن الرّحيم

# امریکا دې تاریخ بیا ولولي!!

دځینوامریکایې چارواکو لخوا دلانورو پوځي فشارونو اوگواښونو ډیرولو په ځواب کې اسلامي امارت دکوم رسمي یا سیاسي غبرگون ښودو پر ځای عملاً په پوځي ډگرکې یې خپل غبرگون وښود او دهیواد په مختلفو ولایتونوکې پر بهرنیو یرغلگرو او گوډاگیوځواکونو یې داسې منظم اوتندریز بریدونه و کړل چې امریکایان اودهغوی گوډاگیان دواړه یې په مخنیوي کې بیوسه او ورخطاءو لیدل شول

دهیواد دلرغوني ، تاریخي اوستراتیژک ولایت غزني مرکزته دمجاهدینوفاتحانه ننوتل په بغلان، کندز، تخار، جوزجان، فاریاب بادغیس، هلمند. دای کونډي ،بدخشان اونوروکې پر دښمن پریکندو تندریزو عملیاتو جوته کړه چې په پوځي اوجهادي ډگرکې مجاهدین د خوراښه نظم اوفولادي عزم څخه برخمن دي اوپر ډول ډول عصري وسلو سمبال اومجهز ځواکونه یې په وړاندې داستقامت تاب نه لري.

په عین وخت کې دهیواد په شمال کې دداعشي پدیدې ځپل اوریښې ویستل هم که یو پلوته داسلامي امارت لپاره دسترې پوځي او جهادي لاسته راوړنې نښه ده بل پلو مقابل

لوري ته يوه داسې درسوايي ډکه ضربه ده  چې ټولې نړۍ ته  يې دامريکا اوداعش کرغيړنه څېره  څرګنده کړه چې په حقيقت کې دواړه  داسلام  اومسلمانانوسره کلکه دښمني لري

دکتونکو په اند: په شمال کې  دطالبانو دتندريرو بريدونو له داره په هليکوپتروکې دداعش جنګياليو ويستل او دغزني مرکزته دطالبانوفاتحانه ننوتل همداراز دهيواد پلازمينې (کابل) سره د جنوبي ولايتونومواصلاتي ارتباطي نظام يومخ په ټپه قطعه کيدل  ښيي چې امريکا اواجيررژيم په ټوله معنی جګړه بايللې  اوداسلامي امارت زړور مجاهدين دجګړې په ډګرکې برلاسي لري

د هغوی په وينا: طالبانو نړۍ ته وښوده چې دوی  د رواني جګړې ګټونکې  دي او که بالفرض راتلونکي کې دوی په مذاکراتو او خبرو کې دګډون پريکړه کوي نو  دبري اوجګړې ګټونکو د احساس په بدرګه به يې کوي

راځو ديته چې لله الحمد داسلامي امارت مجاهدين دبري له احساسه برخمن دي دامريکا ،ناټو اوکابل دوه سري دولت  په ځواکونو دشکست  اوډار روحيه ختلې، دغزني جګړې وښوده  چې مجاهدينو دنويو پوځي تجربو  او عسکري تاکيتکونو څخه په استفاده کولی شي  چې هروخت او هرځای وغواړي  دښمن ته دسراومال درانه زيانونه اړولی شي او مخنيوی يې دامريکا اواجير رژيم له وسه بيرون کاردي بناً ضرورت دی چې امريکا دپورته  څرګندو واقعيتونو په درکولو سره نورد پوځي زور له کارولو ډډه وکړي  اوپر ځای يې پرهغو لارو چارو غور وکړي چې دلته خپل ميشت ځواکونه څنګه په خوندي ډوول  وباسي؟ ځکه ورځ تربلې دجګړې په ډګر کې دوی د ماتې سره مخ کېږي که هرڅومره وحشتونه ، ظلمونه او بمباردونه ډيرکړي  اوهره ورځ په لسګونو انسانان په شهادت ورسوي بيا به هم دجګړې ګټلو چانس ترلاسه نکړي  پکاردی امريکا تاريخ بيا ولولي اوله چنګيزه ترانګريز او دشوروي ترشکسته دتاريخ پاڼې په زيراوزورولولي چې د لته  يې مغرور او کبرجن سرونه په زمکه رغړيدلي  که امريکاهنوز دخپلې سرتمبګۍ نه لاس وانخلي نو حتماً به داهم په هغسې احشر اخته کېږي او د شرمنده ګۍ او خجالت پرته به بل څه ترلاسه نه کړي.

## شیخ الحدیث مولوي

# هبة الله اخندزاده (حفظه الله)

# د مبارکي پیغام

الله اکبر، الله اکبر، لا اله الا الله والله اکبر، الله اکبر و لله الحمد.

إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادي له، ونشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، ونشهد أن محمداً عبده ورسوله صلى الله عليه و على آله و اصحابه اجمعين. و بعد: قال الله عزوجل:إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أُولَئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ. (الحجرات ۱۵).

**ــ ټول اسلامي امت او د افغانستان مجاهد ولس ته!**

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

نیک مرغه لوی اختر مو مبارک او د الله تعالی په لاره کې تر سره کړې ټول طاعات ، قرباني او عبادات مو قبول شه.

الله عز وجل دې مجاهدینو ته پوره بریالیتوب، شهیدانو ته د شهادت قبولیت، د جهاد په لاره کې ژوبل شویو ته دې کامله شفاء، محبوسینو ته عاجل نجات او ویرجنو کورنیو ته صبر جمیل او نعم البدل ورنصیب کړي او الله تعالی دې یتیمانو ته د سالمې روزنې زمینه برابره کړي.

**ــ افغان مجاهد ولسه!**

سږنی لوی اختر په داسې حال کې پرمونږ راځي چې د امریکایي اشغال په وړاندې مو جهادي مقاومت نور د الله (جل جلاله) په نصرت د کامیابي درشل ته ډیر نږدې شوی، اشغالگرو کفري ځواکونو یې په وړاندې د مقابلې توان له لاسه ورکړی، جنگي ستراتیژي یې ناکامه، پرمختللې تکنالوژي او پوځي وسائل یې بیکاره، د مجاهدینو په وړاندې فتنه او فتنه گره مفسده ډله له شکست سره مخ او مغرور امریکایي جنرالان د افغان ولس جهادي عظمت ته سر ټیټي شوي دي ...قُلْ بِفَضْلِ اللَّهِ وَبِرَحْمَتِهِ فَبِذَٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوا هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ (۵۸) یونس.

لهذا مونږ ته په کار ده چې د دې الهي نصرت او جهادي بریاوو شکرانه په مزیدوجهادي هڅو او خدمتونو سره اداء کړو او د خپلو نیتونو او اعمالو په

اصلاح سره نورهم ځانونه د اللهي نصرت او معاونت وړ وګرځوو، ځکه صالح اعمال په جهاد کې ثابت قدمي او محکمي پيداکوي، جنګ د نيکو اعمالو په برکت کيږي، نو نيک اعمال په جنګ کې دخل لري، د جهادي جنګ څخه مخکې نيک اعمال د اخلاص دليل دی.

(وقال ابو الدرداء: انما تقاتلون باعمالکم ـ رواه البخاري. باب عمل صالح قبل القتال)

ژباړه: ابودرداء رضی الله تعالی عنه فرمايي: بې لکه شکه چې تاسو د خپلو (نيکو) اعمالو په مټ جنګيږي.

## ـ درنو هيوادوالو!

سوله او امن را وستل د اسلامي امارت له سترو اهدافو څخه دي، خو تر اشغال لاندې نه سوله راتلای شي اونه هم ماسوا له اسلامي حاکميت څخه د نجات بله لاره شته.

زموږ اولس د اسلامي نظام د حاکميت او د هيواد د آزادۍ لپاره خورا درنې قربانۍ ورکړې، چې په هيڅ قيمت هم په دغو سترو اهدافو له چا سره معامله ممکنه نه ده او نه يې هم بايد څوک تمه ولري.

۱۷ کاله پخوا چې کله امريکايي يرغلګرو پر افغانستان د يرغل لپاره نړيواله جنګې ټلواله جوړه وله اسلامي امارت هغوی د جګړې په ځای د تفاهم او تعقل سياست غوره کولو ته رابلل، خو امريکايي مشرتابه د عدم تعقل او سنجش له مخې پر داسې جګړې لاس پوري کړ چې امريکايي ولس ته په ډيره درنه بيه تمامه شوه.

هغه جګړه چې د امريکا په تاريخ کې يې تر ټولو د اوږدې، تاواني او ناکامې جګړې نوم خپل کړ، د افغانستان په شمول يې ټوله سيمه او نړۍ له سختي بې ثباتي او ګډوډي سره مخ کړې ده.

هغه جګړه چې امريکايان يې په ټوله نړۍ او حتی په امريکا کې له لا زياتې نا امنۍ، بې حيثيتۍ او ذهني نا کراري سره مخ کړل.

خو اسلامي امارت اوس هم امريکايان د زور آزمايي پر ځای د تفاهم او تعقل منطق ته را بولي او هغه لارې چارې ور په ګوته کوي چې هغه د دې اوږدې جګړې توقف او پايته رسيدل تضمينوي او هغه يواځينۍ لاره د افغانستان د اشغال خاتمه ده او بس.

په کابل کې چې کوم رژيم د امريکايي ولس د ډيرو پوځي، اقتصادي او بشري تلفاتو په عوض کې پر افغان ولس تپل شوی د هغه له فساد، بې کفايتي، بيوسي او ناکامي څخه اوس خپله امريکايي چارواکي تر سپوږمو راغلي او پر هغه رژيم يې خپل باور له لاسه ورکړی دی.

د دې فاسد رژيم مشري يې داسې چاته سپارلې چې د مشرۍ ټوله موده يې د خپل حکومت له غړو سره په مقابله، له خپل اجرائيه مشر سره په مقابله، خپل مرستيال سره په مقابله، خپلې کابينې سره په مقابله او حتی خپلو واليانو سره په جنجالونو تيره کړه.

اوس چې يې د راتلونکي واکمنۍ لپاره بيا د ټاکنو په نوم کومه پروسه پيل کړې هغه له دومره فضاحتونو او فساد څخه ډکه ده چې حتی خپله د دې فاسد حکومت غړي يې د ترسره کيدو امکانات ناشوني بولي.

اسلامي امارت چې له خپل دين او خپلې خاورې څخه د دفاع په خاطر له اشغالګرو سره د مقاومت رهبري په غاړه لري لله الحمد هم يې په پوځي لحاظ د مقابلې ميدان ګټلی او هم په سياسي او اداري لحاظ د مقاومت په اداره کولو ښه مسلط دی او هم يې ګاونډې او د سيمې هيوادونه مطمئن کړي دي.

د خپلې دې ادعاء د اثبات لپاره موږ پر دې خبره استناد کوو چې د امريکا او ناټو په څير مجهزو پوځونو او د هغوی له ټول پوځي او تخنيکي زور او ځواک سره سره خپله د دوی په اعتراف ترنيمايي په زيات افغانستان زموږ حاکميت دی.

د جهادي مقاومت د دغه امتیازي مشخصې په موجودیت کې که همدا نن امریکایان د افغانستان اشغال پای ته ورسوي، سبا مونږ دلته د امریکا په شمول هرچاته د بې نظمي د مخنیوي او د امنیت د تأمین اطمئنان ورکولای شو چې د الله جل جلاله په فضل سره به هیڅ مشکل نه پیښیږي.

**ـ له امریکایانو سره د مذاکراتي بهیر په اړه:**

داچې په افغانستان کې روانه جګړه د امریکایي اشغال زیږنده ده نو موږ د هغې د ختمولو لپاره له امریکایي لوري سره د مخامخ خبرو په تر سره کولو ټینګار لرلی او لرو یې.

خو امریکایانو د دې جګړې له مسؤلیت منلو څخه د تیښتې په غرض د رغنده مذاکراتو په ځای داسې لارې چارې وړاندې کړې چې نه یې منطقي معقولیت لرلی او نه یې هم عملي شونتیا؛ بلکې خپله هماغه لارې چارې د امریکایانو لپاره د جګړې د اوږدیدو، تاواني کیدو او ناکامه کیدو لامل شوي.

اوس هم که هغوی د افغانستان د عیني واقعیتونو په منلو سره له اسلامي امارت سره مستقیمو مذاکراتو ته تیاری ښیې مونږ یې د امریکي لخوا معقول ګام بولو.

رښتیني، شفاف او منتج مذاکرات زموږ د پالیسۍ مهمه برخه ده، خو مذاکرات باید رښتیني او نتیجه درلودونکي وي، هیڅ ډول خدعه او فریب به په کې نه وي او په اصلي ستونزو به راڅرخي، یوازي به د تبلیغاتي استفادي او عامه اذهانو د تیر ایستلو لپاره نه وي.

خپل ولس او ټولو مسلمانانو ته دا اطمنان ورکوو چې زمونږ لپاره به په مذاکراتو کې یواځې هغه پریکړې د قناعت او منلو وړ وي چې په هغو کې زموږ د اسلامي اهدافو تحقق د هیواد استقلال او د جګړې خاتمه تضمین شوي وي.

**ـ د امریکایانو د پوځي، مذهبي او ټولنیزو فشارونو په اړه:**

دا واقعیت دی چې امریکایانو پر افغانستان د ظالمانه اشغال په ترڅ کې د افغان ځورونې او جګړې

غزولو لپاره په تیرو اوولسو کلونو کې هیڅ راز زور او فشار نه دی دریغ کړی.

خو اوس یې پرهغو سربیره د مقاومت د کمزوري کولو لپاره د ځینو فتنه اچونکو او بې مهاره توپکوالو په راپیدا کولو، د علماوو په نوم مذهبي غونډو دائرولو، د پرلتي حرکت په نوم د ځینې سادګانو تیر ایستلو او د ولس او هیواد ویشنې په غرض یې په اصطلاح د سیاسي ګوندونو په نوم د تنظیمي، قومي، اوسمتي ملحوظاتو پر اساس د ایتلافونو جوړولو هڅې پیل کړې او یا یې زمینه سازي ورته کړې ده.

مونږ د خپل مشروع جهادي مقاومت په برحق والي باندې په باور سره پر دې ډاډه یو چې د دښمن دغه فشارونه د هغوی د پوځي ناکامي ترڅنګ په مختلفو اړخونو کې د هغوی د شکست نښه ده چې هیڅکله به د الله په نصرت د افغان ولس مشروع جهادي مسیر خپل هدف ته له رسیدو څخه نه تم کړای شي او نه به وربانډې اغیز ولري.

موږ افغانانو په پیړیو پیړیو د ورونو په شان ژوند کړی، د یو مسلمان او یو افغان په نوم اوسیدلي یو او افغانستان موګډ کور دی، د دې کور ساتنه، په دې کور کې د یووالي ساتنه او دهرډول ښکاره اوپټو دسیسو مخه نیول زموږ ټولو افغانانو وجیبه ده، ترڅو خدای مه کړه له اشغال څخه وروسته نورو فتنو ته لاره هواره نشي او زموږ د ټولنې د مشکلاتو سبب ونه ګرځي، د اسلامي امارت مجاهدین د الله تعالی په نصرت او د خپلو مټو په زور د داسې فتنو مخنیوي ته ژمن دي، خو عام اولس یې باید کلک تر شا ودریږي او د دې ملت هر با احساسه وګړی یې باید حمایت وکړي.

## - په کابل، مکه مکرمه او جده کې د وروستیو غونډو په اړه:

د امریکا د مذهبي فشارونو په سلسله کې په کابل کې د یو شمیر درباري ملایانو تر بیرنۍ غونډې ورسته د اسلامي همکاریو سازمان تر اشراف لاندې د علماوو په نوم کومه وروستۍ غونډه چې د سعودې په جدې او مکې مکرمې ښارونو کې جوړه شوه او په ترڅ کې یې د امریکایي اشغال په وړاندې د افغان مسلمان ولس شرعي جهاد د افغانانو ترمنځ داخلي جګړه وبلل شوه په اړه یې د څو ټکیو تذکر اړین بولم.

دا خبره ډیره ځورونکې ده چې د اسلامي مرستو په نوم هغه مذهبي سازمان چې ملک فیصل رحمه الله یې هم په مؤسسینو کې راځي او دا سازمان یې د نړۍ د مسلمانانو له حقونو څخه د دفاع په نوم ایجاد کړی وو او اوس له بده مرغه د همدې سازمان له ادرسه پر اسلامي امت باندې د دښمنانو لخوا د تیریو او مظالمو په دغه حساس وخت کې په ناخبرۍ او لا پروایي کې داسې پریکړه صادریږي چې هغه له مظلومو مسلمانانو څخه د دفاع په ځای له تیري کوونکي کافر دښمن سره د مرستي پیغام لري.

زه د اسلامي علماوو مقام ته په کامل احترام او د تاریخ په اوږدو کې د اسلامي همکاریو سازمان ترسره کړیو خدمتونو ته په درناوي، د افغانستان د اوسني شرعي جهاد په اړه د کابل د غونډې او د نوموړي سازمان له ادرسه صادره شوې پریکړه د متجاوز دښمن په مقابل کې د جهاد د فرضیت په اړه د صریحو قرآني ایتونو خلاف او د دې اسلامي سازمان او د هغه د رشیدو مؤسسینو په حق کې توهین بولم.

د علماوو په نوم د دې پریکړې له صادروونکو ښاغلیو زه دا پوښتنه لرم چې:

آیا تاسو د افغانستان پر حریم د هغه یرغل په اړه کوم چې د امریکا د وخت ولسمشر بوش لخوا د صلیبي جګړې ترعنوان لاندې پیل شو معلومات لرئ او که یې نه لرئ؟

که په افغانستان د بوش د صلیبي یرغل په اړه اساسا معلومات نه لرئ او په لاعلمي سره مو د هغه په مقابل کې د افغان ولس پر شرعي جهاد د ناروا والي پریکړه کړې وي دا د (محکوم به) په اړه ستاسي پر نا خبري دلالت کوي چې له شرعي او علمي اړخه باطل کاردی.

او که دا علم لرئ چې پرافغانستان امريکايي يرغل شوی او د دې علم باوجود د يرغلګرو په مقابل کې د افغانانو جهادي مقاومت ناروا بولئ (والعياذ بالله) بيا تاسو دا پريکړه د دغو صريحو قرآني ايتونو په رڼا کې له شرعي او علمي اړخه څرنګه توجيه کوئ؟

(۱): وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ (۱۹۰) البقره.

(۲): ... فَمَنِ اعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ (۱۹۴) البقرة.

(۳): وَلَا تَرْكَنُوا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ اللَّهِ مِنْ أَوْلِيَاءَ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ (۱۱۳) هود

تاسو د کوم استدلال له مخې په افغانستان کې د اشغالګرو خلاف روان جهاد بين الافغاني جګړه بولئ؟

که ستاسي د منطق پراساس هغه بين الافغاني جګړه وي بيا تاسو د دې مقاومت په مقابل کې د امريکايي جنرال نيکولس پوځي قيادت او د هغه تر مشرۍ لاندې د لسګونو زره محاربو عسکرو جنګيدل څرنګه تعبيروئ؟

زه د علماوو په نوم د دې پريکړې صادروونکو ښاغليو ته وايم چې په افغانستان کې د محاربو کافرانو په وړاندې روان فرض عين جهاد د افغانستان د اهل حق علماوو تر شرعي قيادت لاندې پرمخ بيول کيږي، دا چې امريکا او ناټو له خپل ټول زور او ځواک سره د دې جهاد له مقابلې څخه عاجزه ده، اساسي لامل يې د دې جهاد حقانيت، شرعي نصوصو ته د مجاهدينو انقياد او د هغو تنفيذ ته د مجاهدينو ژمنتيا ده.

زه پوهيږم چې تاسو نه پر افغانستان د بوش له صليبي يرغله ناخبر ياستئ او نه هم د مسلمانانو په توګه د صريحو قرآني ايتونو خلاف عقيده لرئ، بلکې دا پريکړه مو د مادي مجبوريت له مخې کړې، نو له الله تعالی څخه و ويريږئ او له هغه ذاته غوښتنه وکړئ چې له دې مجبوريته نجات درکړي او د صريحو قرآني ايتونو خلاف د اجرتي وسيلو په حيث ونه کارول شئ.

د سعودي حکومت چارواکو ته مو دا سپارښتنه ده چې د سعودي عربستان او افغانستان د ولسونو ترمنځ قوي ايماني او اسلامي تړاو موجود دی، هغه تړاو چې د دې مسلمان هيواد ولس او حکومت له افغانانو سره د کفري يرغل په دفع کولو مأمورکوي، لهذا زه د سعودي چارواکو ته د هغوی د دغه ډول غونډو د کوربه توب په خاطر يواځې د اسلام د دوهم خليفه حضرت عمر رضی الله عنه دا قول وريادوم چې فرمايي: (نحن قوم أعزنا الله بالإسلام فإن ابتغينا العزة بغيره أذلنا الله).

ژباړه: موږ داسې قوم يو چې الله تعالی په اسلام سره عزت را په برخه کړ، که چيرې موږ ماسوا له اسلام څخه په بل څه کې ځانته عزت لټوو الله تعالی به مو ذليله کړي.

نو د مسلمانانو اصلي عزت د اسلامي احکامو په پيروي کې ده، که يې له هغه پرته په هره وسيله غواړي الله به يې ذليل کوي.

د پخواني جهاد په مهال ډيرو سعودي ځوانانو د خپل اسلامي مسؤليت له مخې د شوروي يرغلګرو په مقابل کې دلته قربانۍ ورکړې او د هغوي پاکي وينې د افغاني شهيدانو له وينو سره ګډې شوې، تاسو بايد د هغو شهيدانو د قربانيو په خاطر هم زموږ د مقدس جهاد مرسته وکړئ!

## ـ د امريکايانو لخوا په جګړه کې د نورو هيوادونو د ښکيلتيا په اړه:

امريکايانو د سرکال په پيل کې د کابل ادارې مشر مأمور کړ چې اسلامي امارت ته د سولې پروسې په نوم يو شمير وړانديزونه وکړي، خو خپله امريکايانو په پوځي لحاظ د امارت خلاف خپل ټول ترکيز په پوځي زور آزمايي وکړ، تر دې چې په بروکسل کې د ناټو په وروستۍ غونډه کې يې د ناټو له غړو هيوادونو سربيره له متحده عرب اماراتو او قطر اسلامي هيوادونو څخه هم وغوښتل چې خپل عسکر له مجاهدينو سره د جګړې لپاره افغانستان ته را وليږي.

مـوږ لـه متحـده عـرب امـاراتو او قطـر هيوادونـو څخه د امريکا په دستور د ناټو دغه غوښتنه د هغـوی د پـوځي افـلاس او ناکـامي لامـل بولـو، متحـده عـرب اماراتو او قطر هيوادونو ته د مسلمانو هيوادونـو پـه توګـه دا وايو چې امريکايان غواړي تاسو هـم ځکـه پـه دې بـې هدفـه جګـړې ورګـډ کـړي ترڅـو د هغـې جنګـي، اقتصادي، او بشري منفي اثرات ستاسي ابـادو هيوادونـو تـه در منتقـل کـړي، دا چـې امريکـا د نـړۍ پـه کچـه د لومړي نمبر پوځ لرونکي هيـواد او نـاټو د نـړۍ پـه کچـه مجهزترين پوځي تړون په حيث پـه دې جګـړه کـې څـه تر لاسه نکړل، ستاسي شل او سل عسکر به هلته څه تـر لاسه کړي؟

نو پام کوئ چې امريکايان مو د سريښو په هغه ډنډ کې ښکيل نه کړي په کوم کې چې دوئ پخپله بند پـاتي دي.

## ـ د اولس دښيرازۍ په اړه:

اسـلامي امـارت د خپـل اولـس د دنيـوي ژونـد د ښيرازۍ لپاره اقتصادي انکشاف، بيارغونه، پانګونـه او د بيلابيلـو اقتصـادي تګـلارو تعميـل هـم د ژونـد مهـم ضرورت بـولي، د هيـواد شـتمن او تعليم يافته قشـر لـه نورو افغانـانو څخـه ډيـر مسـئوليت لـري چـې د هيـواد د راتلونکي په اړه په مثبتو او رغنده طرحو بانـدې سـوچ او فکر وکړئ، دا هيواد به ستاسو په مټ اباديږي، دا هيـواد به ستاسـو د هوسـايي او آرام ځـای وي، دا هيـواد زمـوږ ستاسو ټولو مشترک کور دی او ټـول يـې پـه وړانـدې يـو ډول مسئوليت لرو.

## ـ د اسلامي امارت مسئولينوته:

کـومې سـيمې چـې د اسـلامي امـارت تـر تصـرف لاندې راځي په دې سره د مجاهـدينو مسـؤليت نـور هـم زياتيږي، د ټولو سـيمو نظـامي او ملکـي مسـؤلين بايـد د اسلامي حاکميـت واقعـي نمونـه راژونـدۍ کـړي، د اللـه تعالی د بندګانو ټول حقوق بايد رعايت کـړي، لـه ظلـم، تجاوز او بداخلاقۍ څخه بايد سـخت ځـان وسـاتي او د ظالمانو لاسونه لنډ کړي، د مسلمان اولس د سـر، مـال، عزت او ټولـو حقوقـو د تحفـظ لپـاره بايـد لـه هـيڅ راز قربانۍ او ايثار څخه ځان دريغ نه کړي.

په آخير کې يوځل بيا له الله تعالی څخه غواړو چې د خپل فضل له مخې پر اسلامي امت خپل رحم وکړي، چيرته چې مسلمانان د دښـمن تـر تيـري او ظلـم لانـدې دي اللـه تعـالی دي نصـرت وکـړي، پـه اشـغال شـوي فلسطين کې دي الله تعـالی د مسـلمانانو لـومړۍ قبلـه د غاصـبو يهودانـو لـه تيـري څخـه آزاده کـړي او ټولـو مسلمانانو ته دې د اتفاق او وحدت توفيق ورکړي.

له الله تعالی څخه سوال کوو چې افغانستان ته نـور له امريکايي اشغال څخه نجات ورکړي، د افغان غيرتـي ولـس دا اوږده غميـزه نـور د خپـل کـرم لـه مخـې پايتـه ورسوي، افغان مسلمان ولـس دې د خپـل منځـي اتفـاق او يوالي په برکـت سـره د دښـمنانو لـه ټولـو سازشـونو او دسيسو څخه وژغـوري او پـه خپلـه خـاوره کـې پـه خپـل اختيـار د خپلـې خوښـې اسـلامي حاکميـت نعمـت ورباندې ولوروي.

په پـای کـې لـه هغـو خلکـو چـې قربانـۍ يـې کـړي دي او يـا پـه وس کـې ښـه دي، غوښـتنه مـې تـرې دا ده چې د شهيدانو، بنديانو، فقيرانـو او بـې وسـه مسـلمانانو کورنۍ دې پـه دې ښـو شـپو ورځـو کـې نـه هيـروي، لـه هغوی سره دې مرسته وکړي تـر څـو د اختـر لـه خوښـيو برخمن شي، په همدې هيله يوځلې بيا درتـه د نيکمرغـه لوی اختر مبارکي وايم، لـوی اختـر مـو مبـارک او ترسـره کړي عبادات مو قبول.

والسلام

د اسلامي امارت زعيم اميرالمؤمنين شيخ الحديث

مولوي هبة الله اخندزاده

۱۴۳۹/۱۲/۷هـ ق

۱۳۹۷/۵/۲۷هـ ش ـ ۲۰۱۸/۸/۱۸م

# دغزني سقوط دکابل رژيم پزه په بيخ کې پري کړه

خليل - عزيز

دا مهمه اوضروري نده چې مجاهدين ترڅو ورځو اوياڅواونيوپوري کولای شي کوم ولايت اويامهم ښارله ځان سره وساتي اوياپکې ووسي ، ځکه په دغه صورت اوحالت کې شکست خورده دښمن ارومرو بيا هغه مفتوحه سيمه اوښاربمبار دوي ملکي وګړو اودهغو شتمنيوته زيانونه اړوي اوغچ له بې دفاع وګړواخلي .

مونږ دکندوز دفتحې په مهال وليدل چې اشغالګراومزدوران يې دکندوز له نيولوعاجزشول اومخامخ يې يوه پوسته اومورچه هم له مجاهدينو ونشواى نيولي ؛ نوحتى په ملکي روغتون يې هم بريک ونه نيوه ، دبې سرحده ډاکټرانومهم صحي مرکز چې لسګونه ملکي ټپيان پکې پراته وو په وحشيانه ډول بمباردمان کړ.

دحيرت اواهميت وړځاى دادى چې دامريکا، ناټودزرهاوو پرمختللوپوځيانوپه شتون اودکابل رژيم د۴ لکه په اصطلاح مجهز پوځ اوزرهاوو اربکيانو اوداعشيانوپه وجود کې اوهم دهغوئ دهرډول شيطاني استخباراتي جالونوسربيره چې په کوم ايمان اوميړانه پنځه سوه تنه مجاهدين اوخړپړ طالبان وتوانيدل چې دغزني ستراتيژيک اوتاريخي ښار له ټول چاراطراف سره فتحه کړي ؛ په رښتيا چې دطالب دتوري دغه شرنګ دامريکااودکابل دغلامانوپزي په بيخ کې پري ، ولس اونړۍ ته په دوپيسوشول

دغزني دفتحې ترټولوجالب اړخ داوه چې ترڅومجاهدينودخپل جهادي اوپوځي پلان اوتکتيک له مخې لازمه بلله نودغزني په ښاراومهموبرخويې خپل تسلط اوحکمفروايي ته دوام ورکړ، کله يې چې وغوښتل چې دښارله مرکزي برخې څخه ورسته اودعام ولس دګشت ګوزار ، ورځني ژوند په مخ کې خنډجوړنشي اواشغالګرمسکوني سيمې بمباردمان نکړي نوپه خوراطمنان اوارامه فضاکې يې څه سيمي پريښودي اوټول هغه غنائيم چې سوونه نقليه اوپوځي وسايط ، ټانکونه ، رنجري اوپه زرهاوو ميله وسلې اوانبارونه انبارونه مهمات اوجنګي سازوسامان پکې شامل وو پرامنوسيموته يې انتقال کړل

دغه راز په همدې ورځوشپوکې دکابل رژيم اوبادارانويې که هرڅومره زور وواهه چې خپلې تازه دمې قواوې له کابل څخه دميدان وردګوله مسيرڅخه غزني ته داخلې کړي دالله تعالى په لوى نصرت يې دغه هيله نامراده تالاترغه اودميدان وردګودسيداباد اوشاوخوا سيمو کې دزړورو او زمرياليو مجاهدينو دبې شميره کمينونو او پريکنده بريدونو ښکار وګرځيدل په نتيجه کې ياده قوه کرم کړم ، لسګونه ټانکونه يې نيمه خوا اوبې شميره عسکراو کوماندويان يې له منځه يووړل شول .

دکابل شرميدلوواکمنواوبادارانو يې دغزني دسقوط په مهال ددې لپاره چې خپل شکست ، تيښته اوزيانونه پټ کړي دغزني په ښاريې دانټرنيت اواطلاعاتي وسائيلوسيستم قطع کړى وو ، خبريالانوته يې اجازه نه ورکوله چې دغزني ښارته سفروکړي اوخلکوته حقائيق وړاندې کړي په همدې ډول يې بادارانودبې سي ،

ازادی اونورو غربي راډيوګانواورسنيو ژبوته قلفونه اچولي ووترڅودغزني دښاروضعيت تشريح نکړي اويايې په داسې ډول ترپوښښ لاندي ونيسي چې ګواکي دغزني ښارپه کومه يوې پوستي طالبانوبريدکړی نورهيڅ هم نشته !

له بله اړخه دکابل رژيم ددفاع، کورنيو چارو وزيرانو هره ورځ په کابل ښارکې هڅه کوله چې خپل شاخدار دروغ ګز او ميچ کړي د هوايي او توبوتو په زريعه دغزني وضعيت نورمال وښيي چې نن دادی دلوی درستيزپه مشری دومره تازه دمي قطعات غزني ښار ته داخل شول ، تصفيه وي عمليات جريان لري؛ خوله بل لوري به په پارلمان کې دغزني استاځوددفاع اوکورنيوچارودوزيرانوخبري په ټوله معنا ردولي وچ اوښکروردروغ به يې بلل اوپه جار به يې ويل چې غزني سقوط کړی ټول حاکم ځايونه اوحساس مراکز طالبانونيولي، زندان يې مات کړی، په سوونه پوځي وسائط ، مهمات اوتجهيزات يې له پوځي مراکزو څخه ولسواليو ته انتقال کړل او د پنځوسوو په شاوخوا کې عسکر او پوليس د غزني په لارو کوڅو کې پراته دي.

داسلامي امارت دويندوی ښاغلي ذبيح الله مجاهد په ويناکوم توقعات اواميدونه يې چې دغزني له فتحي څخه درلودل له هغوڅوبرابره زياتي لاسته راوړني يې ترلاسه کړي

په ډيروکموتلفاتو، ناچيزومصارفواودڅوساعتونوپه اوږدوکي دالله تعالی په نصرت مجاهدين وتوانيدل چې دغزني مستحکم کمربندونه اوپوستي چې له دوڅخه تر۳ زروتنه عسکرپکې موظف وو له ړومبي ګوزارسره دړي وړي اوله منځه يوړل ، دغه راز مجاهدينوپه داسې تکتيک په غزني بريدوکړچې دکابل اداري استخباراتي جال اوجواسيسويې ترهغوچې مجاهدينوبريدنه ووپيل کړی هيڅ ډول معلومات په لاس کې نه لرل ، دغه ډول دښاردامنيت اودخلکودشتمنيودساتني لپاره ځانګړي مجاهدين اوقطعات ګمارلي شوي وو چې لله الحمد په ښارکې دمجاهدينودورستی ورځي ترشتون اوتسلط پوري دچوراوچپاول يوه وړوکي پيښه هم مخي ته رانغله.

دغزني همدغې تاريخي فتحي ،دمجاهدينونظم اوضبط اودغزني له عام ولس سره نيک چلندداثابته کړه چې دولس په منځ کې داسلام اوهيواددغليمانوداتبليغات اوشايعي چې که مجاهدين کوم ښارته داخل شي نوهلته به انتقامي کارروايي کوي ، دخلکوشتمنيوته به ضرررسوي اوولس به اړکوي چې له ښارڅخه وکوچيږي؛ د الله پاک په مدد ددښمن دغه ټولي خبري ولس ته د عمل په ميدان کې بې اساسه اوبې بنياده ثابتي شوي اوولس په دې ډاډه شوچې که طالب ښارونوته داخليږي نوله ځان سره به پرته له امن ، ډاډ ، ترحم اوداسلامي شريعت دتطبيق له پيغام بل هيڅ کوم بله برنامه اوتګلاره په لاس کې نه لري.

## په جوزجان کې داسلامي امارت فاتحانه عملیات

# اود داعش ستره رسوایي

حسن مومند

دټولو مخلصو مسلمانانو او په ځانګړې ډول دهېواد والو لپاره دخورا لويې خوښۍ نه ډکه پېښه چې نړيوالو رسنيو يې هم خبر خپور کړ داسلامي امارت په مقابل کې د داعش تاريخي شکست او دمجاهدينو په لاس دجوزجان ولايت دقوشتېپې او درزاب ولسواليو مربوط دټولو هغوسيمو فتحه ده چې دڅه مودې راهيسې دداعش ترولکې لاندې وې .

ددوئ ددې ستر شکست سره سم دداعشي فتنه ګرو نه سيمه تصفيه او دشر نه يې ټول شمال دخونديتوب احساس وکړ.

په يادو دواړو ولسواليو کې داعش ځانونه ډېر مضبوط کړي وو ؛ دا يې دخپل جلب او جذب سيمې ګرځولې وې ؛ دشمال نورو سيمو ته يې هم له همدې ځايه خپل لاسونه وراوږدول او داسلام او مسلمانانو دځپلو او دستراشغال په مقابل کې دروان سپيڅلي جهاد دمخنيوي لپاره داشغالګرو استخباراتي ادارو له لورې دورکړل شويو ناکاره پلانونو د تطبيقولو هڅې يې کولې نو ځکه داغفانستان اسلامي امارت هم خوراجدي خطر وګڼلو او ډېوره تياری نه پس يې وربانديې له مختلفو استقامتونو حمله وکړه خو داچې دامريکا هوايي ځواکونو داعش ته دنجات ورکولو په موخه په مسلسل ډول پرمجاهدينو بمبار کاوه نو مجاهدينو په احتياط پرمختګ کاوه چې ورسره جګړه اوږده شوه،پوره ۲۴ ورځې يې دوام وکړاو نن دچار شنبې په ورځ داګست په ړومبۍ نېټې يې وروستي مرکزونه هم فتحه او سيمه ترې په بشپړ ډول پاکه شوه.

دجنګ په جريان کې ۹۲ داعشيان وژل شويدي؛ ۱۲۸مجاهدينو ژوندي نيولي دي او دداعش دمشر- مولوي حبيب الله، دده نائب مفتي نعمت او دارتباتاطو مسئول ملا صبغت الله په شمول چې ۲۱٦ تنان دمجاهدينو ترمحاصرې لاندې راغلل نو دکابل ګوډاګی اداري ورپسې چورلکې راوستې له محاصره شوې سيمې نه يې هوا ته پورته او نامعلوم ځای ته يې انتقال کړل او بيا دې دروغجنې او مکارې اداري اعلان وکړ چې دطالبانو ترمحاصرې لاندې راغلي دداعش ۲۱٦ وسله وال دولت ته تسليم شول چې امنيتي ځواکونو په خوندي ډول له سيمې انتقال کړل.

داچې دافغانانو دسترو قربانيو په نتيجه کې داسلامي امارت په لاس رامنځته شوی سوچه اسلامي نظام دامريکا په مشرۍ کې دغربي اشغالګرو دحملې په نتيجه کې له منځه ولاړ او هېواد همدې غاصبينو قبضه کړچې ترننه يې دقبضې لاندې دی ؛ اسلامي امارت همدا قابض بهرني اشغالګر خپل اصل دښمنان بولي او دهمدوئ نه دخپل دين،عزت او ملت نه ددفاع او دخپلې خاورې دازادۍ په موخه يې جهاد اعلان کړيدی.

داشغالګرو ځواکونو په لاس په مختلفو نومونو رامنځته شوي افغاني مليشې چې داشغالګرو سره يوځای دمجاهدينو پرضد جنګېږي او داشغالګرو ځواکونو نه ددفاع او ډال دنده ترسره کوي اسلامي امارت يې دشرعي اصولو له مخې داشغالګر دښمن نه کم نه بولي او ښه په اخلاص يې پرضد جنګېږي.

خو افغان زلمي چې داشغالګرو دلاس آله ګرځي او بیا داسلامي امارت دمجاهدینو په لاس وژل کېږي دا داسلامي امارت لپاره څه دخوښۍ خبره نده بلکې پرې افسوس کوي ؛ شپه او ورځ هڅې کوي او پدې لویه قوه لګوي چې داځوانان د اشغالګرو ملګرتیا او ګوډاګیتوب پرېږدي؛ریښتونې توبه وباسي ددین،ملت او خاورې نه ددفاع وفادار سپاهیان جوړ شي او یا هم لږ ترلږه دمجاهدینو په مقابل کې له جنګېدو بس کړي او په خپلو کورونو کیني.

په هېواد کې چې دداعش په نوم هغه ډله راپیده شوه چې ځانونه یې مجاهدین یادول ؛ دمذهبي علماءو،بې ګناه قومي مشرانو وژل او داسلامي امارت دمجاهدینو پرضد جنګېدل یې جهاد ګڼلو او داسلام دمزاج او اصولو برعکس دتشدد نه ډکو احساساتې تقریرونو باندې یې بې علمه مسلمان ځوانان ځان ته راجلبول او بیا یې ترې دمسلمان وژنې لپاره کار اخستلو نو دا داسلامي امارت لپاره دامریکا په لاس دافغاني ملیشو جوړولو نه هم زیاته خطرناکه او داندېښنې وړ خبره وه ځکه چې دا داشغالګرو دیقیني شکست په حساسو شپو روځو کې دجهاد په صف کې دعراق او سوریې په څېر د لوې درز اچولو خطرناکه هڅه وه او دمسلمان په لاس دمسلمان وژنې یو خطرناک سازش و نو ځکه اسلامي امارت دا مسئله جدي ونیوله او دداعش نویو راټوکېدلو مشرانو ته یې درانده وفدونه ورولېږل چې ګوندې داغولول شوي خلک پوه او سمې لارې ته راواوړي خو چې داعشي مشرانو دلیل منطق او شرعي مسلمو اصولو ته هیڅ اهمیت نه ورکاو؛ دخودساخته خلیفه خبره یې دبل هر اصل نه وړاندې ګڼله او دجهل نه ډک په خپل دې ضد ولاړ وو چې لوې اسلامي امارت دې خپل وجود باطل او دګوتو په شمېر دځو داعشیانو تابعداري دې خپل مشئولیت وګڼي نو داسلامي امارت دمشرانو په زړونو کې دا خبره ښه راسخه شوه چې د مجاهدینو په منځ کې ددرزونو اچولو،دجهاد دکمزوري کولو او دشرمېدلي شکست نه دځان ساتلو لپاره دامریکا هماغه پلان دی کوم یې چې په عراق کې دهمدې داعش په لاس تطبیق کړ او په نتیجه کې یې مجاهدینو ته بې حده لوی تاوان وراواړېدلو؛دعراق هغه کامیاب جهاد چې ټول لویدیځ یې لړز ولو او امریکایي اوبرتانوي اشغالګر اولاسپوځي یې دشکست سره مخامخ کړي وو په ټپه ودرېدلو او دستر شکست سره مخامخ شوی اشغالګر دښمن او لاسپوځي اداره بېرته ددې جوګه شوه چې دمجاهدینو په لاس فتحه شوې ټولې سیمې ترخپل کنترول لاندې راولي او پکې مېشت مسلمانان دسترې خوارۍ، ذلت ،ظلم او وحشت سره مخامخ کړي.

له نیکه مرغه چې دلته داسلامي امارت ترچتر لاندې دجهاد صف واحد و،قومانده او قیادت واحد و نو ښه په وخت؛په ښه تدبیر او په ډېر جرأت ددې فتنې دمخنیوي او ددښمن دشوم پلان دخنثی کولو لپاره اسلامي امارت هم جدي عملي اقدامات وکړل او هم یې دحقایقو نه دملت خبرول اړین وبلل او ډېر داسې شواهد یې وړاندې کړل چې دلاسپوځې اداري او اشغالګرو سره ددې ډلې جور روابط ثابتوي چې درزاب ته دامریکا په حکم ددوئ پسې دلاسپوځې اداري دطیارو راتلل او خوندي ځای ته یې انتقالول ددې مدعی لپاره د امارت او ټول ملت په لاس کې داسې دلیل دی چې پخپله دې ډلې؛کابل اداري او اشغالګرو ته یې هم دردولو چل نه ورځي.

اسلامي امارت تل دا ویلي چې دهېواد په مختلفو برخو کې چې په بمي بریدونو او نورو حملو کې ولسي- وګړي وژل کېږي پکې دکابل داداري او بهرنو استخباراتو لاس وي ؛ دې پېښې ددې خبرې صداقت هم ټول ملت ته واضحه کړ ځکه چې همدا داعشیان چې دامریکا په حکم ورپسې دکابل اداري طیاري راوستې او ورته یې نجات ورکړ په همدې تازه ورځو کې یې له جلال آباد نه ترګردېزه په حملو کې په لسګونو ولسي- وګړي وژلي دي .

دکابل لاسپوځې اداره او امریکا باید نور پدې پوه شي چې هېوادکې د بدامنۍ خپرولو، دهېوادوالود وژنې،جنګ ته دوام ورکولو له لارې خپلو شومو اهدافو ته درسېدلو پالیسي- او دوینا او عمل تضادات او نفاق یې اوس ټولې نړۍ ته روښانه شوی او داسلامي امارت حقانیت او معقول موقف هم ملت ته ښه واضحه دی ؛اوس هغه شیبې ډېرې رانږدې شویدي چې ټول ملت په یو اواز دیرغلګرو او لاسپوځو پرضد راپورته شي او دتل لپاره یې دناپاکه وجود نه دا خاوره پاکه شي.

# د غزني عملیاتو د امریکا

## او ناټو پوځي ورتیا وننګوله

شاهد (غزنیوال)

د روان کال د اسد د میاشتې په (۱۹) نیټه طالبانو د غزني ستراتیژیک ولایت مرکزبانډې له څلورو استقامتونو څخه تهاجمي برید وکړ.

یاد برید چې د شپې په تیاره کې ترسره شو دښمن یې داسې سراسیمه کړ چې په دې نه پوهیده چې هغوی له بهره تر برید لاندې نیول شوي او که د خپلو ځواکونو لخوا وربانډې حمله شوې.

### د عملیاتو زماني توقیت:

د غزني عملیات دقیقا په داسې مهال سره شول چې د امریکا د پوځ د مرکزي قومندانۍ مشر- جنرال جوزیف وتل وویل چې: افغان ځواکونه به تر هغو خپل پوځي فشار پر طالبانو جاري وساتي تر څوهغوی له افغان دولت سره خبرو اترو ته وادار کړي.

همدارازعین خبره د امریکا د دفاع وزیر جیمس متیس هم وکړه او ویې ویل چې پر طالبانو بانډې زمونږ پوځي فشار مذاکراتو ته د هغوی د تیارولو تر ټولو غوره وسیله ده.

د غو دواړو امریکایي لوړ پوړو چارواکو پورتنۍ څرګندونې په داسې مهال کې تر سره شوې چې د دوي سیاسي استازي له طالبانو سره په مخامخ خبرو لګیاوو .

د امریکایي چارواکو د دغو څرګندونو په مقابل کې مجاهدینو په عملي صورت داسې پوځي مانور اجراء کړ چې هغوی ته وښیي چې د امریکایانو پوځي فشارونو پر هغوی بې تاثیره دي او همدا اوس عملا په افغانستان کې د هرډول پوځي عملیاتو تر سره کولو ابتکار د مجاهدینو په لاس کې ده .

### دعملیاتو پوځي لاسته راوړنې:

د غزني عملیات سر بیره پر دې چې مجاهدینو دښمن ته په پوځي لحاظ ور کې ښه کاري ضربه ورکړه په عین وخت کې یې له هغوي څخه ډیر پوځي امکانات هم غنیمت کړل.

د هغو راپورونو له مخې چې د مجاهدینو له داخلې مصادرو څخه تر لاسه شوي په یادو عملیاتو کې تر سلو زیات جنګي وسائط چې په هغو کې پرمختللې هاموي شوبلې او پوځي رینجرې هم شامل دي په سالم ډول غنیمت کړل.

همدا راز د غزني ښار په دننه د موي مبارک په سیمه د محافظتي کنډک له فتح کولو وروسته له هغه ځایه څخه په ډیره زیاته اندازه وسلې او پوځي مهمات تر لاسه کړل چې ښایي په همدې پوځي وسائلو او جنګي مهماتو بانډې په غزني او خواوشا ولایتونو کې تر دووکلونو پوري د امریکایي یرغلګرو او د هغوی د ګوډاګیانو خلاف مقاومت وکړي.

## د عملياتو په مهال د دښمن ناتواني:

د غزني عمليـاتو پـر نـورو پوځي مشخصاتو سربېره يو مهم امتياز دا و چې د مجاهـدينو پـه مقابل کې يـې د امريکـا او نـاټو ځواکونو ضعف او بېوسي په ډېر بارز ډول څرگنده کړه.

همدا وجه و چې د عملياتو په دريمه ورځ چې طالبـانو د دولتـي ځواکونـو خـلاف خپـل پرمختـگ تـه دوام ورکـړ او امريکايان لـه خپـل ټـول پـوځي او تخنيکـي تفـوق سره سره د هغوی له مخنيوي څخه ناتوانه شول .

همدا وجه وه چې ځينيـو سـياسي شـنونکو پـه مغرضـانه ډول دا وويل چې اصلا بهرني ځواکونه (امريکايان) نه غـواړي چې په غزني کې د طالبانو خلاف هوايي بريدونه يا پوځي اقدام وکړي ، خو په عين همـدې ورځ پـه افغانسـتان کـې د بهرنيـو ځواکونـو ويانـد مـارتين اودونيـل وويـل چـې زمـونږ پـوځي مشاورين په غـزني کـې د افغـان مـلي اردو او د مـلي امنيـت ځواکونه ترڅنگ د طالبانو خلاف جگړې کې برخـه لـري او ژر ده چې د غزني ښار د هغوی له واکه وباسي.

همدا راز نوموړي وويل چې امريکايي ځواکونو د غـزني جگړې لپاره پر ډرون الوتکو سربېره سترې B1 پوځي الـوتکې توظيف کړې چې په ورځ کې تر شلو زيـات هـوايي بريدونـه د طالبانو په سنگرونو تر سره کوي.

## د غزني عملياتو مطبوعاتي انعکاس

د غزني عمليات د پيل له لومړۍ ورځې د هيواد په کچـه تـر ټولـو گرمـه موضـوع وه چـې ټـولې انځـوريزې او غږيـزې رسنۍ يې مصروفې کړې وې.

په ټولو رسنيو کې د دفـاع او کورنيـو چـارو وزارت لـه ويندويانو پرته پردولتي ځواکونو باندې د طالبانو د بريـاليتوب، منظم والي او برلاسي بانـدې بحثونـه کيـدل ، تـر دې چـې پـه وروستيو ورځو کې د دفـاع او کورنيـو چـارو ويانـدويانو پـه تلويزوني شبکوکې کې د گډون کولو لپاره زړه نه ښه کاوه .

## د طالبانو له لوري د غزني عملياتو رسنيز پوښښ

په غزني باندې د پنځه ورځنيو برياليو عملياتو بل امتياز دا و چې د طالبانو د رسـمي ويانـدويانو لخـوا ورتـه پـه فـوق العاده ډول رسنيز انعکاس ورکول کيده ، داسـې انعکـاس چـې محلي رسنيو هم وربانديې اعتراف درلود.

طلوع نيـوز نړيـوالې تلـويزوني شبکې پـه دې اړه يـوه پرتليزه ارزونه لرله چې د هغې له مخې يـې د عمليـاتو پـه پنځو ورځو کې د دولتي او امارتي د وياند د ټـويټري ټويټونـو شميره وښودله .

د يادې پرتليزې ارزونې له مخـه د ولسمشرـي ، دفـاع او داخلـه چـارو وزارتونـو ويانـدويانو دريـو واړو د غـزني پنځـه ورځنيو عملياتو په اړه فقط ۲۳ ټيوټونه کـړي و، خـو د امـارت وياند ښاغلي ذبيح الله (مجاهد) په يواځې د يـادو عمليـاتو پـه اړه پـه دريـو پښـتو، فـارسي او انگليسـي ژبـو سـل (۱۰۰) ټويټونه کړي و.

هماغـه و چـې د عمليـاتو پـه شـپږمه ورځ پـه رسـنيزو فعاليتونو کې د دولتي ويياندويانو د بې کفايتي له وجې د دفاع دروغجن وياند جنرال رادمنش هم خپله دنده له لاسـه ورکـړه او سلب صلاحيت شو ...

# غزني

## او د کابل اداري وارخطايي

ابو یاسر افغان

د غزني د تازه تحولاتو په اړه د دفاع وزارت یو کارمند جاوید غفوري د امریکا غږ راډیو د هغې پوښتنې په ځواب کې چې ولې د غزني نښتې ځلورمې ورځې ته وغزېدې، وویل: هلته شل نړیوال تروریستي ګروپونه فعال دی چې یو شمېر سیمه ییز استخباراتي سازمانونه یې ملاتړ کوي او مور توانیدلي یو چې غزنی د سقوط څخه وژغورو!!

هسې پوښتنه دا پیدا کیږي چې دا شل نړیوال تروریستي ګروپونه بیخي کم نه دي؟؟ چې دوی به څنګه ټول په غږ او یو لاس د غزني نیولو ته را یوځای شوي وي؟!!

د دفاع وزارت بل کارمند بیا وایي هلته عرب او چیچن جنګیالي هم د مخالفینو په لیکو کې جنګیږي!! عربان خو څه پرېږده چې دا د چیچن جنګیالي څنګه نه ختمیږي، دا په کومه لاره راځي او دا څنګه چیچن جنګیالي دي چې نه یې چا عکس او ویډیو ولیده او نه یې چا غږ واورېده، خو د کابل اداري دفاع وزارت یې په هره جګړه کې د شتون ادعا کوي، زما په خیال لکه چې کم شل زره تنه چیچن جنګیالي راغلي دي چې په یو وخت د طالبانو او د دفاع وزارت په اصطلاح د ۱۹ نورو مخالفو وسله والو ډلو په لیکو کې د هیواد په بیلابیلو برخو کې په جګړه کې حتماً برخه اخلي!!

بله نادره چې د دفاع وزارت کارمند ښاغلي غفوري وکړه هغه دا ده چې وایي: زمور سل تنه نظامي منسوبین نه دي ورک شوي بلکې ۵۰ تنه ورک ؤ او ۲۹ تنه یې یوې ولسوالۍ(( چې د ولسوالۍ نوم نشته)) ته رسیدلي او پاتې نور(۲۱) تنه هم نورو ولسوالیو ته د رسیدو په حال کې دي!! ښاغلي غفوري فقط تر بوسو لاندې اوبه تیرې کړې او و یې نه ویل چې ۲۹ تنه کومې ولسوالۍ ته ورسیدل او دا ۲۱ تنه څنګه د غزني په ناامنه اطرافو کې داسې په بې غمه زړه نورو ولسوالیو! ته روان دي؟؟!! او ښاغلي غفوري د تازه جزیاتو په ورکولو کې زیاته کړه چې د غزني روغتون ته یې یو شمېر دوا رسولې ده!! یو شمېر دوا؟!!

د تېرې جمعې ورځې راهیسې پر غزني ولایت د طالبانو بې ساري برید د دوه سري رژیم چارواکي د سختې رسوایۍ او وارخطایۍ سره مخ کړې دي، د دفاع او کورنیو چارو وزارتونه خپله هم یو بل سره همغږي نه لري، د دفاع وزارت نه طارق شاه بهرامي د بي بي سي پښتو سره په خبرو کې په ډېر جسارت دعوه وکړه چې زمور دفاعي ځواکونه په ډېره کمه موده یعنې ۱۲ ساعتونو کې د غزني مرکز ته ورسیدل او د مخالفینو سره په نښته کېوتل!! بهرامي و نه ویل چې ۱۲ ساعتو کې د عسکرو رسیدلو څه ګټه وکړه جګړه خو بیا هم ځلورمې ورځې ته وغزېده او له بلې خوا طالبانو په پراخه پیمانه سلاح او مهمات له حکومتي ځواکونو تر لاسه کړي، په غزني ښار کې یې د رشیدانو، اجرستان او خواجه عمري ولسوالۍ نقلي او کانتینري مرکزونه هم نیولي او له منځه وړي دي، د زرګونو په تعداد کې حکومتي عسکر د ښار په یوې محدوده سیمه کې د ځان په دفاع بوخت دي، خارجي او داخلي هوایي ځواکونه خپل ټول زور وهي، بمباري کوي، خو دا دی نن ځلورمه ورځ ده چې د ښار ډیری برخه د طالبانو تر بشپړ واک لاندې ده او دوه سری حکومت یې پر وړاندې د شرمیدلې ماتې سره مخ دی؛ سبا چې طالبان خپل اهداف تر لاسه، په لویه کچه سلاح ولجه او ټول حکومتي مرکزونه له منځه یوسي، نو بیرته به په خپله خوښه وځي، بیا به نو د ارګ خیاطان دعوې وهي چې هله غزني مو بیرته ونیوئ!! حال دا چې اوس ټول خلک په دې پوه شوي چې طالبان تر ډېره دغلته نه ایساریږي او کله چې خپل اهداف تر لاسه کړي نو بیرته به له ښاره وځي، د کابل دفاع وزارت هم د همدغې موقع په انتظار دی چې څنګه طالبان ووځي نو دوی به خپله بریا اعلان کړي، حال دا چې اوس یې پر وړاندې په پوره ډول ماتې خوړلې او نشي کولای چې طالبان له ښار څخه په زور وباسي!!

# پر عروس البلاد

## د سپینو بیرغونو رپـرپا

حبیب مجاهد

غزني د هیواد تاریخي ښار، د اولیاوو وطن، د غزنوي امپراطورۍ پایتخت، عروس البلاد او د اسلامي تمدن پلازمینه د هیواد یو له هغو ښارونو شمېرل کېږي چې نړیوال شهرت لري او د اسلامي نړۍ پېژندل شوې سیمه ده.

تېره ورځ طالب مجاهدینو د سپین بیرغونو په بدرګه په دې ښار هجوم وروړ. لومړی یې د غزني په جنوب لویدیځ کې هغه پي آر ټي تر خپل کنترول لاندې راوسته چې شاوخوا یوه نیمه لسیزه د خارجي غاصبو اشغالګرو مهم مرکز او د صلیبي ظالمانو میشت ځای و.

د غزني په پي آر ټي کې یو وخت سلګونه پولنډي او امریکایي یرغلګر میشت ول. دوی د غزني ولایت په مسلمان اولس د ظلم او قساوت هغه میچنې وچلولې چې ښایي دې اولس یې د شوروي یرغل په مهال هم ساری نه وي لیدلی. د غزني پي آر ټي هره ورځ د افغان مؤمن اولس د مظلومیت شاهده وه. مګر د الله تعالی فیصلو ته ګوره چې نن هماغه پي آرټي د اشغالګرو او د هغوی د مزدورانو د ذلت، سرټیټۍ ، ماتې او تیښتې شاهده ده. له امریکایي پي آر ټي څخه د اور لمبې پورته شوې، امریکایي غرور د افغان غازیانو د حماسو په موجونو کې لولپه شو. غازیانو د غزني ښار نږدې ټول مهم مراکز، پوځي تاسیسات، حکومتي ودانۍ، حوزې او قرارګاوې تر خپل کنترول لاندې راوستې.

د غزني له ښاره وروستي راپورونه وايي چې د ولایت له ودانۍ پرته د ښار ټول ملحقات د مجاهدینو لاس ته لویدلي دي. حکومتي میډیا چې غواړي خپلو سرتیرو ته دروغجن ډاډ ورکړي یوازې د بې اساسه راپورونو په نشر- بوخته ده او له غزني ښاره د طالبانو د په شا تمبولو ادعاء کوي حال دا چې مجاهدین ګام پر ګام د وړاندې تګ په حال کې دي او هره شیبه وروسته د یوې نوې سیمې د فتحې خبر راځي.

غزني د افغانستان له مهمو مرکزي ولایاتو او د کابل — کندهار په لاره پروت تر ټولو مهم ښار دی. د دې ښار ستراتیژیک ارزښت له دې څخه معلومیږي چې د هیواد د جنوب، جنوب ختیځ او مرکزي افغانستان تر منځ د الحاق د نقطې حیثیت لري. د طالبانو لپاره د دې ولایت نیول یوه

ستراتيژيکه بريا ده. چې نه يوازې د طالبانو پوځي موقف او پرستيژ ورسره لوړ شوی دی. بلکې د بې شميره پوځي امکاناتو، وسلو، جنګي وسايطو او ټانګونو په نيولو سره په اکمالاتي برخه کې هم طالبانو ته لويه لاسته راوړنه بلل کيږي.

په وروستيو اونيو کې د طالبانو پرلپسې پوځي پرمختګونه چې په يوه وخت يې داعش، امريکايان او د امريکا داخلي ګوډاګيان ټول په منډو کړي دي او د جګړې په ډګر کې يې د الله تعالي په نصرت له ټولو لاره ورکه کړې ده. له دې وضعيت څخه ثابتيږي چې طالبان د پخوا په نسبت په مراتبو زيات ځواکمن او په نظامي ډګر کې د پريکنده او پخو جنګي تجربو څخه برخمن دي، چې په وړاندې يې مختلف النوع دښمنان د مقابلې تاب نلري.

له تودو ګوزارونو سره سره د طالبانو د دعوت او عفوې سياست بل هغه څه دی چې دوی ته يې بريا ورکړې، طالبانو په غزني ولايت کې د جګړې په تاوده ډګر کې مخالفو عسکرو ته د عفوې اعلان وکړ او هغوی ته يې وويل چې يوازې د وسلې په ايښودلو سره به وبښل شي او د سر او مال ضمانت به ورکړل شي. په دې سره ډيری عسکرو له جګړې لاس اخيستی او ويل کيږي چې تر سل تنو زياتو دولتي عسکرو خپل ځانونه له وسلو سره طالبانو ته تسليم کړي دي.

تازه حال دا دی چې د غزني ښار له ۹۰ فيصده زياتې برخې د مجاهدينو لخوا نيول شوي دي. خو حکومتي چارواکي لا هم په مطبوعاتي باټو اکتفاء کوي دوی فکر کوي چې په ميډيايي تبليغاتو او

خيالي ادعاوو سره به د جګړې د ډګر حقائق بدل کړي حال دا چې په عملي ډګر کې هره لحظه له نوې ناکامۍ او شکست سره مخامخيدونکي دي.



# دحجر اسود ... تاریخ او ځای

م: انعام الحق قاسمي

ځنګه چې حج ته دتلو موسم دی کوم بختورمسلمانان چې مکې معظمې تـه درومي اوهلتـه په بیت الله شریف دهغوی سترګې پریوزي، دبیت الله په خواکې یو ولاړ تور کانی هم په نظر ورزي او د طواف په حال کې دهر طواف کونکي ارزو او تمناوي چې ځنګه ځان تردغه تورکانی ورسویاو ښکل یې کړي که دزیاتې ګڼې ګونې له امله ورته درسیدوفرصت ونه مومي ورته له لیري ځخه په لاس پورته کولو سره سلام کوي

راځو دیته چې داتورکانی ( حجر اسود) څه شی دی او له کومه ځایه راوړل شوی ؟ ځیني تاریخي اسنادښيي چې یووخت حجر اسود یمن کې و پوښتنه داده چې ولې دهغوی سره و؟او هغوی ته ځنګه په لاس ورغلی و؟ اودیمن څخه مکې معظمې ته ځنګه راوړل شو؟ او ورته دومره ستراهمیت ځنګه په برخه شوی؟

حجر اسود کې دننه داسې قدرتي مقناطیسي راښکون او کشش دی چې هغه ځان ته دهر قوم، رنګ او هرنسل خلک راښکي، داعجیبه کانی دجنت دیاقوتو ځخه یودی چې ادم علیه السلام ځان سره دجنت نه راوړی واو بیا یې دبیت الله شریف دتعمیرپر مهال دديوال په ځنډه کې ولګاوه

طوفان نوح کې دادم علیه السلام جوړ بیت الله اسمانوته پورته کړای شواو دا مبارک کانی په جبل ابي قبیس کې امانت کیښودل شو بیا دابراهمي تعمیر پر مهال دالله تعالی په حکم جبرایل علیه السلام دابراهیم علیه السلام په وړاندې دجبل ابي قبیس نه راوړواوبیرته په هم هغه ځای کې کیښودل شو چیرته چې وړاندې و( تفسیر قرطبي)

په فضایلو او صافو کې یې درسول الله ﷺ نه ګڼ ارشادات نقل دي کوم چې دتاریخ په کتابونو کې شته لیکن دجنت دالملغره او ګرانبیه مبارک یاقوت دزمانې دګردش له ستمونو هم خوندي ندی پاتي شوی او څو ځله دفساقو،فجارو او دظالمانولاسوته په لویدو سره یې طبعي زینت او ښکلا له منځه تللې او په نازک جوهري بدن یې ژورټپونه خوړلي

په ۳۱۷هق کې چې کله په مکه مکرمه باندې دقرامطه شیعه ګانو سلطه راغله ابوطاهربن الحسن څوک چې دقرامطه سردارو، هغه په حرم کې دوینو ډک لښتي وبهول په ۳۱۷ ه کال دذی الحجة په ۸مه نیټه یې دومره خلک ووژل چې دحاجیانو دمروځخه دزمزم څاه ډکه شوه په

ښار او اطرافو کې يې ديرش زره بې قصوره خلک ووژل چې په هغو کې اوولس سوه حاجيان او اووسوه طواف کوونکي وو او هغه د اتوله لوبه دکعبې شريفې دناوې(ميزاب رحمت) چې دسرو زرووه دويستلو،دمقام ابراهيم او حجراسود دغلا کولو ترسره کړه

دوه سړي يې ددې بد حرکت په موخه دبيت الله بام ته پورته کړل خوهغوی په يو آن کې سرښکته پړمخي په زمکه راپريوتل اوجهنم ته ورسيدل، مقام ابراهيم ورته لاس ورنغی ځکه چې هغه دحرم شريف خادمانو له وړاندې په غرونو کې پټ کړی و، دذی الحجې په ۱۴مه نيټه ديکشنبې په ورځ مازيکرمهال جعفربن حلاج دابو طاهر په حکم حجر اسود په کندلو سره وويسته چې دکاهي يا کولنګ څوګذاره پر حجر اسود هم ولګيدل او له امله يې څوټوټې او ريزې په زمکه پريوتې او بيايې ځان سره بحرين ته ويوړو هلته دهجرپه نوم ښارکې پټ کړ نيږدې شاوخوا دوه ويشت کاله تيرشول وروسته دبحرين د,, هجر'' نوم ښار څخه دچهارشنبې په ورځ په ۳۳۹هق دذی الحجې په لسمه نيټه مکې ته راوړل شو چې بيرته راوړل يې هم دمعجزې څخه کم نه وو،دقرامطيانو څخه بيا بيا غوښتنه کيده چې هغوی دې حجر اسود بيرته راوليږي خوهغوی نه منله بالاخر داغوښتنه قوې شوه هغوی عذر وړاندې کړ چې هغه کاڼی دنورو کاڼو سره ګډوډ شوی موږ ته يې دجلا کولو درک نه معلوميږي که تاسو سره کومه نښه وي راشئ وي لټوئ! دعلماوو څخه پوښتنه وشوه هغوی وويل چې هغه تول کاڼي په اور کې واچوئ هرکاڼی چې په اور کې ولي يا وچاوديد هغه حجراسود ندی، ځکه په حجر اسود باندې اور تاثير نکوي چې دجنت کاڼی دی په دې توګه دحجر اسود مقبوليت او اهميت نورهم روښانه شو او هغه يې بيرته راوړو او دکعبې شريفې لپاره زينت شو

علامه جلال الدين سيوطي رَحِمَهُ اللَّهُ ليکي: ابوطاهر ظالم دچيچک په ناروغی مبتلی و او جسم يې وچاويد په نهايتي ذلت کې مړشو ( اعلام الاعلام ۱۶۵مخ، مرقات ۵ټوک ۳۲۰مخ)

**علامه قطب الدين رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي:**

ابوطاهر بدبخت دابرهه پشان غوښتل پخپل ښار (هجر) کې دبيت الله پر ځای دحج کولو اجتماع دودولو جنون يې په دماغ کې پيدا وهغه ددې لپاره يوه عاليشانه ماڼۍ هم جوړه کړې وه او نوم يې ورته ,,دارلهجره'' ايښی و، ددې لپاره يې په ۳۱۷ ه کې په مکه مکرمه باندې دحج په ورځو کې حمله وکړه اوپه مطاف کې طواف کوونکي او په حرم کې په لمانځه ولاړ حاجيان يې داحرام په حالت کې په شهادت ورسول په حرم کې دننه يې هم قتل دريغ نکړ دښارنه علاوه په شاوخوا سيموکې يې هم دقتل عام بازار ګرم کړ اود ديرش زره څخه زيات مسلمانان يې شهيدان کړل دغسې زړه بوږنوونکی حالت وړاندې کله هم نه و راغلی هغه ظالم به ويل: تاسو مسلمانان واياست!« من دخله کان آمنا» اوس هغه امن چيرته دی؟

**علامه ابن خلدون رَحِمَهُ اللَّهُ ليکي:**

ابوطاهر دکعبة الله دروازه وويسته دکعبې غلاف يې ټوټې ټوټې کړ اوپخپلو پوځيانو يې وويشه حجر اسود يې وويسته ځان سره يې وويوړو دمکې دخلکو کورونه يې چور او

تالان کړل دروانیدو په وخت یې اعلان وکړ: چې راتلونکې کال به حج دده په ښار( دارلهجر) کې کیږي

دخلیفه مستکفي چارواکو کوښښ وکړ چې په هره بیه وي حجر اسود بیرته خپل ځای ته راوړي،ددي لپاره یې هغه ته د حجر اسود بیرته ورکولوپه بدل کې د پنځوس زره سرو دینارو وړاندیز وکړ خو قرامطي تیارنشول هغه په دي فاسد فکر ولاړ و چې دناوړه جسارت یې دخپل امام عبید الله المهدي( دافریقه والي)دخوشالۍ لپاره کړی خو کله چې منصور اسماعیل دقیروان څخه دحجر اسود دبیرته ورکولو کلکه غوښتنه وکړه نو ابوعبید الله المهدي هم ابوطاهر ته اخطار ورکړ چې حجر اسود بیرته مکې ته ولیږه کنه جنګ ته تیارشه ،په دې سره یې مغزسدته راغلل او په ۳۳۹ه کال کې یې ورکړ کنه ددینه وړاندې خلیفه مستکفي او دهغه دخلافت چارواکو دحجر اسودپه بدل کې دپنځوس زره دیناره ورکولو وړاندیزکړی و خو ابوطاهریې دهغوی غوښتنه رد کړې وه (ابن خلدون ۵ټوک ۱۹۶مخ)

ښکاره ده چې قرامطه دشیعه اسماعیلیه دوهم نوم دی یعنې اسماعیلیه شیعه قرامطه یا قرامطي ورته ویل کیږي څنګه چې په ارشاد الساري کې دي:

فی المواقف: القرامطة من ألقاب الاسماعیلیة المعدودة من الرافضة( ارشاد الساري ۳۶مخ)

ژ: مواقف نوم کتاب کې دي چې قرامطه د رافضي-شیعه دیوې ډلې اسماعیلیه دلقبونو څخه یو لقب دی

او،، هجر'' چې څنګه په بحرین کې یوښار دی هم داسې په یمن کې هم په دي نوم (هجر) یوبل ښارشته په دې وجه ځینو په بحرین سره تعبیر کړی او بعضو په یمن سره خو دواړه ښارونه سره نیږدي نیږدي دي

دحجر اسود ښکلولو اهمیت دادی چې دا په زمکه دالله تعالی لاس دی کومو مسلمانانو ته چې درسول الله صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ دبیعت شرف ندی په نصیب شوی اوهغوی حجر اسود ښکل کړي دا داسې ده لکه چې هغوی ته درسول الله صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ سره دبیعت شرف په برخه شو (جامع صغیر۱ټوک ۱۵۰مخ)

دعبد الله بن عباس څخه روایت دی چې: رسول الله صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ فرمایلي: دقیامت په ورځ به حجراسود په داسې حال کې راوړل شي چې دوه سترګې به یې وي، په هغو سره به لیدل کوي اوژبه، به یې وې ، په هغې به خبرې کوې او دهغو خلکو په باره کې به ګواهي ورکوي چاچې هغه ښکل کړی دی ( ابن ماجه: ۲۱۷مخ)

دعبد الله بن عمر رض څخه روایت دی چې: رسول الله صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ حجر اسود ته راغی او پخپلو مبارکو شونډو یې ښکل کړ او تري اوږده مچه یې واخیسته او له سترګو یې اوښکې بهیدې نو عمر رَضِيَٱللَّهُعَنۡهُ مې هم ژړه غونی ولیده نورسول الله صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ وفرمایل: عمره! دغه ځای دی چیرته چې داوښکو ویالې بهولی شي ( ابن ماجه ۲۱۷مخ)

اوپه مکه معظمه کې ددې کاڼي ستر اهمیت وجه داده چې حضرت ادم علیه السلام او حضرت ابراهیم علیه السلام په بیت الله شریف کې لګولی او رسول الله صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ هم دبیت الله په خواکې ښکل کړی دی همدا وجه ده چې دبیت الله په خواکې یې شتون اهمیت لري . پای

# د غزني نیولو کې
# دطالبانو کټې

میوند سادات

طالب خواکونه په یوفوق العاده مارش سره د عروس البلاد تخت ته پورته شول.،په عروس البلاد کې یې ټول پوځي مرکزونه، ملکي اداري،حوزې، محبس او..... لاندې او تصفیه کړل، دغزني نیول په مختلفو لحاظونو ستراتیژیک اهمیت لري، دغزني نیول چې دطالبانو لپاره ځومره لویه بریا ده، دیرغلگرو او حکومت لپاره تر همدې ډیره زیاته شرمندگي او دپزې پرېکیده دي.

طالبانو دجگړې په اوج کې دبخښنې غیر هم پرانستې ده، د دښمن په لیکو کې شاملو ملکي او پوځي منسوبینو ته یې دعفوې اعلان وکړ او تکرارا یې وویل چې کوم عسکر وسله کښېږدي، سر اومال به یې محفوظ وي. له همدې فرصت څخه په گټه اخیستنه یوازې پرون تر ۱۰۰ ډیر عسکر طالبانو ته تسلیم شول.

دطالبانو همدې موقف هم دوی او هم تسلیم شوو کسانو ته ډیره گټه کړې، کوم ځای به چې طالبانو په زور فتحه کاوه، نو هم به یې بشري او تسلیحاتي قوه پکې مصرف شوه او هم به یې ټاکلو اهدافو ته په ځنډ ځان رساوه، خو له شفقت او عواطفو څخه د مالامال پالیسی په مټ یې له یوې خوا په کمو مصارفو تر خپلو اهدافو ځان ورساوه، له بلې خوا یې خپل هیوادوال له یرغلگرو کفارو سره د ملگرتیا له مرگه وژغورل. تسلیم شوو کسانو بیا دا لویې گټې ترلاسه کړې، چې خپل سر یې وساته او خپل بچیان یې د اشغالگرو په چوپړ کې دمرگ له پیغوره وژغورل.

## د طالبانو لپاره دغزني دسقوط پوځي گټه:

غزني دمرکزي ولایتونو څخه هغه ولایت دی چې پر جیو ستراتیژیک ارزښت یې سترگې نښي- پټېدلای،دکابل- کندهار لویه لار پرې تېره شوې،دپکتیکا، میدان وردگ،ارزگان، دایکنډي، زابل او حتی دکابل د سقوط لپاره دتوپ دتختې کار ځنې اخیستل کیدای شي. دغزني په سقوط سره طالبانو دومره وسلې او وسایط ترلاسه کړل چې په همدې ولایت او ورخېرمه ولایتونو کې کلونه دښمن پرې ټکولای شي.

## طالبانو ته دغزني د نیولو سیاسي گټه:

په معاصره نړۍ کې سیاسي لاس برتیا په پوځي ځواک او اقتصادي قوت پوري تړلې ده،دنړۍ او سیمې هیوادونه به دغزني د نیولو سره دطالبانو په اړه په خپل دریځ باندې هرو مرو بیا کتنه کوي، یرغلگر او کابل حکومت بیابیا داهڅه کوي چې طالبان یوه یاغي او د پردیو له لوري یو استخدام شوې ډله معرفي کړي،خو دافغانستان پر ۷۰ سلنه دطالبانو تسلط او په ځانگړې توگه دغزني غوندې مهم ولایت فتحه کول او په شمال کې دداعش سرکوبي دطالبانو په اړه منفي ذهنیت تر ډیره نفي کوي. همدا اوس په سیمه اونړۍ کې داسې پیاوړي هیوادونه شته چې طالبانو ته دافغانستان د بالقوه رهبرۍ په سترگه گوري او خپلمنځي سیاسي تعامل یې په همدې سطحه دی. په دې کې د طالبانو دشهید رهبر

منصور صاحب رول ډیر جوت دی، دنوموړی دمشری په وخت کې طالبانوله ډیرو هیوادنو سره اړیکي ټینګ کړل او دافغانستان داشغال په اړه نړیواله اجماع یې ړنګه کړه.وروسته ډیرو هیوادونو اعتراف وکړ چې طالبان دیو پراخ ولسي خوځښت نوم دی.

## د غزني سقوط دطالبانو مورال لا ډیر قوي کړ:

طالبانو په تش لاس له مجهزو عسکرو سره داسي جګړه وکړه چې دښمن یې ګام پر ګام پسې واخیست او بالاخره یې دغزني ښار دغوڅ اکثریت پرښبودلو ته اړایست. طالبانو پرغزني له حملې وروسته په دایکنډي،میدان وردګ او نورو سیمو کې هم ډیرې سوبې ترلاسه کړې،په درځنونو کمانډویي عسکر، پولیس او اربکیان یې ژوندي ونیول. دطالبانو روحیات دومره قوي شوي چې له مځکې او هوا پرې دبمونو او راکټونو باران وي،خو دوی خپلو بریدونو او پرمختګونو ته داسي دوام ورکوي لکه ګلونه چې پرې شیندل کیږي.

دطالبانو امکانات داشغالګرو او حکومت په پرتله د نشت حساب دی،دطالبانو پیاوړې وسلې لاسي ټوپک او داوړې له سر څخه ویشتونکي ار، پي، جي راکټ او ۸۲ ملي متري توپ دي،خو مقابل طرف له شوبلو، ټانګونو، چورلکو، جیټ او ډرون څخه بې دریغه استفاده کوي.

دطالبانو او مقابل اړخ دامکاناتو تر منځ ددومره لوی واټن سربیره طالبان ولې برلاسي دي؟. افغانستان کې دروانې جګړې داصل او انګیزې په اړه ډیری شنونکي له واقعیتونو څخه ځنګ ته کیږي،داصل پر ځای فرع پسې منډې وهي او بیا دهمدې فروعاتو په هیاهوی کې دروانې معضلې حل راباسي!!.دلته تر ټولو مهمه خبره داده چې دطالبانو دمقاومت اصل په ماده پوري غوټه نه دی، واقعیت دادی چې دطالبانو

روان مقاومت کاملا معنوي ریښې لري. که څوک یې دمنلو جرئت کوي او یا په عارفانه تجاهل سره دخلګو په سترګو کې خاورې اچوي، خوښه یې چې دې دوو کې کومه یوه غوره کوي.

دې وروستیو کې طالبان په نظامي او سیاسي ډګرونو کې خورا ځلیدلي، دې چارې ولس ته داډ ورکړی چې دیرغلګرو له وتلو وروسته به دنویمې لسیزې ناخوالې نه تکراریږي. څکه خلا به نه رامنځته کیږي، نو چې تشه رامنځته نشي دګډوډیو احتمال به ډیر کم وي.

د طالبانو وروستیو جګړییزو تکتیکونو یرغلګر او حکومت ګنګس کړي، نه پوهیږي چې څه وکړي او څه ووایي،دخپل بربنډ شکست دپټولو په موخه داسي عجیبې او غریبې کړنې او خبرې کوي چې ضعف او سربدالي یې له لیرې معلومیږي. د طالبانو له اوچت مورال او موفقو تکتیکونو څخه اټکل کیدای شي چې لوی ښارونه نیولی او ساتلی شي او له دښمن سره په مختلفو جبهو کې جنګیدلی شي.

# دقربانۍ نصاب

م: عمران ممتاز

حنفي فقه کې دقربانۍ دوجوب لپاره هغه نصاب مقرردی کوم چې دزکات دفرضيت لپاره دی، البته د دواړو په نصاب کې دوه ډوله اساسي توپيردی:

الف.... دقربانۍ دنصاب لپاره دمال ناميوالی (زياتيدونکی) ضروري ندی،که يو تن پخپل ذاتي کورکې خپله نه اوسي او نه يې بل چاته په کرايه ورکړی داسې کور هم دقرباني په نصاب کې شمارل کېږي

ب.... دقربانۍ دوجوب لپاره په مال دکال تيريدل شرط ندي او هرچې دزکات مال دی په هغه باندې دکال تيريدل شرط دي، نو که ديو سړي ته دقربانۍ په ورځو کې ( په لسم، يوولسم، دولسم دذی لحجي) خپل اووه تولې سره او دوه پنځوس نيمې تولې سپين زرپه لاس ورشي وربانديې قرباني کول واجب ده که چا سره پيسې (کرنسې) اويا دتجارت لپاره مال وي ديته به کتل کېږي چې هغه مال دنصاب اومره دی که نه؟ که دنصاب اومره شو نو په دغه سړي هم قرباني واجب ده او که نه شونده واجب.

**دتجارتي مال د تقويم ( بيه کولو) په اړه دفقهاوو اقوال:**

تجارتي مال بيه کولو په باره کې دفقهاوو درې ډوله اقوال راغلي:

۱ـ قول چې: څښتن دمال اختيار لري چې هغه په سرو او سپينو زروکې دهر نصاب دبيې لپاره معيارگرځوي؛ داظاهر الرواية دی

۲ ـ قول چې: په سرواو سپينو زرو کې دتجارت مال چې هرنصاب ته رسي هم هغه دې معيار وگرځوي زکه په دې کې دفقيرانو او مسکينانو لپاره گټه ده دا نادرالروية دی

۳ ـ قول چې: دتجارت مال چې په سرو او سپينو څه دهريوه په بدل کې اخستل شوی وي هم هغه دې ورته معيار وگرځوي که دتجارت مال په ددراهمو په بدل کې اخستل شوی وينودسپينو نصاب به يې معيار وي او که د دينار په بدل کې اخستل شوی و نو دسرو نصاب به يې معيار وي

**دسپينو په معيار گرځولو نيوکې:**

ښکاره ده نن سبا دسپينو او سرو زرو په نصاب کې خورا ډير توپير دی، او دنصاب لپاره دسپينو پرمعيار گرځولو سره په هغه تن هم قرباني واجب کېږي چې پنځه ديرش زره کلداري ولري اويا يوه توله سره زردڅونغددوروپيو سره ولري اوکه دسرو زرونصاب معيار وگرځول شي بيا په دې خلکو قرباني واجب نده په دې صورت کې د,, انفع للفقراء"اصول په پام کې نيولو سره هغوی لپاره دقربانۍ دوجوب حکم ورکول کېږي يا دمال څښتن لپاره داسانۍ په پام کې نيولو سره هغه

ته واک ورکولی شي چې په سرو او سپینو کې دنصاب لپاره کوم یو معیارګرځوي؟ په دې لړ کې ځنورسوالونه هم تحقیق ته اړتیالري :

ایا دمال ځښتن ته د واک ورکونکي،،ظاهر الرویة" په پرېښودو د،،انفع للفقراء" په،،نادرالروایة" فتوا ورکول سهي ده، سره ددینه چې د ،،انفع للفقراء" رعایت محض دامام صاحب یو روایت دی؟شریعت چې څنګه دحج په فریضه کې ددې خبرې لحاظ ساتلی چې حج پرهغه سړي فرض دی چې هغه سره حج ته دتلو ـ راتلو او د بیرته پاتې کورنۍ دنفقې ترځنګ دومره اضافې پیسې وې چې هغه بیا پرې خپل کاروبار روان کړایشي که دیوچاسره دځلوېښت زره روپیومال وي، دیوې منځنۍ اوزې بیه تر شل زره پورې ده اوپه پاتې شل زره روپیو دهغه لپاره کاروباررروانول ممکن ندی داسړی څنګه قرباني وکړي؟ دیته په کتو دارایه مخ ته راغلې چې دقربانۍ په نصاب کې قرباني کوونکي ته واک ورکړای شي! هرچې دزکات باب دی هلته حسب سابق سپین زردنصاب لپاره معیاردي په قرباني او زکات کې توپیر دادی چې دزکات مقصد دغریبانو حاجت پوره کول دي په دې وجه هلته د ،، انفع للفقراء" په روایت باندې عمل دی اودقربانۍ مقصد له غریبانو سره همدردي نده په دې وجه یې دقربانۍ معامله قربانۍ کوونکي ته پرې ایښې، دتجارت مال دمطلق تقویم تائید ددې روایت څخه کېږي چې: حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایل: دتجارت سامان بیه کوئ او زکات یې ورکوئ

ددې ټولو پوښتنو دځواب په لړ کې لاندې نکات وړاندې کولی شي:

**۱... دنصاب په تعین کې د أنفع للفقراء رعایت:**

دحنفي فقهې په کتابونو او فتاوو کې په دې خبره اتفاق دی چې دتجارت په مال په تقویم( بیه کولو) کې د أنفع للفقراء په رعایت کولو سره په ،،نادر الروایة" فتواورکول کیږي (۲)

**۲.... دتجارت په مال کې ځښتن کله واک لري؟**

دتجارتي مال په بیه کولو کې مالک هغه مهال مختاردی چې کله مال دسرو او سپینو دواړودقیمت په حساب نصاب ته رسي که دیوه په حساب سره نصاب مکمل شو او دبل په حساب مکمل نشو نو دهغه په زریعه به بیه کول ضروروي په کوم سره چې نصاب مکمل ګرځي په دې صورت کې مالک ته اختیار نه ورکول کېږي

۳.... ایا په نادرالروایة فتوا ورکول کیدای شي؟علامه شامي رَحِمَهُ اللهُ په ،، شرح عقود رسم المفتي"کې داموضوع په تفصیل سره بیان کړې که دکوم ،،نادالروایة" صحت شتون لاره نوددغه صحت په اعتبارسره وربانددې فتوا ورکول سهي ده.

علامه انورشاه رَحِمَهُ اللهُ په ،،فیض الباري" کې لیکلي چې:کله په کومه مسئله کې دامام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ څخه ځوروایتونه وي، نوداکثرو مشائخو دستوردا دی چې: هغوی نادرالروایة پرېږدي او،، ظاهرالروایة"اخلي خو زما په نزد دغه طریقه درسته نده په خاصه توګه چې کله دکوم حدیث نه د،، نادرالروایة" تائید هم کېږي زه په دغسی صورت کې هغه حدیث په نادرالروایة باندې محمول ګرځوم او ددې هیڅ پروا نکوم چې هغه ،، نادرالروایة" دی ځکه چې کله امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ لخوا کوم روایت نقل شوی وي نو خامخادهغه سره وربانددې کوم حدیث یا دلیل شتون لري بیا چې کله ماته دهغه موافق حدیث په لاس راشي زه هغه په هم هغه حدیث باندې محمولوم ( ۵) نو په دې وجه اکابروعلماوو ،، دأنفع للفقراء " په روایت باندې فتوا ورکړې او د تصحیح یې کړې چې په هغه فتوا ورکول درست دي .

**۴.... أنفع للفقراء دامام صاحب مذهب دی:**

د،،أنفع للفقراء،،غوره کول دامام صاحب رحمه الله محض یو روایت ندی بلکې دهغه مذهب هم دی ،، تبین الحقایق،،(٦) ،،النهر الفائق،،(٧)او ،،الجوهرة النیرة،،

(٨) کې د امام صاحب رحمه الله مذهب یاد شوی دی ،،المحیط البرهانی،، کې راغلي چې دا دامام محمد رحمه الله نه هم یوروایت دی

**٥.... په أنفع للفقراء باندې په عمل کې احتیاط پکاردی:**

دقربانۍ په سلسله کې احتیاط په دې کې دی چې دتجارت مال په تقویم کې دسرو او سپینو زرو څخه هغه څه معیار گرځي په کوم یوه چې نصاب پوره کېږي دمال څښتن ته په دې اړه اختیارنشته، هغه وخت ورته اختیار ورکول کېږي کله چې دواړه نصابونه پوره کېږي که یواځې په سپینو نصاب پوره کېږي او په سرو نصاب نه پوره کېږي نو هلته مالک ته داختیار ورکولو پر ځای دقربانۍ دوجوب حکم متعین دی، ځکه چې عبادات دمعاملاتو نه زیات احتیاط غواړي د،،أنفع للفقراء،، په روایت کې احتیاط دی؛ په دې وجه فتوا هم په دې ورکول کېږي په اوسنۍ زمانه کې چې عام خلک ددیني حکمونو په سرته رسولو کې دسستۍ او تنبلۍ ښکاردي په دغسې صورت کې هغوی ته رخصتونه برابرول دشریعت داصولو سره منافي او دحکمت خلاف کار ښکاري

**٦.... دسپینو زرو په حساب دمال څښتن شتمن دی:**

دسپینو زرو نصاب دوه پنځوس نیمې تولې دې که کوم سړی دوه پنځوس نیمې تولې سپین زرولري دشریعت په نظر کې هغه شتمن دی اوس که دهغه سره د دوه پنځوس نیمو تولو برابر دتجارت مال و یا دومره نغدې روپۍ( کرنسې) ورسره وي نوهغه مالدار نه شمارل دشریعت نه سرغړونه ده

**.... کم نصاب لرونکي ته دقربانۍ ممکنه صورتونه:**

داضروري نده چې یو تن څلویښت زره کلداره لري هغه خامخا په دې مجبور دی چې په نیمو پیسو به قربانۍ اخلي! ځکه متوسط اوزګوری په لس دولس زره هم کېږي بیا په قربانۍ کې دواړه مال قربانۍ خوځه لازم نده بلکې هغه په غټ مال( غویه، اوښ مینښه) کې هم په برخه نیولو سره تری واجب اداء کېږي

**دحج او قربانۍ توپیر:**

په حج باندې دقربانۍ قیاس سهي ندي ځکه چې دقربانۍ په اړه کوم روایتونه شته په هغه کې ،، سعه،، لفظ راغلی دقرباني نه کولو په باره کې چې پر کوم طرز سره وعید راغلی دهغه سیاق وسباق همدا ښيي چې ددې ګنجائش څخه ادنی درجه ګنجائش مرادده انتهائي درجه ګنجائش ندی مراددې تائید ددې خبرې څخه هم کېږي چې دزکات په نسبت دقربانۍ په نصاب کې زیات ګنجائش ندی ورکول شوی ځکه چې قربانۍ نصاب لپاره کال تیریدل اونامي والی ضرور ندی هرچې دحج په باره کې راغلی روایت دی په هغه کې پخپله شارع د،،زاد و راحله،، تفصیل ورکړی یعنې په هغه کې ګنجائش هم پخپله دشارع لخوا په ګوته شوی دی

همدارازدحج لپاره انسان خپل کور پریږدي او درومي په دې وجه دحج دفرضیت لپاره ددومره مال لرل ضروري دي چې هغه تري دخپل سفر لګښتونه وکړي او بیرته کورنۍ ته هم دومره مال پریږدي چې هغوی پرې خپل ضرورتونه پوره کولی شي او که هغه کارو باري تن و نودهغه سره دومرهاضافي پیسې هم پکاردي چې دحج نه وروسته ورته په هغو دخپل کاروبار روان ساتل اسان وي دڅلویښت زره مال څښتن که په لس زره قرباني واخلي په پاتي دیرش زره باندې په اسانۍ سره خپل کاروباررروان ساتلی شي

**... سره نصاب ګرځول کومې خرابۍ لري؟**

که سره زر نصاب شي نو څه باندې څلورلکه کلداري جوړیږي کومې چې ډېرې زیاتې دي په دې صورت کې پر هغو خلکو به هم قرباني واجب نشي کوم چې دقربانۍ کولو ښه وس لري او یواځې په لویو، لویو ښتمنو به واجب کیږي

**۱۰..... د زکات په اړه دتجارتي مال د مطلق تقویم په باره کې درواېتونو محمل:**

د حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دروایت مقصد داندی چې په هر صورت مالک اختیارلري، دحدیث په منشاباندې دپوهیدو لپاره دهغه زماني حالاتو ته پاملرنه پکارده دادهغه زمانې خبره ده چې کله دسرو او سپینوزروبیې سره نیږدې، نیږدې وې ځکه درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په دورو کې د دواړو د نصاب په قیمت کې ډېر تفاوت نه وو، په دې وجه حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ مطلقاً دتقویم حکم ورکړی وځکه چې ترمنځ یې توپیر کم و، هرچې اوس دی د دواړو قیمتونه سره ډیر زیات متفاوت دي او ورځ په ورځ پکې زیاتوالی راځي په دې وجه دسرو زرو نصاب معیار ګرځولو لپاره په اوس وخت کې په دغه روایت باندې استدلال سهي ندی

**۱۱..... دزکات او قربانۍ دواړو مقصد دغریباوو حاجتونه پوره کول دي:**

دزکات او قربانۍ دتوپیر لپاره دا عذروړاندې شو چې دزکات مقصد دغریبانو حاجتونه پوره کول دي هرچې دقربانۍ غرض دی داندی لیکن داتوپیر درست ندی ځنګه چې دزکات په زریعه دغریبانو سره مالي مرسته هدف دی همداسې دقربانۍ کولو غرض هم دغریبانو سره مرسته کول دي دغه وجه ده چې دغوښې په درې برخو کې یوه برخه خپلوانو ته او بله برخه عاموغریبانو ته ورکول مستحسن او مستحب کار دی او څرمن یې هم په صدقه کې ورکول کیږي

**۱۲..... دقربانۍ او زکات په نصاب کې توپیرندی پکار:**

دزکات او قربانۍ یو نصاب دی کله چې په قرباني کې دسرو زرو نصاب معیارکړای شي نو په زکات کې یې معیار نه ګرځول هیڅ معقوله وجه نلري او بل دقربانۍ لړ کې راغلي ټول روایتونه دزکات اړوند دي اوهم داخبره دزکات په باب کې دسرو زرو معیار ګرځولو لپاره دلیل ګرځي چېله امله به یې په ښکاره لوی شمیر فقراء او دزکات حقداران دمالي مرستو او کومکونو څخه محروم شي

**۱۳..... دمتقدمینو او متاخرینو ترجیحات:**

متقدمینو او متاخرینو پخوانیو او اوسنیو ټولو حنفي فقهاوو دنوادر،،أنفع للفقراء“ په روایت فتوا ورکړې دا یو ډول اجماع ده چې په خلاف یې فتوا ورکول سمه نده په دې اساس زموږ اکابروپه دي روایت فتوا ورکړې

**۱۴..... دقربانۍ پورې اړوند په نورو احکامو کې هم سره معیار ګرځول:**

قرباني، صدقه فطر، دزکات مستحق او دخپلوانو دنفقې دوجوب نصاب یودی کله چې دقرباني دوجوب لپاره دسرو زرو نصاب معیار شي نو داختر سرسایه به هم په هغه سړي واجب کیږي چې دهغه سره اووه نیمې تولې سره یا دهغو سره برابر مال (نیږدي څلورلکه کلداري) وې دچا سره چې دومره پیسې نه وې په هغه به دفطر صدقه واجب نه وي او هم به دهغه لپاره زکات اخستل روا وي او نه به پرهغه دخپلو نادارو خپلوانو نفقه واجب وي (۱۱)

لنډه داچې په اوسني وخت کې دقرباني دوجوب په لړ کې به دمعمول سره دأنفعُ للفقراء په روایت فتوا ورکول کیږي ځنګه چې په دې روایت ټولو فقهاوو ترننه فتوا ورکړې او په تقویم( بیه کولو) کې یې مالک ته اختیار ندی ورکړی.

پای

لیکوال: باهر حقیار

# د پیړیو په پردو کې پوښلی انځور

خپلوی پال او مینه ناک شخص خپلو-خپلوانو د خپل بې دریغه تعصب له مخې له خپل کور-کلي شړلو ته اړ کړ. له ځانګړي ملګري سره پر ځانګړي ځای کې د څه وخت لپاره تم شو، ترڅو د دښمن لخوا ترتیب شوی د مرګ پلان، شنډ او دښمن په دې ناوړه هدف کې مات کړي. د حالت له نورمال کیدو سره سم یې ځانونه خوندي لارې ته سبخ کړل.

لاره کې له وهل شوې خیمې سره داسي مهال مخ شول چې خورا سختې تندې او لوږې اخیستي وو. خیمه د یوې پریمانه سخا لرونکې او میلمه پالې، زړې میرمنې وه. خپلې لوږې او تندې اړ کړل چې له میرمنې څه شی د خوراک او څښاک لپاره وغواړي.

دا چې د میرمنې د کار څاروي، رمه کې پیولو ته بوول شوي وو، نو د بل اپشن د نه لرلو له کبله اړه وه چې وچه، ډنګره او له تګ غورځیدلې بزه ورته مخې ته کړي. بوډۍ په عاجزۍ و ویل: نور څه خو نشته یوازې دغه وچه بزه را پاتې ده، څنګه مو چې خوښه وي هغسې یې کړئ.

لاروي بزه ځان ته را نیږدې کړه. پر وچې غولانځې یې لاس کش کړ. وچې غولانځې شیدې رواني کړې. ده، ملګري یې او کوربه میرمن ټولو تر مړښته وڅښلې. آن د کور د شیدو لوښي ترې ډک کړای شو.

دوی د خپل ټاکلي منزل د را لنډولو په پار له میرمنې سره مخه ښه وکړه او ولاړل. د زړې میرمن له رمې سره تللی میړه چې کورته راغی. له شیدو په ډک لوښي یې سترګې ولګیدې. په حیرانۍ یې و پوښتل: دا شیدې له کومه شوې؟!

میرمن یې ماجرا په زور او زیر ورته بیان کړه.

میړه یې د لا ښه پیژندګلوۍ په پار وپوښتل: دا خو هغه سړی ندی چې په اړه یې ګرم خبرونه اوریدل کیږي او رنګا-رنګې هیلې ور پورې تړل کیږي؟ میرمن یې چې له تعصبه پاکه او د سپیڅلي فکر څښتنه وه، په پوره امانتدارۍ او د ښکلي توریو په رنګونو، د ځوان لاروي انځور ورته داسي انځور کړ:

وايـي: هغـه د سـپيځلي خـوی ښښتن و. رڼه او پراخه څېره يې لرله. زړه راښکونکې ښکلا يې زړونـه خـم کـول. تـورې او غټې سترګې يې وې. ګڼې، تور او اوږده ويښتان يې وو. خوږ غږ يې مجلس ته ښکلا ښښله. د خيټې نشتون يې بدن چوست ساتلی و. لوړې غـاړې يـې سر لـوړ ووږ. ډک او نـرم غـومبرې يـې و. درونـد او سـنګين شخصيت و. له ليري ليدونکي يې ځان ته را کشول او له نږدې ليدونکي يې پـه ښکلا نـه مړيـدل. خـبرې يـې خـوږې، پستې او معنـا دارې وې. بې اړتيـا نـه غږيدی. له خولې يې ملغرې شيندلې. نه زيـات لـوړ او نـه زيـات لنـډ، بلکې ښـكلا پنځـونکی قـد لرونكـی و. ملګري يې د وفـادارۍ ژونـدي بېلګې وې. څه به يې چې و ويل په چوپه خوله به يـې ورتـه پـوره کـول. بيخـي يـې لـه خبرې مـات ول. آن پـه يـوه اشـاره يـې ځانونه تر ځاريدلو ورکول.

يادونـه: دا كيسـه د "المواهـب اللدنيه" په حوالـه "محسـن انسـانيت" مخ: ۱۰۱-۱۰۲ د رسول الله صلی الله عليه وسـلم د هجـرت پـه اړه نقـل کـړې. له لاروي څخه هدف "رسـول الله صـلی الله عليه وسلم" ، له ملګري يې "ابـوبکر الصـديق رضي الله عنـه" او لــه زړې ميرمنې "ام معبد رض" دي.

ريښتونې څېره...

دلته د رسـول الله صـلی الله عليـه وسلم د سپيڅلې څېرې په اړه شـيندلې ملغلـرې د نـثر پـه تـار کـې پيـايو.

۱ـ "هغه صلی الله عليه وسلم مې چې لومړی ځل او له اسلام راوړلـو وړانـدې وليـدی و مـې ويـل چـې: دا څېـره د درواغجن سړي څېره نشيـ کيـدای". (عبـدالله بـن سـلام رضي الله عنـه). [سيرت مصطفی:ج ۱/ ص ۳۴۹-۳۵۰]

۲ـ "زه له خپل زوی سره مکې تـه دننه شوم. خلکو راته وښودی چې دا د الله رسول دی. ما يې چې څېره وليده و مې ويل: پرته لـه شـکه دا د الله رسـول دی". (ابو رِمثة تيمي) [شمائل ترمذی]

۳ـ مدينې تـه راتلـونکی تجـارتي کاروان له مـدينې بهـر تـم کـړای شـو. رسول الله صـلی الله عليـه وسـلم اتفاقاً پرې راپيښ شو. له يـوه ناپيژنـده تجـار سره يـې د اوښ سـودا وشـوه. دا چـې رسول الله نابېره پـرې را پـيښ شـوی و؛ ځکـه خـو پـوره قيمـت نـه و ورسره او سودا يې په دې پای ته ورسوله چې لـه مدينې به قيمت ورتـه و ليـږي. رسـول الله ولاړی. تجار او نور د کـاروان خلـک وارخطـا شـول. دوی فکـر کـاوو چـې د اوښ قيمت يې له لاسه و وتی. دا مهال يوې ناپيژندونکې ميرمنې د تجار د ډاډ او پر رسول الله د باور په پار و ويل: "ما چې لومړی ځل د دې سړي څېره وليده داسي روښانه مې محسوس کړه لکـه د څوارلســمې شـپې سـپوږمۍ. زه ډاډ درکوم چې هغه هېڅ وخـت تـاسي سره دوکه کونکی شخص نشي ثابتيدای. که دا ډول شخص دوکـه وکـړي او قيمـت اداء نکړي زه يې له خپله ځانه درکـوم" دا هماغه کيسه ده چـې بيـا رسـول الله نوموړي تجار ته له اصلي قيمت څخه د زيـات قيمـت لرونكـي خُرمـا ورتـه وليـږلي. [سـيرت النبـي: مولانـا شبلي:ج۲ /ص۳۸۰]

مبارکه بشره...

۱ـ "لـه رسـول الله مـې زيـات د ښکلې بشرې لرونکی شخص ونه ليدی. هغه داسي بريښي ته وا لمر ځليـږي". (ابوهريرة رضی الله عنه).

۲ـ" د شپې سپينه سپوږمۍ کې مې د هغه صلی الله عليـه وسـلم ديـدار کاوو. زه په يقـين سره دې پريکـړې تـه ورسـيدم چـې د رسـول الله څېـره لـه سپوږمۍ ډېـره ښايسـته وه". (جـابربن سمره رضي الله عنه)

۳ـ"د خوښۍ پرمهال به د رسـول الله څېره داسي پړقيده تـه وا سـپوږمۍ ده. لـه همـدې څخـه بـه مـوږ د هغـه

خوښي معلوموله". (کعب بن مالک رضي الله عنه).

۴_ "د هغه څېره د سپوږمۍ په څېر گرده او ښکلې وه".

(براء بن عازب رضي الله عنه).

د څېرې رنگ...

۱_ "نه خو چونې ته ورته سپین و او نه هم توروالي ته مائل، بلکې غنمرنگۍ کې سپین والي ته مائله وه'. (انس رضي الله عنه).

۲_ "سپېنه او سوروالي ته مائله وه". (علي رضي الله عنه).

۳_ "ځلیدونکې سپینه څېره یې وه". (هنده بنت هاله).

مبارکې سترگې...

"سترگې یې خورا تورې او بانه یې اوږده وو". (علي رضي الله عنه).

۲_ "سترگې یې تورې او له حیا ډکې وي" (هنده بنت هاله).

پزه...

"پزه یې جگه او اوږدوالې ته مائله وه" (هنده بنت هاله)

خوله...

"درمیانه پراخه وه" (جابربن سمره رضی الله عنه).

غاښونه...

"چې غږیدی به، غاښونه به یې سپین ځلیدل" (علي رضي الله عنه).

ویښتان...

"نه ډېر کوچ شوي وو او نه هم ډېر شخ وو. (قتاده رضي الله عنه).

نرم او گڼ وو".

(انس رضي الله عنه).

غاړه...

"اوږده او نرۍ وه، لکه ملغلره چې د ښکلا لپاره توگل شوې وي. رنگ یې سپین زرو ته ورته سپین او نرم و". (هنده بنت هاله).

سر مبارک...

"لوی خو معتدل او مناسب و". (هنده بنت هاله).

بدن...

"بدن یې ډک او د اندامونه هډوکي یې ځواکمن وو. (هنده بنت هاله).

"قد یې نه ډېر لوړ او نه هم ډېر ټیټ و، بلکې درمیانه و". (انس رضي الله عنه).

"قد یې لوړوالي ته مائل و. گڼه-گوڼه کې به یې قد وتلی تر سترگو کیدی". (برا بن عازب رضي الله عنه).

"له رسول الله څخه مې زیات زورور او زړور شخص نه دی لیدلی" (عبدالله بن عمر رضي الله عنه).

اوږې او سینه...

"د اوږو د منځ برخه یې غوښنه وه" (علي رضي الله عنه).

"سینه یې پلنه او پراخ وه". (برا بن عازب رضي الله عنه).

لاسونه...

"لاسونه یې له وریښمنو زیات نرم و"(انس رضي الله عنه).

"د لاسو دړې یې پلنې، چمبې خلاصې او گوتې یې اوږدې وي" (هنده بنت هاله)

پښې...

"پندۍ یې غوښنې نه وي. چوستې او کلکې وي. (جابر بن سمره رضي الله عنه)

مأخذونه: شمائل ترمذي. المواهب اللدنیه. سیرت مصطفی مولانا ادریس رحمه الله. سیرت النبی مولانا شبلي رحمه الله.

# د اسلامي نړۍ ځپلواک او مجتهدانه کردار

## دریم دریځ:

د اسلامي نړۍ مفکر او ثقه عالم مولاناسید ابو الحسن علی ندوي

ژباړه: ابوظهیر

اسلام دهغه شخص تعریف کوي چې دنیا پر ځای اخرت ته ترجیح ورکوي او دغه وجه ده چې هغه ته په دنیا و اخرت دواړو دکامیاب ژوند غوښتودعا ورښیي:

رَبَّنَآ اتِنَا فِی الدُّنیَا حَسَنةً وَّ فِی الاخرةِ حَسَنةً وَّ قِنَا عَذَابَ النَّار۰( البقره -۲۰۱)

اي زموږ ربه! موږ ته دنیا کې هم خوشالي راکړه او په اخرت کې هم خوشالي، او د اور له عذابه مو وساتي.

دحضرت موسی علیه السلام په ژبه هم دیته ورته دعا راښیي:

وَاکتُب لَنَا فِی هذِهِ الدُّنیَا حَسَنَةً وَّ فِی الاخرةِ اِنَّا هُدنَآ اِلَیکَ ( الاعراف – ۱۵۶)

خدایه! موږ ته په دنیاوي ژوند کې هم خوشالي ولیکه او په اخروي ژوند کې هم، موږ ستا لورته درتلونکی یو!

دحضرت ابراهیم علیه السلام تعریف کوي او ارشاد فرمایي:

وَ اتَینهُ فِی الدُّنیَا حَسنةً وَاِنَّهُ فِی الاخرةِ لَمِن الصّلحین. (النحل ـ ۱۲۲)

هغه ته مو په دنیا کې هم بهترې ورکړه او دشک پرته اخرت کې يې هم ځای د صالحو خلکو سره دی

هغه تعبیر او تمثیل چې ددنیا باره کې دیو مسلمان موقف دلوی بریالتیوب او نزاکت سره یوځای په گوته کوي هغه دا ماثوره حکیمانه جمله ده چې دجمعې دځینو خطبو جزهم ده« اِنَّ الدُّنیَا خُلِقَت لَکُم وَاِنَّکِم خُلِقتُم لِلاخرةِ »دنیا پیدا کړای شوې ستاسو لپاره او تاسو پیدا کړي یاست داخرت لپاره، مسلمان به ددنیا له وسائلو او اسبابوڅخه داسې گټه اخلي لکه داڅېزونه چې دده لپاره مسخرکړل شوي بلکې دده لپاره موجود شوي او داخرت لپاره به هغسي کوښښ کوي لکه چې داخرت لپاره پیدا شوی وي، هغه دنیا و اسباب او و سائل سورلۍ و بولي نه سوریدونکی نه، غلام اودلاس لاندې يې و بولي اقا او مالک نه، زریعه او وسیله يې بولي هدف او غایه نه، اخرت هغه دځپل سفر ( منزل مقصود) وگڼي چیرته چې ور درومي ، هغه وطن يې وبولي چې پکې

دی پناه اخلي ،ددې لپاره خپل ټول قوت رایوځای کړي هرډول زحمتونه و ګالي په عزم او شوق سره خپل وسایل په کار و اچوي او داد نبوت هغه مثال دی چې رسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورکړی دی رسول الله فرمایلي:

مَالي ولِلدُّنيا،اِنَّمَا انَّا كراكبٍ استظلّ تَحتَ شَجرةثم راحَ وَتَر كَهَا(مسند احمد و ترمذي)

زما او ددنیا تعلق دومره دی! زما مثال دهغه سپور دی چې لږ څنډ لپاره دیوې ونې سیوري ته کیني او بیا تري لاړشي

دنیاوي ژوند باره کې دعظیم الشان قرآن دبیان داطرز او تمثیل درسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دژوند، لارښوونو، خبرو، جذباتو، درسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ددعاوو اودرسول الله دخلوت وجلوت او هرڅه نه ښکاره دی دهغو قدسي نفوسو ژوند هم ددې تصویر وړاندې کوي چاچې درسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دعاطفت په لمن کې روزنه مندلې او دهغه د شخصیت او سیرت په تعمیر کې دهغوی روزنه شوې په دې توګه هغه تابعین او نور اهل ایمان و یقین چې یې په لاره درومي او په لارښوونو یې عمل کوي

دا یې مزاج او خمیر ګرځیدلی و او یو داسې تاریخي حقیقت چې دهیڅ شبهې ګنجائش پکې نشته دا هغه نقطه ده چیرته چې اسماني مذاهب او نبوي لارښوونې یا ( که تعبیر سهي وي) دنبوت مدرسې چې دمادي فلسفو اومادي فکر سره ټکر وهي د کوم اصرار او ټینګار دادی چې دا دانسان منتها ده نو ځکه دهغه په تعریف او تقدیس کې په عزت او محبت کې او هغه ته دارم رسولو او دښه نه ښه کولو کې دمبالغې څخه کار اخلي

## له دیني او روحاني ارزښتونو باغي تهذیب

دادبشریت یوه لویه تراژیدي او دتاریخ ستره غمیزه وه چې مغربي تهذیب په هغه زمانه او هغه قوم کې رامنځته شو کوم چې دایمان بالغیب په څېر له دیني اساساتونه باغي واو ددین تش په نامه علمبردارو نه سخت متنفر و چاچې دین دخپلو ذاتي مصالحو او نفساني خواهشاتو تابع ګرځولی و، دهغوی ناوړه کردار، دهغوی وحشت وجهالت او دعلم وعقل لاره کې دخنډونو اچولو د کوښښونو څخه بیزار و نو همداسې د تهذیب و صنعت او دتیز مادي رجحان سره یوځای وړاندې لاړ، دا رجحان دا و چې ژوند یواځې په مادي بنسټونو تنظیم کړي په کوم کې چې بشریت او انساني ټولنه دخپل رب او خالق سره هیڅ اړیکه ونلري دا لامل دهغولاملونو او داروپا دمخصوصو حالاتو نتیجه و په کومو کې چې ددې تهذیب پالنه وشوه هغه په مادي اسبابو او کائناتي ځواکونو برې مندلی و، په سائنسي او صنعتي علومو کې یې زیات پرمختګ کړی و، تردې پورې چې په وروستیو کې مسافتونه او فاصلې هم دهغه لپاره پای ته ورسیدې او هغه ددې قابل شو چې دهوائي کړې څخه په پوریوتو سره یې په بره خلا کې ازادانه سفرونه وکړل او په لږ نه لږ وخت کې دارضي کرې ګر چارپیره وګرځي او هغه بریاوې ترلاسه کړي کومې چې دوړاندینو نسلونو په خوب او خیال کې هم نه راتلې.

## داسلامي ختیځ پر جدیدیت پالو مشرانو دمادیت غلبه

دا مادي رجحان او نفسیات داسلامي ختیځ پر جدیدیت پالو او له دې نه هم په ښو الفاظو مغرب پالونکو رهبرانو ته منتقل شول دکمال څخه ترجماله داسلامي هېوادو ټول

رهبران دمادیت په عشق کې یو شان سرشار ول هغوی هم ,,قوت''و ,, ترقي''داسې مطلق معبود وگرځاوه؛ چې عبادت یې واجب دی او دهغه نه علاوه بل حقیقت موجود ندی او دهغه لپاره ټول اخلاق، ټول روحاني ارزښتونه اوهرهغه څېزونه چې مادي گټه نلري د تیغه تیرول پکار دي

ددې دثبوت لپاره دهغو ملي رهبرانو او سیاسي زعماوو ویناوې، دهغوی لیکنې او دهغوی اعلانونه او منشور او دهغوی عملي کړنې، اقدامات او رویې! کومې چې دوی دهغو خلکواوگندونو سره لري کوم چې پر دوی نیوکې لري اوکوم چې په دغه فکر باندې تنقید کوي بلکل کافي دي کوم شخص که په دیانت سره دحکومتي پلانونو اوبوختیاووجاجونه وکړي نو ور ته به محسوسه شي چې هغوی ته یواځې دهیواد مادي ترقې او خوشالې اهمیت لري، دهغوی هدف دژوندانه معیارلوړول دي او دهغو قومونوسره یوځای کیدل دي کوم چې دمادي او محسوساتو پرته له بل څه نه واقف ندي او دطاقت پرته هغوی بل معبود نلري، دمادي پرمختگ او ارضي خوشالۍ پرته هغوی بل نصب العین او مقصود نلري هغوی یواځې دانسانانو هغه ټولی معتبر مني کوم چې یوه ملي یاسیاسي لوظنامه ورپوري تړي او هم هغوی د دوی په نظر دعزت او احترام مستحق دي، دي ذهنیت ، مزاج او روان شناسۍ( سائیکالوجی) په هردور کې نړۍ په مصیبت کې غورځولې ادیانو ددغه تنگ او ناروغ ذهنیت په خلاف جهاد کړی دی اسلام هم دهغه دماتولو پسې-دی، دیو اسلامي هېواد دمشر لپاره دغه فکرخپلول ډیرلوی فکری انحطاط اود غورځیدو علامت دی چې ورڅخه دهغه دایمان دکمزورۍ، ناسم تربیت، کم همتۍ او تنگ نظرۍ درک لگیږي

دخپل اسلامي شخصیت او په دې دنیا کې ددې امت دمنصب و مقام ساتنه ددی احساس چې دهغه پیغام او دعوت څه دی، په اخروي ژوند او دژوندانه په اخلاقي اصول او روحاني ارزښتونو اصرار هغه بیلونکی حد (LINE OF DEMACTION) دی کوم چې ددغو دواړه تهذیبونه له یوبل څخه جلا کوي یو هغه تهذیب چې سرچینه یې اسلام دی او دهغه مسؤلیت هغه منلی دی په دې کې

داسلامي شخصيت خپلواکي او ځان پيژندنه راځي، بل هغه تهذيب دی چې دهغه نه اسلام برائت څرګند کړی دی او مسلمانانو لپاره يې په هغه کې نقصان نقصان په ګوته کړی دی او په هغه کې ذهني غلامې او شکست خوړل په پوره توګه روښان دي اود بيزوګانو پشان د نقل کولو (APING) جذبه او دطوطي پشان دهرې اوريدلي ساز طريقه تکرارول تري صاف ښکاري

## دذهانت او ارادي قوت امتحان

دتهذيب خاکه تيارول او دتمدن تشکيل، دبشري ذهانت ديو قوم دعبقريت( genius) دهغه دارادي ځواک او حوصلې لرلو او د دين دسهي فهم امتحان دی هغه دمجرد نقل و تنقيد يا داضافي و ترميم عمل ندی اسلام دحرام او حلال حدود ټاکلي دهغو حدودو نه پوريوتل يې ناروا ګرځولي دهغو په منځ کې په پاکېزه او مناسبه توګه دژوند څخه دخوند اخستلو پراخ ميدان دی په دې شرط چې په هغه کې اسراف او بخل نه وي دنورو دحق تلف کول نه وي په ګناه او اسراف کې دمبتلی کيدو خطر نه وي غرض داچې دژوند هغه طرزنه وي کوم چې نارينه له وصفونو او شريفانه خصائلوسره په ټکر کې وي داسپرټ لباس ، خواړه او دکور،کور چاپيريال او دژوند څخه خوند اخستل په هره برخه کې دوام لري هغه( اسلام) دمصالحو درعايت، دمفاسدو او مضرتونو څخه احتياط ترممکنه حده دمادي اودفاعي ځواک ترلاسه کول دمفيدو او نافعه علوموڅخه داستفادي ترغيب ورکوي په دې شرط چې هغه د ده د شخصيت بسنتونه کمزور او اسلامي قوميت يې مجروح نکړي همدا راز په دې قوم کې دکمترۍ احساس، بې باورې اوپرته له ارادې دنورو او په جذباتي توګه د ړانده تقليد په رنګ رنګ کيدو اودهغه طرزحيات ته دعزت او احترام په روحيه کتلو جذبه او ارزو را ونه ټوکيږي

## دفولادو سختې او دوريښمو نرمې

دا هغه تهذيب اساس دی په کوم کې چې يو لورته دفولادو په څېر سختې ده او بل طرف ته دوريښمو پشان نرمې ده دا تهذيب دنويو مسائلو او دوخت دنويوغوښتنو په معامله کې ( پرته له مبالغې او خيالي رايو او تخيل ) دوريښمو پشان نرم دی دعقيدې او اخلاقو په پولو دفولادونه سخت دی او غرونو پشان کلک ولاړدی او ددنياوي علومو په باره کې که هغه دنړۍ په هر څومره لري برخه کې هم وي د خپل ضميراوعقل سترګې بيرته ساتي او په خلاصه سينه دهغو تنظيمونو او پلانونو دقبلولو لپاره تيا راو اماده دی کوم چې نه دين مجروحوي او نه په اخلاقي نظام کې کوم تغيرپيدا کوي

نوربيا ...

# د ا ځل ولې د څرخي پله زندانيانو اعتصاب ته توجه نه کيږي؟!

احمد مختار

د دې ليکنې تر ليکلو پورې تقريبا يوه نيمه اوونۍ کيږي چې د افغانستان په مرکزي زنداندان ( څرخي پله محبس ) کې په زرګونو بنديان د خپلو حقه حقونو او قانوني غوښتنو د پوره کيدو په خاطر د نه خوړلو اعتصاب کړی دی.

هغوي تر اعتصاب وړاندې خپلې قانوني غوښتنې د عدليې وزارت اړوند د محابسو عمومي رياست او همدا راز د افغانستان عدلي او قضايي چارواکو ته وړاندې کړې او په مسالمت اميزه بڼه يې له هغوی وغوښتل چې د يادو قانوني غوښتنو په پوره کولو کې له بنديانو سره مرسته وکړي.

خو د څرخې پله او همدا راز د محابسو عمومي رياست نه دا چې د بنديانو قانوني غوښتنې يې و نه منلې ، بلکې پر هغه علاوه يې له بنديانو سره تشدد او ناوړه چلند لا زيات کړ.

**د بنديانو غوښتنې**

د بنديانو قانونې غوښتنې په يادو ټکيو کې خلاصه کيږي:

الف: هغه بنديان چې د حبس قانوني وخت يې پوره شوی وي هغوی بايد نور په ناقانونه توګه په محبس کې ونه ساتل شي.

ب: هغه بنديان چې له مجاهدينو سره د همکاري په تور له کلونو را هيسې بې برخليکه ډول په محبس کې پراته دي ، د هغوی په اصطلاح جُرم دي ثابت او د حبس قانوني موده دي د قضايي اوعدلي ارګانونو لخوا تعين کړل شي.

ج: هغه بنديان چې د قضايي اوعدلي ارګانونو لخوا په اعدام محکوم شوي خو دوي د حکم له صدورنه تر اوسه پورې د څو کلونو په تيرولو سره همداسې معلق پاتې دي، د هغوی د اعدام حکم دې په ټاکلې حبس تبديل شي.

د : د ځينو خاصو ورځو په مناسبت دې د بنديانو د بښنې فرمان په عادلانه ډول پر ټولو بنديانو پلی شي.

هــ :هغه بنديان چې د حادو ناروغيو او ياهم د کبرسن (بوډاتوب ) له وجې په څرخې محبس کې د پاتې کيدو توان نه لري ، هغوی دې د معالجې لپاره روغتون او ياهم د خپلو اړونده ولايتونو محابسو ته وليږدول شي.

و: د محبس په داخل کې دې له محبوسينو سره د محبس د چارواکو د ناوړه غير انساني چلند مخنيوی وشي.

چې پورتنۍ ټولې غوښتنې قانوني او د محابسو له نافذه مقرراتو سره هيڅ مغايرت نه لري.

**د دولتي چاروااکو غبرګون**

دولتي چارواکو ته د بنديانو د غوښتنو په وړاندې کولو سره د دې په ځای چې هغه و منې او بنديانو ته د افغانستان د محابسو د نافذه قوانينو مطابق خپل حقه حقوق اعاده کړي برعکس يې نور له هغوی سره داسې

ناوړه چلند پیل کړ چې له امله یې یو شمیر محبوسین هماغته په محبس کې شهیدان او بې روحه جسدونه یې کورنیو ته وسپارل شول.

**د بندیانو اعتصاب**

د څرخي پله مظلوم بندیان هغه څوک چې د ژوند برخلیک یې د محابسو د فاسدو چارواکو په لاس کې دی پرته له دې چې د نه خوړلو په اعتصاب لاس پورې کړي بله هیڅ وسیله نه نه ور پاتې ، هماغه و چې ټولو په یوه اتفاق د روان هجري لمریز کال د زمري د میاشتې په ۱۵ نیټه په خپلو منځو کې تر تفاهم وروسته د نه خوړلو په اعتصاب لاس پورې کړ.

دا لومړی ځل نه دی چې د څرخي پله بندیان د چارواکو له ناوړه چلند او د خپلو ضایع شویو حقونو د ترلاسه کولو لپاره اعتصاب کوي ؛ بلکې تر دې وړاندې یې هم څو ځله غذایي اعتصاب کړی چې ډیر ژر به د ولسي جرګې د استازیو په مداخلې سره هغه پایته ورسیدو او غوښتنې به یې ومنل شوې.

مګر داځل د تیرو هغو په نسبت یو مغایر اعتصاب و ، مغایر په دې معنی چې نه ورکې د ولسي- جرګې استاذیو مداخله کولای شوای او نه د هغوی خبره د بندیانو د غوښتنو په حق کې اوریدل کیده.

**ولې مغایر اعتصاب؟!**

په څرخي پله محبس کې د طالبانو په نوم نیول شویو بندیانو سره د محبس د چارواکو ناوړه چلند دقیقا تر هغه وروسته ډیر تریخ شو چې کله امریکایي جنرال جان نیکولسن وویل چې مونږ به پرطالبانو باندې د پوځې فشار ترڅنګ نور مذهبي ، تولنیز او ... فشارونه راو ړو .

د نیکولسن له دې خبرې سره سم په کلیوالو سیمو د امریکایي ځواکونو شپني عملیات او په لوګر، خوست ، پکتیا، ننګرهار، قندوز ، فراه او د هیواد په نورو برخو کې د هغوی د بمباریو شدت له حده ډیر زیات شو چې له امله یې په سلګونو بیوزله ولسي وګړي شهیدان او په سلګونو نور ژوبل شول.

دا چې دا ځل په څرخي پله زندان کې د پخوا په نسبت له بندیانو سره چال چلند تر بل هروخت ډیر ناوړه او د اعتصاب له امله د زرګونو بندیانو صحي وضعیت هم ډیر وخیم و مګر د دې هرڅه با وجود بیا هم نه د کابل

رژیم عدلي او قضایي چارواکو او نه هم پارلماني وکیلانو د بندیانو د ستونزې د هوارې په اړه څه اقدام وکړ.

له دې څخه مالومیږي چې دا ځل د بندیانو د زیاتو کړولو او د هغوی بشري حقونو ته نه پام کولو تر شا اصلي عامل بل څه دی؛ ځکه چې د څرخي پله محبس د هیواد په لیرې پرتو سیمو ، هلمند، اروزګان یا غزني نورستان کې نه ؛ بلکې د کابل په زړه چیرته چې د ملګرو ملتونو د دفتر په شمول د نړیوالې ټولنې سیاسي نمایندګۍ ، د بشري حقونو خپلواک کمیسیون او د بشري حقونو د مدافعو ټولنو دفترونه موجود او هغوی ټول دا هرڅه په سترګو ویني چې د بندیانو وضعیت د مرګ تر کچې وخیم دی خو له دې سره سره بیاهم نه یوناما ، نه دولتي مقامات ، نه د بشري حقونو خپلواک کمیسون او نه هم د هغه ترڅنګ نور ګڼ شمیر د بشري حقونو مدافع سازمانونه د څرخي پله د مرګ ته نیږدې شویو زندانیانو د ژوند ژغورلو په اړه هیڅ اقدام نه کوي .

د دې ټولې عمدي بې غورې او بې اعتنایي اساسی لامل د جنرال نیکلسن دستور دی چې غواړي حتی د طالبانو په نوم نیول شوي بندیان هم له دې فشاره اغیزمن او د هغه په وسیله پر طالبانو باندې خپلې نامشروع غوښتنې ومني چې دا وړه به یې هیڅ کله شړۍ نه شي...

پای

# ګلورینې پاڼې

## سوځلي آرمانونه

عقابي جانان

مدرسې مو بمباریږي جماتونه سوځل کیږي
سیپارې په وینو سرې دي قرآنونه سوځل کیږي

طالبان مو وړي زندان ته نبَوي زده کړو په جرم
زمونږ د علم توهین کیږي کتابونه سوځل کیږي

مؤمنان یو پښتانه یو بس همدا زمونږ قصور دی
جائیداد ونه مولوټ کیږي زمونږ کورونه سوځل کیږي

تورسرې مو شولې کونډې ماشومان مو یتیمان شول
هم د نجونو پت عزت او څادرونه سوځل کیږي

څه عجیبه انقلاب دی څه بې رحمه شان مخلوق دی
زمونږ څاروي هم مُعَاف نشول هم فصلونه سوځل کیږي

د کربوړي ضرورت نشته چې اورته پوکی ورکړي
په یوه تیلي د ژوند ټول آرمانونه سوځل کیږي

په والله ورته حیران عکاسي یې څنګه وکړم
د سپېڅلو شهیدانو جسدونه سوځل کیږي

"عُقابي جانانه" څوک مو شاعري هم زغمی نشي
چې پرې حق لیکو زمونږه قلمونه سوځل کیږي

شاعر: استاد علي انس

هرڅه به هېرکړمه دلبره تابه نه هېروم
دسترګو توره، دزړه سره تابه نه هېروم

که دادنیا نوره لاتنګه شي دژوند په لحاظ
خو غیرتي خړه سنګره تابه نه هېروم

ته دا دعاکوه چې موږه دنظام خلک شو
پردي وطن کې مهاجره تابه نه هېروم

داچې همیش مو په سرو وینو اوسنګر کې تیر کړې
دا ځل دې لمانځمه اختره تابه نه هېروم

که دغه ژوند دخوښۍ کور شي او هرڅه زماشي
خوموټربمه بختوره تابه نه هېروم

چې له قاتل سره دې زور او زېر حساب ونه کړم
د ودان کلي ړنګ ګودره تابه نه هېروم

که خدای قبول کړمه قربان شوم فدایي شوم په دین
دجهاد ژونده مختصره تابه نه هېروم

د رحمت غېږه دې د شهیدو اسویلونه ډکه
هسکه شمشاده اوسپین غره تابه نه هېروم

که دجنت په دروازه کې انتظار ولاړ وم
د امارت سپینه لښکره تابه نه هېروم

چې په باروتو او لمبو دې سوی لوی نه کړم
د"انس" ځانه اوځیګره تابه نه هېروم

# دغزني غېږې ته

# اليا س فاتح

د نظر غشي دې چې وار کړل د زړګي غېږې ته
اوس يې د مينې په لاس پورته کړه زخمي غېږې ته

د غوڅ ځيګر د پرهر غېږ کې ليوني دردونه
له سترګو اوښکې وړي له خولې نه اسويلي غېږې ته

سل هجرانونه ختموي، يوه شيبه د وصال
تل دې راځي د عشق دردمنه زندګي غېږې ته

چې ښکلوي په وچو شونډو باندې سرې سکروټې
د کوثر مينه وربلي، داسې ځلمي غېږې ته

د ازادۍ د مستې پيغلې عشقه! ولې غواړې؟
د مست طالب ځواني په وينو ګلابي غېږې ته

ذره چاودېږي په کابل کې د نړۍ مستکبر
چې د طالب لښکرې درومي د غزني غيږې ته

فاتح چې لولم رنګينۍ دطالب جان د ښايست
دشعر خواږه ژبه مې راوړي رواني غېږې ته

# د فتحو اذانونه

څه کيف لري جانان کوي د فتحو أذانونه
په مينه ټول غازيان کوي د فتحو أذانونه

څه شور دی څه جذبې دي څه ځپانده معرکې دي
زلمي په هر ميدان کوي د فتحو أذانونه

تکبير، تکبير نعرې دي بيا د حق او باطل جنګ دی
په جهر مسلمان کوي د فتحو أذانونه

دښمن مو راحصار دی د اور غشي پرې وربېږي
سپېځلی طالب جان کوي د فتحو أذانونه

د جبر، زندانونه، زنځيرونه يې ورمات کړل
رها شول زندانيان کوي د فتحو أذانونه

مړې،هيلې يې د خوار،مظلوم ولس بيا را ژوندۍ کړې
نن ځکه هر افغان کوي د فتحو أذانونه

راځۍ چې بدرګه يې کړو ها پورې راروان دی
د فتحو سپين کاروان کوي د فتحو أذانونه

إسپېشل دې ډالۍ د (عرفاني) ورته غزل وي
ډېر خوند کړي فدايان کوي د فتحو أذانونه



# دسولې پیغام!!

عابد

داخو اوس ټولو شرقي ولسونو ته معلومه شوې چې دغربي دیکتاتورانو او اشغالګرو شرقي خاورې او اقتصادي منابعو ته اشتها راشي، نو د هضم او اشغال توکي او اوزار له داسې لارو، نه ورته راوړاندې کوي چې ولسونه ورسره حساست ولري، بلکې " په عسلوکې دزهرو" په پارموله عمل کوي، نو جنګ ته دسولې، اشغال اوغلامي ته د آزادۍ، وراني او ویجاړي ته دترقۍ او پرمختګ نومونه ورکوي .

له کله نه چې په افغانستان کې دامریکا اوناټو نظامي هڅې پڅې اوله خنډ سره مخ شوې له هماغې ورځې یې په دغه فریب نورو داسې کړنو ته لاس اچولی، چې فکر کوي وبه کړای شي افغان مؤمن ولس به پرې خطا باسي. له دې سره سره چې دهیواد په لوېشت لوېشت خاوره یې سره اورونه بل دي، هیڅ ځای یې له بمونو، توغندیو او توپونو خوندي نه دی، بې توپیره دافغان مؤمن ولس بچیان وژني، ولې بیاهم سوله سوله کوي اودسولې نمایشي-شعارونه ورکوي او ددې لپاره چې دروان جهاد او دخپلواکۍ ددغه برحقه مبارزې په اړه دعامه خلکو او په تېره د ځوانانو اذهان خچن اومشوش کړي د " نکلسن" دټولنیزو فشارونو دلړۍ له مخې یې دپرلټونو سلسله رامنځته کړې، چې تردېره پکې معلومې استخدام شوې څېرې اویومحدود شمېر بې شعوره افراد دي چې په غیرشعوري ډول اشغال او استعمار ته پکې ستړي دي.

ورسره دهغو تبلیغاتي چینلونو له لارې داغفال دغې دسیسې ته تبلیغات کوي چې د " آزادي" سپېڅلی نوم یې ورکړی، هره ورځ بلاناغه دپرلټیانو خبر په سرکې بیابیا تکراروي، مرکې ورسره کوي اودسولې دولسي- حرکت نوم پرې ږدي. خودافغانستان خلک چې له مسلسلو انقلابونو بریالي راوتلي پوهیږي چې دغه دسولې حرکتونه څه ډول حرکتونه دي ؟ اودکوم ډول سولې پیغام له ځان سره لري؟ نوکه څه هم دغه منحرفې رسنۍ ورسره ډېرې ستړې دي ولې دکوم هدف لپاره یې چې ایجاد شوی هیڅ اثر پرې مرتب نه دی اولکه څرنګه یې چې ښکاره زور او بربنډ اشغال ناکام دی، پټې دسیسې یې په څو واره ناکاره دي .

دا په اغفال او نفاق کې دولسونو داچولو هغه لړۍ ده چې نیکونو اوسلفو یې له پخوانه څو څو واره کارولې او اصل یې هغه قرآني اخبار ته ورګرځي چې څه باندې څوارلس سوه کاله دمخه یې مونږ ته خبر راکړل شوی، الله ﷻ دبقرې سورت په لومړنیو ایتونوکې فرمايي " اوکله چې ورته وویل شي : په ځمکه کې فساد مه کوئ! دوی وايي مصلحین خو همدا مونږ یو، ګورئ ګورئ چې همدا دوی مفسدین دي او بس"

لکه څنګه چې داسلام لفظي او اصطلاحي معنا سوله او امن دی، همدغسې یې په ټولو احکامو کې سوله او امن نغښتی دی، خو داسلام نني دښمنان تل په دې کوښښ کې دي ترڅو د خپلو پلانونو له لارې داسلام دغه مفهوم او پیغام ته ضرر ورسوي او دنړۍ دبې امنه کولو، ترور او فساد خپل هدف دنړۍ په مسلمانانو ور واچوي، په تېره بیا هغه مسلمانان نړۍ ته دسولې دښمنان ور معرفي کړي چې داسلام له دغه مفهوم څخه په کلکه دفاع کوي .

چې هیواد اشغال ځمکه او هوا دپردیو په اختیارکې وي نو بیا دا کوم منطق او استدلال دی چې دسولې نارې دې یواځې دخپلواکۍ مبارزینوته کیږي اود یرغل راوړو یرغل دې برې وي، په دغسې صورت کې چې دخلاصون اونجات لاره یواځې وسله واله مبارزه ده، ددغو استخدام شویو پرلټیانو کوښښونه که نن دغربي میډیا له برکته د اشغال ددوام هڅې ونه بلل شي، دسبا ورځې تاریخ به یې هیڅکله همداسې پرې نږدي اولکه دانګریزانو اجیران چې تاریخ مونږ ته په" لاټیانو" راپېژني دغسې به ددغه یرغل داجیرو په لیکه کې " پرلټیان" هم پاتې نه شي .

سوله سپېڅلی نوم دی، خو داشغال اویرغل لپاره دسولې دنوم کارول هغه خیانت او پیغام دی چې دپرلټیانوسوله یې له ځان سره لیږدوي.

# دامریکا او ترکیې یوه نوې جګړه

امید

اوس مهال تربل هروخت دامریکا او ترکیې ترمنځ اړیکې ترینګلې او کړکیچن شوي، څو ورځې وړاندې دامریکا ولسمشر ټرمپ له ترکیې څخه په ور وړونکې ستیل او المونیم ګمرګ دوه چنده لوړ کړ چې له امله یې دترکیې په صادراتومنفی تاثیرپریوت

دنوې امریکایې پریکړې له مخې: په المونیم شل سلنه او په ستیل پنځوس سلنه ګمرګ لګول شوی، په دې سره دترکیې نه په ایکسپورټ کې دپاوړ کمی راغلی

اوښکاره ده چې ترکیه او امریکا دواړه دناټو غړیتوب لري اوترمنځ یې داوسني جنجال لویه وجه امریکایې پادري( اینډریو برنسن) هم دی څوک چې دا مهال په ترکیه کې بندي دی په هغه تور دی چې په ۲۰۱۶ زکال کې یې دترکیې دناکامه پوځي بغاوت او په امریکا کې دمیشت مبلغ فتح الله ګولن سره یې مرسته کړې ده او همدا راز دترکیې لخوا ممنوع ګرځول شوي ګوند( ګردستان ورکزرپارټي) ترشاه هم نوموړی لاس لري

دامریکا ولسمشر ټرمپ په ځلونو دهغه دخوشي کولو غوښتنه وکړه خو دترکیې حکومت له لوري خوشي نشو ددې په غبرګون کې دامریکا ولسمشر- دترکیې دقانو په وزیرعبد الحمید ګل او دکورنیو چارو په وزیر سلیمان باندې بندیزونه ولګول چې له مخې یې نوموړي وزیران امریکا ته سفر نشي- کولی او هم په امریکا کې دهغوی دشتمنیو کانګلولو حکم ورکړی دامریکا خلکو ته یې ویلي: چې دیادو وزیرانو او دهغوی دکورنیو سره هیڅ ډول تجارت او راکړه ورکړه ونکړي

ددې په ځواب کې دترکیې ولسمشر هم دامریکا دقانون په سکرتر او دکورنیو چارو په سکرتر(څوک چې دمرکزي وزیرانوسره درجې لري) ورته بندیزونه لګولي.

طیب اردګان دامریکا پریکړه غندلې او هغه یې دنړیوالو اصولو خلاف کار بللی او امریکاته یې اخطار ورکړی که هغه دیو طرفه ګامونو پورته کولو څخه لاس په سر نشي نوترکیه به په نړۍ کې نور شریکان ولټوي دخبري رسنیو په قول: دطیب اردګان او دروسیې دولسمشر- پوتین ترمنځ په دې اړه خبرې هم شوې او دنویو اړیکو جوړولو هوډ یې ښودلی

څکه ترکیه اندیښنه لري چې امریکا په شام کې دترکیې مخالف کرد ګوند ته وسلې ورکوي او هم دده مخالف فتح الله ګولن په ورسپارلو کې پاتې راغلي خو دخپل پادري دخوشي کولو په کلکه غوښتنه کوي

دیادونې وړده چې کله نه امریکا دترکیې څخه دالمونیم او ستیل په وروړو ګمرګ دوه چنده سیوا کړی دهم هغه وخت نه دترکیې کرنسي ( لیرا) په ارزښت کې هم خورا کمی راغلی چې په غبرګون کې یې دترکیې ولسمشر وویل :

که امریکا دډالرځواک لري موږ دالله تعالی ځواک لرو او ورته به شکست ورکوو

رجب طیب اردګان چې په اوسنیو انتخاباتو کې بری مندلی او په دې سره یې ډیر واک هم ترلاسه کړی دصدراعظم منصب په لغوه کولو دهیواد دیوځواکمن واکمن په حیث څرګند شوی چې له امله یې ځیني نوموړي ته دترکیې دسلطان لقب کاروي په دې سربیره نوموړی داسلامي نړۍ په نورو هیوادو کې هم یوه منل شوې څېره ده په خاصه توګه دامریکا او اسرایل ظلمونه او وحشتونه غندل هغه څه دي چې نوموړي ته یې مقبولیت ورکړی دی.

امریکا او اسرایل دواړه دهغه په بري باندې سخت خفه دي اوس لګیادي کوښښ کوي چې په ترکیه باندې لکه دایران بندیزونه ولګوي او هدف یې دترکیې اقتصاد او بیا ولس دی چې هرکله دترکیې اقتصاد درکود سره مخ شي طبعي ده چې په ترکیه کې به درجب طیب اردګان مقبولیت ته هم صدمه ورسي

البته دترکیې ولس یوبیدار ولس دی هغوی دامریکا او اسرایل له رادو څخه خبر لري اجازه به ورنکړي چې امریکا او اسرایل له دې لارې خپلو موخوته ورسي

دنړیوالو چارو کتونکي اندیښنه لري چې امریکا شاید په ترکیه نور مهم بندیزونه به هم ولګوي چې په سبب به یې ضرور دترکیې اقتصاد متاثر شي دخبري راپورونو له مخې: دامریکا کانګرس په دې غور کوي چې دترکیې سره دامریکا لخوا د۳۵-s الوتکو په اړه شوې لوظنامه لغوه کړي

طیب اردوګان پخپل ولس غږ کړی چې هغوی دې په راتلونکي کې ځانونه دمقابلې لپاره تیارکړي او دوی سره شته سره زر، ډالر او خارجي کرانسیاني دې وپلوري ځکه اوس مهال ترکیه په اقتصادي جنګ کې ښکیل ده

بل پلوته دډیرو کتونکو په نظر دامریکا رویه دتولو اسلامي هیوادو لپاره دخطر زنګ دی چې امریکا غواړي مسلمانان ترقي او په خوشالۍ سره ژوند ونکړي او دمختلفو حیلو او بهانو په جوړلو سره غواړي داسلامي هیوادو په طبعي زیرمو خیټه واچوي او ددې لپاره یې مختلفې لومې خورې کړې او یکې مسلمان ولسونه نیسي- او بیا یې دخپلو غوښتنو په منلو مجبوروي

داسلامي هیوادو نجات پخپلمنځي اتحاد او اتفاق کې دي باید سره یولاس او یوځوا ک شي په ترکیه باندې دامریکا دتهدیدونو خلاف پورته شي که نن په ترکیې راغلې سبا په دوی راځي باید سرله اوس نه دخپلې بقا په لارو چارو غور وکړي.

## دعزالدین قسام رحمه الله له طرفه و یوه فلسطیني مجاهد ته!

شل کاله مې خپله د عقیدې درس ولوست،او شل کاله مې خلګو ته د عقیدې درسونه ورکړل.خو کله چې د جهاد ژغ وسو او ددښمن مقابلې ته ولاړم،دتوپ او ټوپک دژغ په اوریدو وبیریدم او وتښتیدم!

پخپل دغه حال سخت خفه سوم چې زه خو یو لوی عالم یم او کلونه مې خلګو ته دعقیدې او پر دین باندې د استقامت درس ورکړ،مګر په لومړني مقابله کې سست او متزلزل سوم او وتښتیدم!

تر دې چې الله تعالی ته مې پناه یوړه شپه تر سهاره مې لمونځونه وکړل د الله تعالی څخه مې پر دین باندې د استقامت خواستونه وکړل مغفرت او بخښنه مې وغوښته تر دې چې دوهم ځل ددښمن مقابلې ته ولاړم،دا ځل یوازې ددښمن سره مخامخ سوم او تر هغه وخته مې جګړه ور سره وکړه تر دې چې دښمن مې تېښتې ته اړ کړ.

همدلته پوه سوم چې الله ته پوخ ایمان،یقین او په عمل کې تقواء ارزښت لري،یوازې کتابونه لوستل او درسونه ور کول چې عملا پوخ یقین،تقواء او استقامت د ځان سره ونه لري ګټه نه کوي او ستونزه نه حلوي.

# د ټرمپ سرکوبي

سید شریف

سپنې مانۍ د ټرمپ په مشرۍ د ۲۰۱۷ز، کال په اګسټ کې دافغانستان لپاره داسې یوه ستراتیژي جوړه کړه چې ټول تمرکز یې پر جګړه و . کابل رژیم دټرمپ جنګي ستراتیژي په پټو سترګو ومنله او دايې دافغانستان دمعضلې حلاره ونوموله. دټرمپ دستراتیژۍ له پیل سره د ګران هیواد په لراوبر کې ړندې بمبارۍ او وحشیانه چاپې ډیرې شوې، که څه هم دهمدې بمبارونو او چاپو له امله افغان ولس ته د سر اومال پراخ زیانونه اوښتل،خو دجګړې په ډګر کې یې ددښمن په ګټه کوم نقش ونه لوباوه.

ددښمن د وحشت او دهشت سره سره اتلو مجاهدینو نه یوازې داچې شاتګ ونه کړ، بلکې دهیواد په لراوبر کې یې پر یرغلګرو او ګواډاګیانویې کارنده بریدونه ترسره کړل،چې له امله یې درڅنونو اشغالګر عسکر مړه او ټپیان شول او ګواډاګیانو ته تر خپلو بادارنو څو چنده زیات زیان واوښت.دمجاهدینو په عملیاتو کې ددښمن څخه ډیرې سیمې پاکې شوې او حتی تر لس دېرو ولسوالیو مرکزونه، دفراه ښار او اوس دادی عروس البلاد(غزني)هم ونیول شو.

دښمن داسلامي امارت پر ضد ګڼې سیاسي او تبلیغاتي دسیسې جوړې او استعمال کړې،خو نه یوازې داچې دامارت پر معقول دریځ یې کوم منفي اغیز ونه وکړ، بلکې ددښمن جګړه ماره څېره یې نوره هم بربنده کړه.دښمن د نړیوالو او افغانانو د تېر ایستلو په موخه دکابل پروسې په نوم یوه غولونکې ډرامه نندارې ته وړاندې کړه او بیا یې داستخدام کړو رسنیو له لارې دې ډرامې ته دواقعیت ورکولو هڅې وکړې،مګر دې هڅو یې هم د نورو غورځو پر څو په شان مطلوبه پایله ونه درلوده.

اشغالګر او کابل رژیم افغانستان کې له شته واقعیتونو او حقیقتونو تښتې،دافغانستان دکشالې عمق او اصل ته نظر نه کوي، له هغو اپشنونو کار اخلي چې ستونزه نوره هم پېچلې کوي او دجګړې اور غړانـده کوي.دښمن پوهیږي چې دافغانستان دمعضلې علت څه دی او له کومې لارې دې کشالې ته دپای ټکی ایښودل کیدای شي،خو نه غواړي چې روانه کشاله حل شي اوافغانستان کې سوله راشي، ځکه ددوی ګټې په جګړه کې دي او دخپلو موخو دترلاسه کولو لپاره یې زموږ په کور کې دجګړې اور بل کړی او روان ساتلی دی.

اسلامي امارت دخپلو ارزښتونو او خپلې خاورې څخه دفاع ته ژمن دی،لکه څنګه یې چې تېره یوه نیمه لسیزه د یرغل او فساد په وړاندې ټینګ مقاومت کړی،همداسې به خپل سپېڅلی پاڅون او ټینګ مقاومت ته دوام ورکوي، د اسلام او هیواد په منافعو به سودا نه کوي، دالله تعالی په نصرت او دخپل مجاهد ولس په ملاتړ به تر هغو خپلې رواني مبارزې ته ادامه ورکوي چې ګران هیواد دیرغلګرو له ناپاک شتون څخه پاک شي او پر دې شهید پروره خاوره دشهیدانو ارمان اسلامي نظام نافذ شي.

ټرمپ او اداره یې باید دافغانستان له اوږدې او ملا ماتونکې جګړې څخه عبرت واخلي،حداقل دخپلې ستراتیژۍ یوکلن فعالیت دې ارزیابي کړي. کومه پوځي او سیاسي بریا یې تر لاسه کړې؟،بمونه او راکټونه خو یې ډیر وتوغول، بې له دې چې ښځې او ماشومان دخپل تن په وینو رنګ کړي او دبې دفاع خلګو کورونه او بازارونه وران او چور کړي،کومه ولسوالي او سیمه یې له مجاهدینو نیولې؟. ځواب ډیر واضح دی،نه یوازې داچې دښمن کومه سیمه له مجاهدینو نه ده نیولې، بلکې ډیرې تړواک لاندې سیمې یې له لاسه وتلې او دامن سپین بیرغ پرې رپاند شوی دی.

یرغلګر چې څومره هم خپل حماقت ( افغانستان کې شتون) ته دوام ورکوي هومره به یې ځاني اومالي زیانونه زیاتیږي او له لوېې رسوايي او شرمندګۍ سره به مخامخ کیږي،نو ای ټرمپخپلوا! هغې کړنې( له افغانستانه تیښتې) ته چې سبامجبورا غاړه ایږدئ، نن لا په عزت سره دافغانستان څخه دوتلو جراتمندانه پریکړه عملي کړئ.!

# د ديني علم برکتونه

لیکوال: استاذ نورالله خان احمدزی

علم د رڼا، سعادت، نیکمرغۍ، بریالیتوب، خوښۍ، او خیر لار ده. په اسلام کې د علم او د علماوو په هکله ډیر فضایل او تاکید راغلی. قرآن کریم په دې هکله داسې مهرباني کوي:

قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لاَ يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُوْلُوا الأَلْبَابِ (الزمر ۹)

ووایه ای محمد: آیا هغه کسان چې پوهیږي او هغه کسان چې نه پوهیږي سره برابر دي؟ بېشکه چې پوهان پند اخلي.

له الله تعالی څخه څوک ویریږي؟ قرآن یې داسې ځواب وایي: إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ (فاطر: ۲)

ژباړه : یقیناً د الله جل جلاله څخه د هغه پوه بنده ګان، لکه: (د شریعت په ضروري احکامو پوه وي) ویریږي.

الله تعالی ته خوښ خلک او چې ډیر یې نازوي هغه د علم څښتنان دي، قرآن یې داسې بیان کوي:

يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَات ( المجادله ۱۱) هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او پوهه ورکړل شوې ده الله جل جلاله یې درجې لوړوي.

په اسلام کې د نر او ښځې لپاره د اسلامي شریعت د ضروري احکامو زده کړه فرض ده.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: طلب العلم فریضة علی کلّ مسلمٍ.

د علم طلب یا لټونه په هر مسلمان لکه، (نر او ښځې ) باندې فرض دي.

له پورتني حدیث څخه د اسلامي شریعت ضروري علم مراد دی لکه : عقاید، د طهارت ضروري مسایل ، لمونځ، روژه ، زکات او د حج احکام، ضروري معاملات،اسلامي آداب، د حلال او د ګناهونو او همداسې د حرامو پیژندل او داسې نور.

له دې کبله په مور او پلار یا د کورنی بل مسئول او مکلف شخص باندې دا لازمه ده چې خپل اولاد او بچیانو ته د اسلامي شریعت ضروري مسایل او احکام ور زده کړي او همداسې دوی ته د حلالو او حرامو توپیر ور وپیژني، د دین بنستیز او مهم شیان ور وښیي همداسې دوی عبادت باندې روږدي کړي او له هر ډول ناروا څخه یې منع کړي او له ټولو سترو ګناهو څخه یې خبر کړي، لکه: زنا، غیبت، بهتان، غلا، لواطت، شراب، قتل، سود، او داسې نور...

د علم او علماوو د فضیلت په هکله ځینې احادیث:

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایي:

مَنْ يُرِدِ اللَّهُ به خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّينِ، وَإِنَّمَا أَنَا قَاسِمٌ وَاللَّهُ يُعْطِي، وَلَنْ تَزَالَ هَذِهِ الأُمَّةُ قَائِمَةً عَلَى أَمْرِ اللَّهِ لا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَالَفَهُمْ حَتَّى يَأْتِيَ أَمْرُ اللَّهِ. (بخاري: ۳۱۱۶)

چا ته چې الله تعالی د خیر اراده وکړي نو په دین کې پوهه ور په برخه کړي، رښتیا ده چې زه یوازې ویشونکی یم یعنې ( د علم شریعت ) او الله تعالی اصلي ورکونکی دی، او دا امت به همداسې قایم او استوار وي او د مخالفانو مخالفت به دوی ته ضرر و نه رسوي تر هغه پورې تر څو قیامت را شي.

لاندې بل حدیث هم د علم د فضیلت په هکله روایت شوی:

مَنْ جَاءَهُ الْمَوْتُ وَهُوَ يَطْلُبُ الْعِلْمَ لِيُحْيِيَ بِهِ الاسْلاَمَ فَبَيْنَهُ وَ بَيْنَ النَّبِيِّينَ دَرَجَةٌ وَاحِدَةٌ فِي الْجَنَّةِ . (مشكاة المصابيح ۲۴۰ اسناده مرسل)

ژباړه: چا ته چې مرگ ورسیږي او هغه تر دې وخته پورې د علم په طلب او لټونه کې وی چې د هغه په واسطه اسلام را ژوندی کړي د هغه او د پیغمبرانو په منځکې به یوه درجه توپیر په جنت کې موجود وي او هغه د نبوت درجه ده.

تَدَارُسُ الْعِلْمِ سَاعَةً مِّن اللَّيْلِ خَيْرٌ مِنْ اِحْيَآءِهَا (مشکاة المصابیح: ۲۴۷ )

ژباړه: یوه گړی په دیني علم کې مذاکره کول له دې نه ښه دي چې ټوله شپه په عبادت ویښه تیره شي.

مَنْ خَرَجَ فِیْ طَلَبِ الْعِلْمِ فَهُوَ فِی سَبِيْلِ اللهِ حَتَّی یَرْ جِعَ . (مشکاة المصابیح ۱۵۵/۱ ، الترمذي ۲۶۴۷) ژباړه : څوک چې د علم حاصلولو په غرض له کور څخه ووځي تر بېرته راگر ځیدلو پورې د الله تعالی په لاره کې دی یعنې تگ او بیرته راتگ یې ټول په ښېگڼو کې شمېرل کیږي.

د علم د ترلاسه کولو چې څومره فضایل بیان شویدي همداسې د علم او د حق پټولو پخاطر سخت وعید او د عذابونو ژمنه او یادونه هم شوې.

مَنْ سُئِلَ عَنْ عِلْمٍ عَلِمَهُ ثُمَ كَتَمَهُ اُلْجِمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِلِجَامٍ مِنْ نَّارٍ . (سنن الترمذي ۲۶۴۹، الترغیب والترهیب ۹۷/۱ )

ژباړه: څوک چې دیوه عالم نه پوښتنه وکړي او ده ته د هغه علم وي او هغه پټ کړي نو د قیامت په ورځ به یې په خوله کې د اور قیزه ور واچولی شي.

همداسې علم ددې لپاره باید ترلاسه نکړای شي تر څو نور خلک ور باندې ملامت یا پاتې راوستل شي:

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: مَنْ طَلَبَ الْعِلْمَ لِيُجَارِىَ بِهِ الْعُلَمَاءَ أَوْ لِيُمَارِىَ بِهِ السُّفَهَاءَ أَوْ يَصْرِفَ بِهِ وُجُوهَ النَّاسِ إِلَيْهِ أَدْخَلَهُ اللّٰهُ النَّارَ. رواه الترمذي

ژباړه: کوم شخص چې ددې لپاره علم زده کړی تر څو د علماوو سره مقابله وکړي او یا د بې عقلانو سره جگړه پرې وکړي او یا خلک خپلې خواته متوجه کړي نو الله تعالی به دی په اور کې داخل کړي.

په آخر کې د یو دیني طالب العلم کیسه درته لیکم تر څو ټول ور څخه عبرت واخلو.

شیخ الاسلام علامه شمس الحق الافغاني رحمه الله به فرمایل چې د دارلعلوم دیوبند د حدیث د برخې یو طالب العلم وفات شو .... هغه د افغانستان اوسیدونکی و جنازه ور باندې وشوه او هلته دفن کړای شو ... د هغه ورثه و ته یې لیک واستوه .... واتن لرې و او لیک نږدې شپږ میاشتې وروسته هغوی ته ورسېد ... د هغه خپلوان راغلل ... مهتمم صاحب قاري محمد طیب سره د هغوی لیدنه وشوه او هغوی غوښتنه کوله چې خپل مړی له قبر څخه راوباسي او له ځان سره یې افغانستان ته یوسي ... مهتمم صاحب ډېر وپوهول خو هغوی پخپل ضد ول ... هغوی خبره نه منله، نو مهتمم صاحب دوی ماته راولیږل ماهم هغوی ډېر وپوهول خو هغوی ویل چې یا به موږ خپل مړي وړو اویا به موږ ټوله کورنی دلته راوړو ـ لدې څخه کومه بله لار نشته ما ورته وویل چې تاسو ځئ .... د الله بنده گانو! .... تاسو نو د الله تعالی راز ښکاره کوئ کله چې قبر پرانستل شو نو له شپږو میاشتو وروسته هم مړی پخپل کفن کې سالم پروت و اوله هغه څخه اعلی خوشبویي راتله ... د مړي جسد په صندوق کې کېښودل شو او په احترام له مړي سره یو طالب العلم هم واستول شو ... د لاهور له لارې پېښور ته تگ و .... دپېښور ریلوې ستېشن پولیسو چې دا صندوق ولیده نو هغوی وویل چې دا مړی نده بلکه دا کستوري یا مشک دي چې تاسو یې قاچاق کوئ پولیسو چې صندوق خلاص کړ نو هلته د حدیث د دورې طالب العلم و او له هغه څخه خوشبویي راتله ـــ دا حال خو د حدیث د طالب العلم وو اوس د تصویر دوهم مخ وگورئ !.... په همدغه ورځ د پېښور د یو نواب ځوی مړی چې له برتانیې څخه هوایي میدان ته را رسېدلی و هغه د انگریزي یا دنیوي تعلیم د زده کړې لپاره بهر ته تللی و خو له مړینې څخه یې درې ورځې تېرې شوې وې لیکن د بدبویي او عفونت یې داسې حال وه چې د هغه نږدې خپلوان هم د هغه کټ ته نږدې نه ورتلل نوبت دغې خبرې ته راغی چې په مزدورانو یې یوسي او هغه ښخ یا دفن کړي .... حضرت علامه الافغاني رحمه الله لیکلي چې خلکو له دغې پیښې ډېر عبرت واخیست او د دیني علومو د ترلاسه کولو شوق او مینه په خلکو کې لا نوره هم پیاوړې شوه.

# څــو نادرې نابلـــده

**زخمي افغان**

( اشرف غني یا د نړۍ دوهم لوی ډوزمار) نن مې چې فیسبوک پرله اړاوه، نو دغه لقب مخې ته راغی چې ځینو فیسبوک کاروونکو ولسمشر اشرف غني ته ورکړی و. عجیبه خو دا وه چې په اشرف غني دا لقب نه ده سیاسي مخالفینو یا طالبانو نه دی ایښی. بلکې خپلو هغو پلویانو یې ورباندې ایښی دی چې څلور کاله وړاندې یې اشرف غني د نړۍ دوهم لوی مفکر باله او قسماقسم تبلیغات یې ورته کول.

هغه کسان چې اشرف غني ته اوس د نړۍ دوهم لوی ډزومار وایي دلیل یې دا دی چې اشرف غني د کمپاین په ورځو کې خورا سترې لاپې وهلې وې، د فساد له ختمولو ونیسه بیا د جنګ سالارانو تر ټکولو، ځوان مسلکي نسل ته د واک توزیع او داسې نور کارونه . . . خو اشرف غني په تیرو څلورو کلونو کې یوازې ټوپکیان چاغ کړي. د شر او فساد د مشرانو زامنو ته یې په امنیت شورا کې څوکۍ او اعزازي نښانونه ورکړي او خپل هغه پلویان چې د ده لپاره یې د هر څا بدې په سرا اخیستې وه هغه یې له ځانه شړلي او منزوي کړي دي.

په اشرف غني د منتقدینو لوی دلیل د ضیاء الحق امرخیل برخلیک دی. امرخیل د اشرف غني د واک ته رسولو لپاره خپل حیثیت او وجدان په داو کړ، تقلب یې وکړ، د ټلوالې بدي یې په غاړه واخیسته، خو اشرف غني ورته په تیرو څلورو کلونو کې یو توت ارزښت هم ورنکړ ، علاوه لا داچې د پارلمان لپاره د کاندیدانو له لست څخه یې نوم هم حذف کړ. د ارګ خیاطان د اشرف غني دې اقدم له داسې حالت سره مخ کړي چې اوس ورته نه پرتوګ ګنډلی شي او نه یې هم په دفاع او توجیه رسیږي. نو ځکه خو نن ځینو کسانو په فیسبوک کې دا خبره کمینټ کوله چې ( خیاط تباه دی)

**تښتیدلې ولسوالۍ ونیول شوې**

په غزني او ځینو نورو ولایاتو کې حکومتي چارواکو عجبه چل زده کړی. کله چې د طالبان د کومې ولسوالۍ مرکز له تهدید سره مخ کړي نو دوی د دې په ځای چې د ولسوالۍ د مرکز دفاع مضبوطه کړي، مرکز ته عقب نشیني ورکړي، او د اصلي مرکز په ځای په کوم بل ځای کې د ولسوالۍ مرکز پرانیزي.

په دې اړه خو داسې عجائب او غرائب هم پېښ شوي چې عقل یې نه مني. مثلا یو وخت طالبانو په دایکندي ولایت کې کومه ولسوالۍ نیولې وه، حکومتي چارواکو د همدې ولسوالۍ مرکز په هلمند کې پرانیستی و. د هلمند سقوط شوې ولسوالۍ فی الحال ټولې په لښکر ګاه کې تشریف لري همدا راز په غزني کې هم چې طالبانو د زنه خان،ناوې، رشیدانو، جغتو او خوګیانو ولسوالۍ ونیولې، نو مرکزونه یې حکومت د غزني ښار د قلعه سبز او پلان سه سیمو ته را نقل کړل.

درې ورځې وړاندې چې طالبان د غزني ښار ته داخل شوي دي اوس تازه په تازه ذبیح الله مجاهد خبر ورکړی چې د غزني په مرکز کې یې د نورو حکومتي ادارو په نیولو سربیره د غزني ولایت تښتیدلي ولسوالۍ هم ګورۍ بورۍ په یوه ځای نیولي دي.

هاغه د پښتو متل دی چې ځې ځې ځې، ابازو له به راځې. نو حکومتي ولسوالۍ که هرې خوا ته وتښتي بیا هم ځان نه شي خلاصولی آخر به نیول کیږي. نو ښه دا ده چې عبث دې په منډو ځان نه ستړی کوي.

# د اسلامي تاریخ په اړه یوه کتنه او یوه څېړنه

ابو الخیر عارف محمود
څلورمه او وروستۍ برخه

## دابن جریر طبري مذهب:

**دمولانا مهر محمد میانوالي رَحِمَهُ اللَّهُ رایه:**

دابن جریر طبري مذهب دعنوان لاندې مولانا مهرمحمد رَحِمَهُ اللَّهُ لیکلي : دا هغه امام طبري دی (مړپه ۳۱۰ ه کې) چې دبغداد خلکو په تشیع باندې متهم کړی او مړی یې دسنیانو په هدیره کې دفن کولوته نه و پرې ایښی، گواکي شیعه نه و، خو پخپل تفسیر او تاریخ کې یې داسې لامده او وچ روایتونه ښه ډیر رانقل کړي چې دشیعه وو لخوا جوړ او مشهور کړای شوي

**دعربي علماوو رایې:**

معاصرو عربي علماوو کې دوکتور خالد علال کبیر صاحب پخپل کتاب ,, مدرسة الکذابین فی روایة الاسلامي وتدوینه'' کې د مؤرخ طبري د مخصوص طرزالعمل په باره کي لیکي:

زما په اند هغه دا( یعنې دتحقیق و تمحیص پرته یواځي له اسانیدو سره روایتونه نقل کړي) یو نیمگړی کارکړی دی او دهغو ټولو روایتونو مسؤل هغه پخپله دی کوم چې یې پخپل تاریخ کې مدون کړي اوله دروا‌غجنو روایانو څخه یې قصداًزیات روایتونه نقل کړي او بیا یې پر هغوچوپتیا هم غوره کړې چې دا نهایتې خطرناک کاردی کوم چې د ډیرو راتلونکو نسلونو دگمراهی سبب شوې هغه( طبري) ته پکاروه دضرورت پرته یې دروا‌غ روایتونه نه وای راوړي اویا یې پرهغو نقد کړی وای، څیړلي اوارزرولي یې وای، یواځي دهغو په اسانیدو راړیې بسیا او چوپتیا نه وای کړې او په روایتونو نقد ضروري وو څکه چې دطبري په زیاتره کتونکو کې اکثریت دهغو خلکو دی چې په هغو کې دومره علمي وړتیا نشته چې هغوی پرهغو روایتونو دمتن او سند له پلوه نقد وکړای شي هو! که تري استفاده کوونکو په حدیث ، تاریخ او نوروعلومو کې تبحر درلودای نوبیا به ثابته خبره ده چې هغوی به پري نقدو تمحیص کړی وای

نوموړی دوکتور لیکي:

دا معامله ددینه هم ډیره خطرناکه ده چې د طبري وروسته راغلیو زیاترو تاریخ پوهانود درې گونو پیړیو ( قرون ثلاثه) په باره کې دهغه نه په لوی شمیر روایتونه نقل کړي دي لکه ابن جوزي پخپل

کتاب ,,المنتظم'' کې ابن الاثیرپه,, الکامل''کې او ابن کثیر په ,,البدایه'' کې دسند پرته را نقل کړي ،ددې ښاغلو لخوا دسند پرته درواياتوپه نقلولو دثقه او دروغ جنو روایانو روایتونه سره خپلو کې ګډوډ شول ډیر ځلي طبري تاریخ ته دمراجعت پرته په دغو روایتونو کې تمیز مستحیل وي

**درنولوستونکو!**

دایواځي دطبري تاریخ په باب یوه سرسر ي ځیړنه او ارزونه وه کنه په هرروایت یې دسند او متن له پلوه د تفصیلي بحث لپاره مستقل کار یا دفتر ضروري دی ممکن ددې ځیړنې او ارزونې سره یوځوک اختلاف ولري اویايې په مبالغه کولو محمول کړي یا يې له حقیقت لري وبولي خو په یاد لرل پکاردي چې دغسي- ښاغلي یا یومخ دتاریخ سره اودهغه دتدوین دبهیر په اړه خبر ندي یا دپوهې لرلو باوجود انکار کوي نودهغوی دغه عارفانه تجاهل په جاهلانه یا معاندانه تجاهل تعبیرول به ډیر مناسب وي دلته یواځي دیو کتاب په اړه سرسري ارزونه وړاندې شوه که هر دعلم او تجربې خاوند او دسهي فکر لرونکی مؤرخ دتاریخ، تراجم، دفرقو، مختلفو مذاهبوپه اړه کتابونو باندې دنقدو تحقیق اصولو په رڼا کې یوه معتدله ځیړنه وکړي نوددینه به هم عجیب او غریب، سره متناقض او مستحیل ډول روایتونه ومومي کوم چې په دري ګونو پیړیو( قرون ثلاثه) کې داسلامي امت دسیاسي، حزبي،او مختلفو ډلو دویش په نتیجه کې دروغجنو روایانو لخوا دخپلو ډلو او فرقو دملاتړ لپاره درواېتونو جوړولو په جسارت رامنځته شوی دي

**دافتراق و انتشار او دفرقوي اختلافاتو اساس:**

غرض داچې دکذابو او دروغجنو روایانو موضوعي او بې اصله نصوصو اوددین دحاملینو سره متصادمو روایتونو په اسلامي امت کې دانتشارو افتراق او دټولو فرقوي اختلافاتو اساس یې ایښی دی کله چې د صراط مستقیم څخه منحرفو فرقو دمذهبي قداست ځادرغوړولی نو دهغه فکرمنونکو دغسي روایتونه په دین او رجالُ باندې دطعن او دبې لاروافکارو دملاتړ لپاره په مسلمه حقایقو او متوارث اسلامي تاریخ کې دتشکیک پیدا کولو لپاره دوسلې په توګه کارولي

**دامت داتحاد کیمیاوي نسخه:**

داسلامي امت درد لرونکي منصف مزاج لرونکي محققین خامخا دې نتیجې ته رسیدلي چې دروغ وایونکو خلکو دخپلو مخصوصو افکارو او عقایدو اساس دخپل مخصوص فکر دهغو مخصوصو دروغجنو روایانو په روایتونو ایښی دی او عظیم الشان قرآن ، صحیحه سنت اونور نصوص یې داعتناء وړ ندي بللي که نن هم دغه بې لارې فرقې عظیم الشان قرآن، صحیحه سنت اونورو متواترو قطعي نصوصو ته رجوع وکړي نو په اسلامي امت کې هرډول اختلاف به پای ومومي او دا امت بیا یو تن او یو

زړه په څېر متحد او متفق شي داسلامي امت داتحاد کیمیاوي نسخه همدا ده

**دنوي تدوین اړتیا:**

په اوسنیو حالاتو کې اسلامي امت چې په اختلافاتو، انتشار او فرقو ویشلی ویني یو معتدل اودامت درد لرونکی مؤرخ به خامخا داسلامي تاریخ دنوی تدوین غړپورته کړي دنوي تدوین لپاره په نوې کیدونکې مطالعه کې که لاندې نکاتو په رڼا کې وکړای شي نوخورا ګټوره،مؤثره او نتیجه لرونکې به ثابته شي:

۱.... دمطهره شریعت او د درایت وعقل خلاف روایت مردود دی دیته په پام علماوو صراحت کړی چې هر روایت د درایت وعقل مخالف وي یا دشریعت داصولو سره مناقض وي نوپوشه! چې هغه روایت موضوع دی او دهغه روایانو ته هیڅ اعتبار نشته همداشان چې هرروایت چې دحس او مشاهدې خلاف وي یا دقران کریم، متواتره سنت او قطعي اجماع څخه مبائن وي دغسې- روایت هم دمنلو وړندی

۲.... دصحابه وو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ او ددین ایمه وو دعیبونو بیانولو په اړه روایت هم دمنلو وړندی ځکه چې دروایتونو په جوړونکو کې خیني هغه خلک وو چې هغوی دصحابه وو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ او ددین دایمه ووعیبونو دبیانولو لپاره دخپلو نورو مذمومه عزائمو او اغراضو دتکمیل لپاره روایتونه جوړکړي دهغوی دا عمل یا د تعنت وعناد له امله و یا دتعصب و فساد له وجې نو دهغو خلکو روایتونوته هیڅ اعتبار نشته څو چې دهغوی کوم سند معتمد ونه مندل شي یا په سلف صالحین کې چا ورباندې اعتماد نه وي کړی

علامه نووي دقاضي عیاض اوعلامه مازري په حواله لیکلي چې:

موږ ته دصحابه وورَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ په اړه د حسن ظن لرلو او هغوی ته دهر ناوړه خصلت دمنسوبولو څخه دمنع حکم شوی نو که دهغوی په باره کې په کوم روایت کې اعتراض مندل کېږي اودهغه صحیح تاویل ګنجایش ونلري په داسي صورت کې موږ به ددغه روایت روایانو ته د دروغو نسبت کوو

علامه عبد العزیز پرهاړوي لیکلي چې :

به دې باره کې داهل سنت مذهب دادی چې ترکومه ځایه ممکن وي ددې مناسب تاویل به کېږي او که مناسب تاویل یې ممکن نه وي نو دا روایت به رد کولی شي په اړه یې چوپتیا غوره کول واجب ده او طعن بالیقین ترک کول دي ځکه چې الله تعالی ټولو صحابه وو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ سره دمغفرت او جنت وعده کړیده

۳... په نهایتي اعتدال سره دهغو ټولو مؤرخینو دکتابونو څخه دثقه او دروغجنو روایانو درروایتونو ترمنځ دي تمیز وکړای شي چاچې پخپلو کتابونو کې دواړه قسم روایتونه راوړي لکه : خلیفه بن

خیاط، محمدبن سعد، زبیربن بکار، موسی بن عقبه، وهب بن منبه ابن جریر طبري او ابن اثیر او نور...

۴.... دتاریخي روایتونودسند او متن دواړو له پلوه دنقد و تمحیص او تحقیق دمنل شویو قواعدو په رڼا کې ارزونه اوورباندې محتاطانه اومحققانه کلام پکار دی

۵.... په دې خبره کې هم توپیر پکار دی چې مؤلف او پخپله دتاریخ ښتن خو ثقه دی لیکن هغه دواقعاتو په راوړو کې پر دروغجنو روایانو باور کړی دی څنگه چې دابن جریر طبري حال دی په دې صورت کې ددغه مؤرخ یواځي هغه روایتونه چې دثقه روایانو څخه یې نقل کړي داعتبار وړ دي د دروغجنو روایانو روایتونه به یې مردود گرځول کېږي

۶.... که دتاریخ ښتن پخپله دروغجن وي نو بیا دهغه په کتاب کې دثقه روایانو روایتونه هم بې اعتباره گڼل کېږي

۷.... د دروغجنو روایانو درواېتونو په باره کې اصل ضابطه دنه قبولیت ده البته که دهغوی کوم روایت دقرآن پاک، سنتِ مبارکه، او دامت داجماع نه مخالف نه وي نو دنورو ثقه روایانو درواېت په تائید کې دقرائنو او مرجحاتو په شتون کې یې قبلول کنجائش لري

۸.... ددیني چارو، صحابه وو، ایمه وو او سلف صالحین پرته په نورو دونیاوي معاملاتو کې که دثقه روایانو روایت شتون ونلري دمجبورۍ په صورت کې د دروغجنو روایانو څخه منقول روایت دواقعې دنقل په غرض ذکرکول هم گنجائش لري خو دهغه څخه علم یقین نه ترلاسه لاسه کېږي

۹.... دتاریخ او تحقیق په نوم دمحض مؤرخینو لخوا دراوړو روایتونو څخه دانتیجه ترلاسه کول هم دقبلولو وړنده البته درښتینو او منل شویو اصولو لاندې روایت قبلولی شي او هم دهغه نه ترلاسه شوي نتایج هم سهي گڼل کېږي

۱۰... ددې ټول عمل په دوران کې ددې خبرې استحضار پکار دی چې زموږ تاریخ د دروغجنو اندونو داغوا گانو ښکاردی نو ځکه معمولي غفلت په وجه هم دمسلمانانو په راتلونکي نسل کې دتشکیک، تحریف، تضلیل ددین دایمه وو او سلفوڅخه دبیزارۍ او فرقوي اختلافاتو په غچ کې ددغو تاریخي روایتونوپه اساس دیوبل دوژلو او دوینوتویولو لوبه پیل کیدای شي پای

أللهم أرنا الحقّ حقّاً وارزُقنا اتباعه وأرنا الباطل باطلاً وارُزقنا اجتنابه

# ملت پالي حرکتونه

## او منحل کېدونکی اروپايي اتحاد

شهيد زوی

غرض پالنه دلویدیځوالو یو له لویو منفي صفتونوڅخه دی او دخپل مطلب او غرض لپاره داوږدو پلانونو جوړول او دمؤثرو لارو نه کار اخستل ددوئ کال او دپرمختګونو او بریالیتوبونو اساس دی.

دانسانانو نه دتشې لویې امریکا ودانول چې مقصود و اوبشري قوې ته اړتیا وه نو افریقایي هېوادونو ته به کښتئ بوتلل کېدې او دامریکا دآبادولو او دامریکایانو دخدمت لپاره به په زور افریقایان راوستل کېدل خو چې امریکا اباده او انسانانو ته یې اړتیا ختمه شوه نو دهمدې امریکایانو لپاره اوس دبهرنه راتلونکی یو تن هم دزغم وړ ندی؛قاطع اکثریت ددې طرفدار دی چې باید دامریکا دروازې دتولو کډوالو په وړاندې وتړل شي او هیڅوک امریکا ته رانئوتلو ته پرې

نه ښودل شي؛ ترمپ چې د امریکایانو په همدې خواهش او غوښتنې پوه و دخپلو انتخاباتو لپاره دکمپاین پرمهال به یې دامریکایانو سره وعدې کولې چې امریکا ته به د ناقانونه کډوالو په راتګ سخت بندیز ولګوي او دامریکا او مکسیکو (چې هرکال ترې دکارموندنې په هدف ګڼ شمېر خلک امریکاته وراوړي)پرپوله به دیوال جوړ کړي؛ترمپ ته امریکایانو د همدې او څینو نورو وعدو له امله خپلې رایې ورکړې چې دولسمشر۔ کېدو سره سم ترمپ هم یو په بل پسې په خپلو وعدو عمل پیل کړ؛ دولسمشر۔ کېدو نه سمدستي وروسته یې امریکا ته د ۷ هېوادونو داتباعو په ورتګ بندیز ولګاوه او دمکسیکو سره په پوله ددیوال وهلو دژمنې عملي کولو لپاره یې هم اقدامات پیل کړل .

خو ورځې دمخه دمکسیکو نه ګڼ شمېر سړي او مېرمنې دخپلو بچو سره یوځای امریکا ته پدې هیله وراوړېدلي وو چې ګوندې دبشري خواخوږی له مخې به ورته په امریکا کې دپاتې کېدلو او کار کولو اجازه ورکړی شي خو دوئ دامریکا سرحدي ځواکونو ونیول؛کوچنیان یې دمېندو او پلرونو نه جدا او وړکتونونو ته ولېږل او بالغان یې ټول زندانیان کړل او چې دامریکا دبشر دحقوقو ادارو او رسنیو ددې عمل پرضد اواز پورته کړ او دا یې دبشریت ضد عمل وګڼلو نو ټرمپ دا پرېکړه لغوه کړه او دوالدینو سره دکوچنیانو دیو ځای کولو حکم یې صادر کړ.

دامریکا مهم اتحادي برتانیه ،دکډوالو په مقابل کې دتعصب ښکاره کولو په لړ کې دامریکا نه هم دوه قدمه وړاندې ده؛دبرتانې رسنئ او دبشر۔ دحقوقو ادارې دمکسیکو نه دراتلونکو کډوالو دمخنیوي له امله پرامریکا ډېر انتقادونه کوي او ځان دبشر دحقوقو دساتنې اتلان ښایي حال دا چې پخپله برتانې د ۲۰۱۱ م کال راهیسې دې هېواد ته داسیایي او افریقایي کډوالو په ورداخلېدلو بندیز لګولی دی.

دکارموندنې په هیله دنورو غریبو اروپايي هېوادونو نه دراغلو کډوالو په مقابل کې چې برتانې کوم تعصب ښکاره کړی دا په ټولې اروپا کې ساری نه لري؛برتانې ته دنورو غریبو اروپايي هېوادونو نه دراغلو کډوالو شمېر کابو ۳ ملیونو ته رسېږي؛ددوي نه دځان خلاصولو او دنورو کډوالو دراتګ دمخنیوي په موخه برتانې داروپايي اتحاد نه دوتلو پرېکړه کړېده.

داروپايي اتحاد نه دجدا کېدلو یا نه جدا کېدلو په موخه دوه کاله وړاندې په برتانې کې یوه ټولپوښتنه ترسره شوه چې پکې دبرتانوي ولس اکثریت د اروپايي اتحاد نه دوتلو په حق کې رایې ورکړې.

تېر کال دبرتانې په پارلمان اوسنا مجلس کې هم پدې اړه رایې واچول شوې چې دسنا مجلس د ۱۱۸ په مقابل کې ۲۷۴ او دپارلمان د۱۲۲ په مقابل کې ۴۹۳ غړو داروپايي اتحاد نه د راوتلو په حق کې رایې ورکړې.

داروپايي اتحاد نه دراوتلو لپاره ددې اتحاد د ۵۰ مې مادې له مخې ددې اتحاد او برتانې ترمنځ خبرې رواني دي او داصولو له مخې به دراتلونکي ۲۰۱۹ م کال دمارچ په ۲۹ مې نېټې برتانیه داروپايي اتحاد نه عملا راووځي او برتانې ته له نورو اروپايي هېوادونو راغلي ۳ ملیونه اروپایان به بېرته خپلو هېوادونو ته ستانه شي.

سره له دې چې په برتانې کې ملت پالو سیاسي ګوندونو ته ډېر مقبولیت ندی په برخه شوی خو بیا هم په هېواد کې دملت پالنې او دنورو په وړاندې دتعصب سیلۍ را الوتی ده او دهېواد په طول او عرض کې داسې ځواکمنې کړۍ شته چې دبرتانې نه داروپایانو په شمول دټولو بهرنیانو دویستلو لپاره یې تحریک شروع کړېدی.

حقیقت دا دی چې اروپايي اتحاد دسترګوانې سره مخامخ دی او دبرتانې ترڅنګ ددې اتحاد غړي نور داسې هېوادونه هم شته چې سیکولرزم ته پکې سخت خطر متوجې دی؛ملت پال پکې ورو ورو قوي کېږي؛دبهرنو او خصوصاً دمسلمانو کډوالو پرضد پکې نفرت زیاتېږي او داروپايي اتحاد نه دجدا کېدو غوښتنه پکې دهرې نه بلې ورځې ته قوت مومي.

اوس په اروپا کې دمېشتو بهرنو لپاره دزیات تشویش وړ خبره دا ده چې ملت پالي ګوندونه په انتخاباتو کې هم ډېرې رایې اخلي؛دې ملت پالو ګوندونو تراوسه په کوم هېواد کې اکثریت ندی ترلاسه خو پدې ډګر کې یې سرراپورته کول هم دخطر نه ډکه خبره ده چې کابو ۳ میاشتې دمخه په انتخاباتو کې په ایټالیا کې دفائیو ستار موومنټ نومې ملت پالي ګوند دلوی ګوند په حیث رامخې ته کېدل ددې تازه مثال دی ؛ داروپايي اتحاد نه دایټالیا راویستل ددې ګوند منشور دی دې ګوند دومره اکثریت ندی ترلاسه کړی چې په یواځې ځان ددولت کابینه جوړه کړي نو ځکه دهېواد دبل ستر ګوند سره اتحاد کولو ته اړ شو.

دیادولو وړ ده چې ایټالیا هم دفرانسې په څېر داروپايي تهذیب مرکز دی؛دا دټولې اروپا څلورم ستر اقتصاداو دجي ۷ رکن دی.

دواتیکان په شمول دشپږو اروپایي هېوادونو سره ګډې پولې لري؛ایټالیا ٦١ ملیونه نفوس لري چې په سترو نړیوالو طاقتونو کې شمېرل کېږي؛پلازمېنه روم یې دروما په نوم دتېرو زمانو دنړۍ دترټولو لوي طاقت مرکزي تقطه وه.

رومي تهذیب په نړۍ کې ترډېره خپل نقوش پرېښودل؛بیا همدا روم دټول غربي تهذیب لپاره مرکز و،همدلته عیسوي مذهب دځانګړي تشخص نه برخمن شو او لاطیني رسم الخط هم دهمدې ځای نه ټولې نړۍ ته خپور شو او داروپا نشأة ثانیه هم دهمدې هېواد نه وشو .

دایټالیا ولسمشر سرجیو متیریلا داتحادي اداري له لوري دمالي وزارت لپاره دنومول شوي وزیر پاولوسیونا دقبلولو نه انکار وکړ او عذر یې دا وړاندې کړچې پدې سره داروپایي اتحاد نه دایټالیا وتل یقیني کېږي ؛ دولسمشرددې اقدام په نتیجه کې ددولت جوړېدلو کار ودرېدلو؛سیاسي بحران رامنځته شو او خبره دوهم ځلي انتخاباتو ته ولاړه چې شاید ددې کال په وروستۍ میاشت یا د راتلونکي ٢٠١٩ م په رومبۍ میاشت کې ترسره شي.

د ٢٨ اروپایي هېوادونو نه جوړ اروپایي اتحاد دپاتې کېدلو زیات حمایت داروپا دوه ستر هېوادونه فرانسه او المان کوي چې دا دواړه هېوادونه دایټالیا دسیاسي بحران دختمولو او دیوې داسې اداري رامنځته کولو لپاره هڅې کوي چې په اتحاد کې دپاتې کېدو غوښتونکې وي خو ملت پالي وایې چې په راتلونکو انتخاباتو کې به دوئ نور هم په وړاندې ولاړ شي او لازیاتې رایې به ترسره کړي.

نړیوالتوب او لبرالیزم داروپایي اتحاد له لومړیتوبونو څخه دی چې هدف ترې په اقتصادي پرمختګ کې دټولو هېوادونو مرسته کول دي خو دټولو هېوادونو ملت پال بیا ددې خبرې خلاف دي؛دوئ خپل ټول وسایل یواځې دهېواد داصل اوسېدونکو لپاره په کار اچول غواړي چې همدا ددوئ د ډېرو رایو اخستلو یو عمده لامل هم دی.

دیادولو وړ ده چې دروم دبحیرې له لارې ایټالیا ته دراغلو کډوالو شمېر نېږدې ٥ سوه زرو ته رسېږي چې له کم تعداد پرته دوئ ټول دشام کډوال دي.

دکډوالو دنړیوالې اداري له لوري دخپرو شویو اعدادو ارقامو له مخې دالمان نه پس دبل هر اروپایي هېواد نه په ایټالیا کې زیات شامي مهاجرین مېشت دي.

ایټالیا په ټولې اروپا کې دیونان نه پس زیات پوروړی هېواد چې دپورونو حجم یې ٢٠٣ ملیاردو یورو ته رسېږي چې داددې هېواد دجي ډي پي ١٣٢ سلنه ده؛رښتیا دا ده چې دا ددې هېواد د اوسیدونکو لپاره ډېر دتشویش نه ډک حالت دی .

خو ملت پالي چې په ګڼ شمېر کې دشامي کډوالو شتون دقرضونو دزیاتوالي او داقتصادي حالت دخرابوالي لپاره دیو عمده لامل په توګه وړاندې کوي نوپدې کې د مبالغې نه کار اخلي ځکه چې دلته دشامي مهاجرینو دراتلو نه لا ډېر دمخه چې په ٢٠٠٨ م کال کې دنړیوال اقتصادي بحران پرمهال اقتصاد مخ په خرابېدو شو په مسلسل ډول مخ په خرابېدو دی او بیا هیڅ دښه والي پرلور راونه ګرځېدو.

خو لنډه دا چې په ایټالیا کې د مېشتو کډوالو پر وړاندې دنفرت او دنورو کډوالو دراتلو سره مخالفت دکډوالو په اړه ددې هېواد په کړنلارې کې بدلون راوستی نو څکه څه موده وړاندې دروم دبحیرې له لارې ددې هېواد ترسرحده دمهاجرینو نه ډکې رسېدلې کښتۍ کې دمهاجرینودډېر اوږد انتظار نه پس هم دولت پرسرحد دکوزېدلو اجازه ورنکړه او کله چې دمرګ دخطر سره ددوئ دمخامخ کېدلو خبرونه رسنیو خپاره کړل نو هسپانې په خپل ساحل دوئ ته دکوزېدو اجازه ورکړه دوه ورځې دمخه یوه بله کښتۍ هم دډېر اوږد انتظار نه پس دایټالیا دسمندري پولو نه په ډېرې ناهیلۍ بېرته راستنه شوه او دهسپانې دولت له لورې دوئ ته هم څکه هسپانې ته د ورتلو اجازه ورکړل شوه چې دوئ هم دمرګ دخطر سره مخامخ شوي وو .

په المان کې دشامي کډوالو دراتګ سره مخالفت شتون خودالمان مشرې اینګلا مرکل همت وکړ؛دشام کډوالو په وړاندې یې دخپل هېواد او ټولې اروپا دروازې پرانستې او په ټولې اروپا کې داسې هېواد وګرځېد چې له ټولو زیات شامي مهاجرین پکې مېشت دي خو المانیانو د هغې دې کار ته په ښه نظر ونه کتل چې پایله یې په انتخاباتو کې رامخې ته شوه؛جرمنیانو په انتخاباتو کې هغې ته هغسې رایې ورنکړې لکه څومره چې پکار وې؛ ۷۰ کلونه پس په المان کې په ړومبي ځل ملت پالې نازي ګوند هم په پارلمان کې په چوکیو ګټلو وتوانېد او مرکل یو کمزوری اتحادي دولت جوړولو ته اړ شو.

بل لور ته داروپايي اتحاد په بل ترټولو مهم هېواد فرانسې کې هم داروپايي اتحاد نه دوتلو ناره پورته شویده او دا ناره ورځ تربلې په فرانسوي ولس کې مقبولېږي؛داسې ښکاري چې ډېر ژر به دفرانسې پارلمان کې هم داروپايي اتحاد نه دراوتلو په اړه خبرې وشي ؛ وروسته به بیا دلته هم دبرتانې په څېر خبره ټولپوښتنې ته ولاړه شي او داروپايي اتحاد نه دوتلو لپاره به پدې هېواد کې هم ورو ورو لار برابره شي.

دفرانسې نه پس هسپانیه  هم داروپايي اتحاد یو خورامهم هېواد دی چې دلته هم ملت پالنې سر راپورته کړیدی؛ددې هېواد یو خپلواک او اباد ولایت کاتالونیه ددولت پرضد دبغاوت اواز پورته کړیدی ؛ د څه مودې راهیسې پکې ډېر ستر لاریونونه ترسره شول چې به پکې لاریون کونکو دهېواد نه خپلواکې غوښتله اوویل به یې چې موږ هسپانیان نه بلکې کاتالونیان یو.

هالينډ چې په اروپا کې یو کوچنی هېواد دی پکې دملت پالنې حرکت زور اخستی دی او داسې ښکاري چې په راتلونکو انتخاباتو کې به ملت پالي ډېرو رایو په اخستلو قدرت ته ورسېږي نو داروپايي اتحاد نه ددې هېواد دوتلو خطر به هم قوي شي.

ددوهم نړیوال جنګ په پایله کې چې اروپا دلویې ځاني او مالي تباهۍ سره مخامخ شوی وه؛داروپا دبیا رغاونې او پرمختګ لپاره ډېرو مشورو او غونډو نه پس اروپايي اتحاد رامنځته شو؛امریکا دې اتحاد ته اوږه ورکړه ؛اروپا اباده شوه؛صنعت یې په پښو ودرېدلو؛دلته اقتصاد وده وکړه چې پکې دنړۍ په سویه ستر اقتصادونه رامنځته شول؛په نړیوال سیاسي ډګر کې دمهم رول ترڅنګ دناټو دنظامي اتحاد په صورت کې دنړۍ په سطحه دستر نظامي ځواک نه هم برخمن شو ؛ اروپايي اتحاد دڅه پاسه تېرو ٦ لسیزو راهیسې دیو کامیاب اتحاد په شکل کې موجود و ؛ داروپایانو ترمنځ ددښمنۍ او نفرت فضا له منځه تللې او دیو والي او خواخوږۍ فضا رامنځته شوې وه چې دبرتانې پرېکړې ددې اتحاد بنسټونه ولړزول او ۸ میاشتې پس چې ترې برتانیه جدا شي نو عملاً به ددې اتحاد ټوټه ټوټه کېدل پیل شي او دا په داسې حال کې ده چې ددې اتحاد لپاره داقتصاد او مهاجرینو دوه سترې ستونزې همداسې لاینحل پاتې دي؛دا دواړه ستونزې به څرنګه حل مومي؟

دبرتانې په شمول ټولې اروپا پدې اړه هیڅ قناعت ښونکی او مربوطه کړنلاره نده وړاندې کړې.

دملیونونو انسانانو دعامه وژنې او لویې ورانۍ نه پس چې په اروپا کې دامن،آبادۍ خوشالۍ او دخپل منځي نفرت او دښمنیو دختمولو لپاره ٦۰ کاله پخوا دجوړ شوي عمارت بنسټونه اوس دبرتانې په لاس ړنګېږي نو په نورو غړو هېوادونو کې ددې کار په اړه افسوس او غصه طبعي ده خو چې کله د سترو ستونزو دحل نه وړاندې عملاً ددې اتحاد ټوټه کېدل او دپولينډ، رومانیه او چیک په څېر دګنو غریبو اروپايي هېوادونو اتباع دبرتانې په څېر دبډایو هېوادونو نه وویستل شي نو نفرتونه به نورهم زیات او خبره به بېرته ددوهم نړیوال جنګ نه وړاندې حالت پرلور روانه شي.

واحد فقيري

# غزني او خارجي مطبوعات

واشنګټن ټايمز د اګسټ پر ۱۳ مه باندي ليکي: طالبانو پر غزني باندي په يوې حيرانونکي حملې کي د متحده ايالاتو فوج غافل ګيره کړ. اخبار ليکي که څه هم په غزني کي د امريکايي عسکر د افغان امنيتي قواوو سره کومک کوي، خو په عين زمان کي طالبانو لګيا دي د غزني ولسوالۍ او کليوالي سيمي نيسي.

واشنګټن تايمز علاوه کوي سياسي مبصرين وايي چي پر غزني باندي د طالبانو پراخه حمله د هغوی نظامي قابليت او ظرفيت ښيي، او دا حالت به د سولي په مذاکراتو کي د هغوی لاس لا غښتلی کړي.

ورځپاڼه علاوه کوي چي پر غزني باندي د طالبانو دې حملې د جمهورريس ټرمپ اوسنۍ ستراتيژي تر سوال لاندي کړې ده. ځکه د هغوی پرمختګ د نظامي محاسبې ګډوډي کړي دي.

اخبار کاږي د نظامي چارو ماهر ښاغلی بيل روګيو وايي،«د افغان حکومت به د امريکايي فوجيانو له مرستي پرته د طالبانو حمله دفع نه کړای سي. اوسنی حالت نه کاميابي ده، او نه هم پرمختګ دئ.» هغه زياتوي که څه هم افغان امينتي قواووي به وکړای سي چي پر غزني باندي خپله ولکه بېرته ټينګه کړي، خو قيمت به ئې ډېر جګ وي. او بالاخره به د دې حالت ساتل ناممکن سي.

ښاغلی روګيو وايي پر غزني باندي د طالبانو حيرانونکي حمله د افغانستان په باره کي د متحده ايالاتو د دفاع وزارت غلط درک او فهم رابرسېره کړ. هغه وايي،«افغان او امريکايي استخبارات د دوښمن په باب محدود او نيمګړي معلومات لري. او د واشنګټن همدا ضعف د سولي مذاکرات هم اغېزمن کوي«.

د افغانستان د چارو بل پخواني مبصر- ښاغلی ډېويډ سډني، چي په افغانستان کي ئې ډېر وخت تېر کړی دئ، وايي،«د سولي لپاره شرايط اماده دي. خو دا د دې معنی نه لري چي شرايط بلکل ايډيال دي، خو شرايط تر پخوا بهتره دي«.

رويټرز د اګسټ پر ۱۴ مه باندي ليکي چي افغان ځواکونو د امريکايي فوجيانو په مرسته د غزني د ښار زياتره سيمي بېرته نيولي دي، خو طالبانو د افغانستان په نورو ولاياتو کي خپلو حملو ته کش ورکړی دئ.

رويټرز کاږي په غزني کي د کابل حکومت څرګنده ناکامي دا ښيي چي د کابل – کندهار لويه لاره نا امنه سوې ده. طالبانو د دوشنبې په ورځ وويل چي ۲٦٦ عسکر ئې وژلي دي. رويټرز ليکي چي د غزني اوسېدونکي له سختو ستونزو سره مخامخ دي، او په ښار کي سپي د مړو جسدونه خوري. يو غزنيچی وايي په ښار کي وچه ډودۍ نه پيدا کېږي، او زياتره دوکانونه تخريب سوي دي.

رويټرز ليکي په کابل کي يو غربي ډپلومات وايي،«په داسي حال کي چي طالبان د جنګ په ميدانونو کي خپل ځان او نظامي طاقت ثابتوي، د متحده ايالاتو ډپلوماتان لګيا دي د سولي خبري کوي. د جنګ او سولي يو ځای کېدل ناممکن دي. دواړه موازي حرکت نه سي کولای«.

عبدالرحيم (ثاقب)
ليکوال او سياسي شنونکی

# ولې د غزني جګړه؟

په داسې حال کې چې امريکايي رسنيو د طالبانو او امريکايي چارواکو ترمنځ د افغانستان د سولې په اړه درې ځله د مخامخ خبرو راپور ورکړی او د سولې په تړاو د طالبانو لوړ پوړي پلاوي تازه د ازبکستان له چارواکو سره هم ليدلي خو د افغانستان په د ننه په تيره غزني ولايت کې خونړيو جګړو زور اخيستی دی.

په کار خو دا وه چې د سولې د مذاکراتي پروسې په پيليدو سره په افغانستان کې د جګړو شدت کم شوی وای ، که کم شوی نه وای لږ ترلږه په خپل پخواني وضعيت خو دريدلی وای.

خو دا چې ولې په دې حساس زماني مقطع (د مذاکراتي بهيرپيل) کې د ټول هيواد په کچه هم امريکايي بمباريو او هم د امريکايي او داخلي خواکونو په خلاف د طالبانو جګړو شدت ومونده لامل يې په لاندې کرښو کې لولو:

**ولې د جګړو شدت؟**

د طالبانو او امريکايي چارواکو ترمنځ مخامخ خبري اصلا د امريکايانو په غوښتنه پيل او د عملي کولو پيل يې هم لومړی د امريکايانو لخوا وشو.

دا خبرې د طرفينو له رسمي تائيد پرته درې ځله تر سره شوې او په پام کې دی چې څلورم ځل يې د لوي اختر له رارسيدو او يا ترهغه وروسته وشي.

خو د عين همدې مذاکراتي بهير په ترڅ کې امريکايي رسنيو د هغه په اړه داسې خپرونې وکړې چې له مخې يې د مذاکراتو په اړه په افغان ولس کې يوډول تشويشونه را پورته کړل.

د هغه ترڅنګ امريکايي لوړ پوړو دفاعي چارواکو هم داسې څرګندونې وکړې چې دوی غواړي طالبان د پوځي زور په مټ دې ته مجبور کړي چې له افغان حکومت سره د خبرو ميز ته حاضر شي.

د بيلګې په توګه د امريکا د پوځ د مرکزي قومندانۍ مشر جنرال جوزيف وتل د اګست د مياشتې په اتمه نيته وويل چې:

((افغان خواکونه به تر هغو خپل پوځي فشار پر طالبانو جاري وساتي تر څوهغوی له افغان دولت سره خبرو اترو ته وادار کړي)) تر شاغلي جنرال جوزيف وړاندې د امريکا د دفاع وزير جيمس متيس هم ورته څرګندونې کړې او په طالبانو باندې يې پوځي فشار خبرو ته د هغوی د حاضرولو وسيله وګڼله.

له ديپلوماتيک لحاظه د سوله ييز مذاکراتي بهير په مهال د جګړو او زور آزمايي پيشرو او هغه هم د داسې چا لخوا چې پوځي ډګرهم دوئ بايللی وي په ياد بهير باندې منفي اغيز غورځوي.

د طالبانو پوځي او سياسي چارواکي چې د مذاکراتي بهير په درشل کې د امريکايي جنرالانو څرګندونې او کړه وړه په دقت څاري ، د هغوي پوځي چارواکي ديته مجبورکړل چې په پوځي ډګر کې په داسې اقداماتو لاس پورې کړې چې وښيي دوي په نظامي جبهه کې لاس بري ، نه داچې د امريکا له پوځي فشاره متأثر دي.

**سياسي امتياز غوښتنه**

ځيني سياسي محللين د طالبانو لخوا د غزني جګړه په مذاکراتي بهير کې د هغوی د تفوق جويي او سياسي امتياز غوښتنې لامل بولي ، خو واقعيت دا دی چې د غزني جګړه او په هيواد کې د طالبانو نور

تازه پوځي تحرکات په مذاکراتو کې د امتیاز غوښتنې په خاطر نه ؛ بلکې د امریکايي جګړه خوښو جنرالانو او چارواکو د هغو جنګ جویانه څرګندونو په غبرګون کې د طالبانو عکس العمل دی چې په قصدي ډول یې دغسې کړنو ته مجبورکړل.

څکه په دې خبره امریکايي جنرالان او د هغوی د نظامي چارو محللین هم اعتراف لري چې طالبان په افغانستان کې له نظامي لحاظه پر امریکایانو برلاسي دي او همدې برلاسي امریکایان مجبور کړل چې د طالبانو د غوښتنې مطابق له هغوی سره مخامخ خبرې وکړي.

خو د خبرو په منځ کې بیا د امریکایانو پوځي چارواکي داسې څرګندونې کوي چې ګواکې د دوي پوځي فشارونو طالبان خبرو ته مجبور کړي چې دا بلکل د واقعیت خلاف دی.

**د طالبانو پوځي غبرګون:** طالبان چې تر اوسه یې په رسمي کچه له امریکایانو سره د مخامخ خبرو په اړه هیڅ هم نه دي ویلي خو په پوځي سطحه یې د امریکايي چارواکو دفاع وزیر جیمس متیس او جنرال جوزیف وتل جنګ بلوونکو څرګندونو ته په عملي ډول غبرګون وښود او له دې څرګندونو سره هم مهال یې د افغانستان په مختلفو ولایتونو کې خپل عملیاتي بهیر داسې ګړندی کړ چې د هغه په کنترولو لو کې هم امریکایان او هم د هغوی لخوا روزل شوي مجهز داخلي ځواکونو ناتوانه او بیوسه شول.

دا عملیاتي بهیر له مرکزي ستراتیژیک ولایت غزني څخه پیل تر دای کونډې، هلمند، بادغیس ، فاریاب ، جوزجان، قندوز، بغلان ، تخار ، ننګرهار او بدخشان پورې ورسیده چې هیڅ ځای یې نه امریکايي او نه هم داخلي ځواکونو د هغوی مخه ډب کړای شوه.

طالبانو په جوزجان ولایت کې د داعش هغه ځواکمن قوت چې امریکایانو په خپل تبلیغاتي کمپاین کې مسکو او ټوله منځنۍ آسیا باندې ویروله په ډیر کم وخت کې داسې نابود کړ چې که د امریکایانو په دستور دولتي څرخکو ورته نجات نه وای ورکړی ښایي نور په افغانستان کې د داعش په نوم نور د دې پدیدې نوم هم چانه وای اوریدلای.

**د لوی اختر په مناسبت د اوربند فرصت ضایع کول**

په تیر کمکي اخترکې د طالبانو لخوا دری ورځنی اوربند د هیواد په تیر څلویښت کلن جګړه ییز تاریخ کې یوه معجزه وه چې له جګړه ځپلیو افغانانو سره یې د سولې په اړه ډیرې هیلې راپیدا کړې.

توقع کیده چې په راتلونکي لوی اختر کې یوځل بیا افغانان د دغه طلايي فرصت له خوښیو برخمن شوي او دا اختر یې هم د سولې او امن په فضاء کې تیر کړی وای.

خو د مذاکراتي بهیر په منځ کې د امریکايي چاروکو د زور او فشار کارونې غیر مسؤلانه څرګندونو دا طلايي چانس هم ضایع او سولې ته لیواله افغانان یې د هغه له خوښیو بې برخې کړل.

څکه تیر ځل اوربند هم چې د طالبانو حسن نیت او د هغوی شخصي نوښت و امریکايي چارواکو په غیر مستقیم ډول په خپلو تبلیغاتو کې داسې وانمود کوله چې ګواکې یاد اوربند د هغوی د هلو خلو په نتیجه کې رامنځته شوی.

داځل که فرضا طالبان اوربند اعلانوي امریکایان به حتما دا تبلیغاتي استفاده جویي ترې کوي چې دا هم په مذکراتي پروسه کې له هغوی (طالبانو) څخه زمونږ غوښتنه وه چې د طالبانو لخوا ومنل شوه.

لکه څرنګه چې اوس هم عملا په ملي یووالي حکومت کې امریکایانو ته نیږدې حلقاتو په غیر رسمي ډول دا ګونګوسي پیل کړې چې د راتلونکي لوي اختر اوربند د طالبانو او امریکایانو د مخامخ خبرو پیلیدو د یوه شرط په توګه تر سره کیږي.

**خلاصه:**

امریکایان په افغانستان کې د سولې په نوم هلې ځلې هم د بایللې جګړې د ګټلو په خاطرکوي ، خو داچې هغوی له تیرې ۱۷ کلنې مستقیمې جګړې څخه څه ترلاسه نه کړل ، نو د سولې په نوم له دغو ابزاري هلو څخه به هم هیڅ ترلاسه نه کړای شي.

د غزني د خونړۍ جګړې د بشري او مالي تلفاتو پیټی هم د افغانانو په اوږو باندې ورلویږي چې د سوله ییزو خبرو په مهال د امریکايي ناسمو کړنو په نتیجه کې رامنځته شول.

امریکایان باید نور د سولې په پلمه افغانان ونه خوروي، که ریښتیا د افغانستان د سریښو له ډنډه ځان خلاصول غواړي نو باید په صادقانه ډول مذاکراتي بهیر ته اماده او له تبلیغاتي شرارتونه پرته هغه پرمخ یوسي.

# د کاناډايي افسر قاتل

## که د وخت وزير محمد اکبرخان

گرمسيری

۲۰۰۸ م کال و چې د کندهار ولايت د شاوليکوټ ولسوالۍ د کوندلانو د نرۍ ولې په کلي کښې يو پنځلس کلن هلک پر يوه کاناډايي افسر د تبر ګزار وکړ او ځای په ځای يې وواژه.

د سيمي د خلکو په وينا چې دغه هلک عبدالکريم نوميدی او د عبدالرشيد زوی و چې ددې سيمي د يوې غريبې کورنۍ سره يې تعلق درلود او په کلي کې يې بزګري کوله، پلار يې د کلي موچي و. نوموړي پر کاناډايي افسر په داسي حال کي د تبر ګزار وکړ چې کله ياد افسر د کلي خلکو ته د برمو او ځاګانو په هکله لاربنووني کولې ( سره ددې چې دغه کاناډايي افسر زراغت پوه نه بلکه پوځي و)، وروسته تر بريد نوموړی هلک هم د کاناډايي عسکرو له خوا ځای پر ځای په شهادت ورسيدی.

قيصه داسي وه چې يو ګروپ کاناډايي عسکرو په ياده سيمه کښې ګزمه کوله او پر همدې مهال يې د خپل يوه ژباړن ( ترجمان ) په توسط په لوډ سپيکر کي خلکو ته ږغ وکړی چي راټول سئ تر څو د ايساف عسکر ددوی سره د نږدې ووينې او يو لړ مهمي خبري ورسره وکړي.

تر اعلان وروسته يو شمېر خلک چې تعداد به يې تقريبا شل کسان وه په ياده سيمه کي تر يوې وني لاندي راټول سول.

په دې وخت کي يو کاناډايي افسر د خلکو په مخ کي ودريدی او خلکو ته يې د خپل ترجمان په توسط خبري کولې او د ځاګانو په هکله يې لاربنووني کولې او ورسره يې دا خبري هم کولې چې ترهګرو ته په خپلو کورونو کي ځای مه ورکوئ او داسي نور...

په دې ورځ غازي عبدالکريم تر پينبي يو ساعت مخکي خپلو همزولو ته ويلي وه چې زه نن يو امريکايي عسکر په ډبره وژنم، هغوی ورته ويلي وه چې هلکه په ډبره نه وژل کيږي ځکه هغوی اوسپنيزي خولی پر سر کوي ، وروسته يې يو کوچنی چاقو پيدا کړی و، همزولو بيا ورته ويلي وه چي په دې سره هم نه وژل کيږي خو اخر د پيښي ځای ته نږدې د کلي خلکو د يوې ويالې پر غاړه ولاړې وني په تبر (کهی) وهلي چي نوموړی ورغلی و او په پټه يې يو تبر ځيني را اخيستی و، ترشا يې نيولی و کله چي راغلی لومړی يې د ترجمان څخه پوښتنه وکړه چي ستاسو مشر څوک دی؟ هغه ورته وويل : هغه افسر دی چي د خلکو په مينځ کښې لڅ سر ولاړ دی او خبري کوي.

په همدې وخت کښې عبدالکريم د خلکو په مينځ کي يو ځای غلی کښيناستی، څو شيبې وروسته نوموړی ورنږدې سو او په لوڅ سر ولاړ کاناډايي افسر يې د شا د خوا په تبر وواهه.

د عيني شاهدانو په قول چي عبدالکريم دغه کافر په دومره زور وواهه چي تبر د افسر په سرکي بند سو، عيني شاهدان وايي چي کيدای سي په دې وخت کي عبدالکريم غوښتل چي بل وار هم پر وکړی ځکه کوشش يې کاوه چي تبر راوباسي خو

تبر دومره زيات د کاناډايي افسر- په سرکي ننوتلی و چي ښخي بند و او عبدالکريم د تبر کښلو په وخت کي د ډېر زور څخه پر شا چپه سو.

تر برید وروسته ناستو خلکو د الله اکبر نارې شروع کړې او ټول ودریدل چي په دې وخت کي نورو ولاړو کاناډايي عسکرو عبدالکريم ژوندی ونیوی او د خلکو په مخ کي يې په داسي حال کي په مرميو سوری سوری کړ چي مخ پر قبله د لمونځ په ډول ولاړ و او ځای پر ځای يې په شهادت ورسوی . انا لله واناالیه راجعون

د شهيد قبر د بريد پر ځای اوس هم سته چي د سيمي خلک همېشه زيارت ته ورځي او روح ته يې دعا کوي.

بايد ووايو چي تر پيښي وروسته شهيد اميرالمؤمنين ملا اختر محمد (منصور) صاحب تقبله الله چي هغه وخت د اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله مرستيال و، ما ته په دې خاطر چي زه د جنوب لويديځي حوزې د فرهنګي چارو کمېسيون مسؤل وم هدايت وکړ چي يو ملګری پيدا کړه او د دې پيښي بشپړ معلومات زما سره شريک کړئ تر څو معلومه سي چي دا کار څنګه او چا وکړی.

بالاخره ما هم خپل يو نږدې ملګری ( ملا اسماعيل سعادت) چي في الحاله د هلمند ولايت د تعليم او تربيې مرستيال دی ددې موضوع د څېړلو لپاره سيمي ته وليږی، نوموړی د بشپړو معلوماتو راوړلو سره يو ځای هغه تبر هم راوړی چي کاناډايي افسر- يې په وژلی و چي هغه تبر اوس هم زما سره د تاريخ اثر په توګه د تاريخ ساتلو په خاطر محفوظ پروت دی، په څو پوښونو کي مي پېچلی او همدارنګه مي په يوه خوندي ځای کي ساتلی دی چي اوس هم په وينو لړلی او د کاناډايي افسر- د سر وېښتان ورباندي موښتي دي.

د يادوني وړ ده چي په هغه وخت کښي مشرتابه مقام ډير کوشش وکړی چي د عبدالکريم غازي کورنی پيدا کړي تر څو نقدي کومک ورسره وکړي خو تر پيښي سمدستي وروسته هغوی د ډاره د سيمي څخه تښتيدلي وه او بلي خواته تللي وه چي بيا څو کاله وروسته د درک په موندلو سره سم شهيد منصور صاحب تقبله الله ورسره لازم کومک وکړی.

دا لومړی ځل نه دی چي افغانان په تش لاس په اشغالګرو ځواکونو حملې کوي او هغوی په خپل توان سره له منځه وړي بلکي زموږ د نيکونو پر وخت د انګريزانو سره د چاقو او چړو په توسط مکناټن د وزير محمد اکبر خان له خوا په يوه مخامخ مجلس کي مردار کړای سو او دغه راز د شورويانو د اشغال پر وخت د دوی پر وحشي- عسکرو ورته حملې وسوي چي حتی روسان يې په خپلو وسلو وويشتل او هغوی يې له منځه يووړل، همدارنګه د امريکايي ځواکونو د اشغال پر وخت ګڼ شمېر مجاهدينو د هيواد په مختلفو سيمو کي پر اشغالګرو عسکرو ورته حملې ترسره کړې چي تقريباً شل ورته بريدونه ما د خان سره ثبت کړي دي.

# امریکايي ولس

## دافغانستان له جگړې څخه ولې ناخبره ساتل کيږي؟

(خبيراحمدم)

د«راسموسن ريپورتس» په نوم يوامريکايي شرکت دی چې دامريکادمهمومسائيلواوموضوعاتوپه اړه وخت ناوخت نظرپوښتنې اوڅيړنې راټولوي اوبيايې خپروي وايي: دافغانستان دجگړې په اړه دامريکاولس ډيرکم اوپه هيڅ شمارمعلومات په لاس کې لري.

په داسې حال کې چې دافغانستان اوجنوبي اسياپه اړه دټرامپ له اعلان شوي جنګي ستراتيژي چې کابوشپږمياشتې اوړي دافغانستان په بې دفاع ولس دټرامپ په قومنده ۲ زره ۹۱۱ بمونه غورځول شوي ، چې په ترڅ کې يې سوونه افغانان وژل شوي اودرون مالي زيان يې ګاللی .

راسموسن ريپورتس وايي دامريکا۵۸ فيصده وګړي صرف دومره معلومات لري چې له تيرو۱۷ کلونو راهيسې- لاهم په افغانستان کې جګړه روانه ده ، ۲۱ فيصده خلک ګمان کوي چې دافغانستان جګړه امريکاپای ته رسولې ، دغه ډول ۲۱ فيصده امريکايان دافغانستان له حالاتواورواني جګړې څخه په يومخيزډول ناخبره اوبې معلوماتودي په مثبتو اومنفي خواووېې له کومې تبصرې کولوډډه کوي

منبع وايي دافغانستان جګړه چې دامريکاپه تاريخ کې اوږده اوملاماتونکې ده ؛ خوداچې بياهم امريکايي ولس يې په اړه کافي اوبشپړمعلومات نلري ښايي دتعجب وړبه څکه نه وي چې دغه کارته سپيني ماڼې اوپنتاګون ديوې تګلارې له مخې رسنۍ اومطبوعات په لوی لاس اوقصدي ډول ندي پرې ايښې اواجازه نه ورکوي چې دغې جګړې په باب ولس ته حقائق اومعلومات وړاندې کړي چې سراسرله مايوسيو، ناکامياوخنډونو څخه ډکه ده اوددې ډول ستراتيژيو باوجود يا دجنګ د امريکاپه تاريخي زيان اوتباهی څرخي .

څه موده وړاندې «نيوزباسترز» په خپلې يوې څيړنې کې دافغانستان د۱۷ کلن جنګ په اړه دامريکا دمشهورو تلويزونورول اورسالت سخت منفي اوبې ارزښته بللی ويلي يې و چې «ای.بی.سی» ،«سی.بی.اس» و«ان.بی.سی» تلويزوني شبکودنيږدي شپږومياشتوپه اوږدوکې دافغانستان دجګړې په باب صرف ۳۲ دقيقې خبرونه اوپيښې تحليل اووړاندې کړي.

په يادوشپږومياشتوکې نوموړوتلويزونودروسيې په اړه (۴۴۲ دقيقې) اودټرامپ دجنجالي سياست اوعجائيبوپه هکله (۱۰۷ دقيقې ) خبرونه خپاره کړي .

راسموسن ريپورتس په خپل تحليل کې زياتوي : دامريکاولس په عمومي ډول فکرکوي چې دافغانستان جنګ دهغوئ په ګټه اونفع روان دي اويادامريکاترکنټرول اوابتکارلاندې ده ،په داسې حال کې چې حالات اوحقائيق بلکل برعکس اوسرچپه دي .

دافغانستان جګړې دامريکا دوه ترليونه ډالروخوړل ، پنځوس زره امريکايي عسکرپکې مړه اوګوډومات شول ، دامريکاټولومجربوجنرالانوله ټولوتجربو، زور ازموينو اوستراتيژيو سره پر شاتګ ومانه او له ټولو هلوځلو او امکاناتو سره يې په افغانستان يوه داسې اداره اونظام رامنځته نکړای شو چې لږ ترلږه په يوځوښاروکې امن اوثبات ټينګ کړي اوخلکو ته د ژوند ړومبنی اسانتياوي برابري کړي

دسرچينې په خبره که امريکايي ولس دافغانستان درواني ناکامې جګړې اودامريکايي عسکروپه ځاني ، مالي اوهراړخيزوزيانونوباندې خبرشي اوهم دامريکايي پوځيانوله لوري دملکي افغانانوپه مرګ ژوبلې اوترسره کړوبشري خلاف ورزيانو پوره معلومات حاصل کړي ؛ نوله شک پرته به دامريکايي ولس غبرګون اوچلندسخت جدي ووسي اوډيرژر به له خپلوچارواکوڅخه وغواړي چې دافغانستان جګړې ته دپای ټکی کيږدي .

# محلي اردو

## یا د اربکیزم نوی ورژن

خالد افغان زوی

په دې وروستیو کې حکومتي چارواکي او رسنۍ خبر ورکوي چې د امریکا تر مشرۍ لاندې د کابل ادارې دفاع وزارت په پام کې لري چې د محلي اردو په نوم یو نوی امنیتي تشکیل رامنځته او په لرې پرتو سیمو کې امنیتي مسؤلیت وروسپاري. د دفاع وزارت لخوا ورکړل شوي معلومات ښيي چې د ملیشه سازۍ د دې نوي پروګرام په لومړي پړاو کې به د هیواد په ختیځ کې پنځه زره تنه د اردو پخواني عسکر او قراردادیان مسلح شي، دوی ته به د اردو د سربازانو نه یو څه کم معاش ورکول کیږي خو د افسرانو معاش به یې د اردو له معاش سره برابر وي. دفاع وزارت د ملیشه سازۍ د دې نوي پروګرام خبر د تیر کال په سبمتبر میاشت کې رسنیز کړی و، خو عملي ګام یې د سږ کال د جون په وروستیو کې واخیستل شو. د جون د میاشتې په ۲۷ مه په ننګرهار کې چارواکو وویل چې د محلي اردو په نوم د ملیشو لپاره یې د جلب او جذب لړۍ پیل کړې ده.

### د ملیشه سازۍ لنډ شالید

په افغانستان کې د ملیشه سازۍ دود له هغه وروسته پیل شو کله چې د شوروي یرغل په مهال روسي لښکرو او د واکمن کمونیست ګوند پوځیانو د افغانستان په اطرافي سیمو کې د مجاهدینو په وړاندې جګړو کې درانه تلفات وګالل او نور ورته د پوځیانو په قرباني د دې جګړو پالل ناشوني شول. هغه مهال کمونیست رژیم د خپلو پوځي تلفاتو د کمولو لپاره د بې جلبه او بې تعلیمه ټوپکیانو ملیشې جوړې کړې، دغه ملیشې زیاتره په قومي اساس جوړې شوې وې. چې مشهورې یې د دوستم، رسول پهلوان، سید منصور نادری، جبار قهرمان، عصمت مسلم او نورو قومندانانو تر مشرۍ لاندې جنګي ډلې وې. دغه ملیشې چې وروسته د رژیم په مهم ځواک بدلې شوې که څه هم د لنډ وخت لپاره یې د مجاهدینو په لاس د ښارونو د سقوط مخه ونیوله، خو ډیر ژر کمونیست رژیم ته په سرخوږي بدلې شوې، بغاوتونواو جرمي اعمالو ته یې لاس واچاوه، په ډیرو سیمو کې یې قومي منازعات راوپارول او د لساني، قومي او سمتي دښمنیو فتنه یې راوېښه کړه.

د کمونیست رژیم د وخت ملیشې چې د ډاکټر نجیب حکومت د خپلې دفاع او بقا لپاره جوړې کړې وې، وروسته یې د همدې رژیم ته سقوط ورکړ، په پیل

کې جنرال دوستم باغي شو او ټول شمال يې د مرکزي حکومت له تنې بيل کړ، وروسته همدې مليشو د جبل السراج د ايتلاف په همکارۍ په کابل کې په نجيب خاموشه کودتا وکړه او د پلازمينې واک يې په کنټرول کې واخيست. د دې مليشو له جملې جنرال دوستم وروسته د مجاهدينو حکومت ته هم په لوی سرخوړۍ بدل شو، د کابل په جګړو، وحشتونو او چور چپاول کې دوستمي گلم جمو اساسي نقش درلود او د پرلپسې ايتلافونو او اړخ بدلولو له لارې يې د داخلي جنګ نغری تود ساته.

خو د کمونيستي واکمنۍ په وخت کې د مليشه سازۍ د تجربې له ناکامۍ اوسنيو يرغلګرو او داخلي اجيرانو يې هيڅ زده کړه ونکړه. په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو پخواني قومندان جنرال ډيوېډ پيټراييس چې په عراق کې يې د محلي مليشو د جوړولو تجربه درلود په ۲۰۱۱ ميلادي کال کې يې په افغانستان کې هم د مليشه سازۍ پروګرام د اربکيانو، محلي پوليسو او ملي پاڅون له نومونو په استفاده پيل کړ او په دې پراخه کې يې په سلګونو ميليونه ډالر خرڅ کړل.

د اربک سازۍ پروژه د افغانستان د روانې جګړې تر ټولو بدمرغه او ترخه تجربه وه، اشغالګرو په کليو او اطرافو کې د بې روزګاره او کوڅه ډبو ځوانانو، نشه يانو او د امنيتي کمپنيو له پخوانيو کارمندانو څخه د يوې نوې ځواک د جوړولو پروګرام پيل کړ. د هيواد په ټولو ولاياتو کې دغه پروګرام په ډير قوت شروع شو، دغه مليشو ته تعليم او تربيه نه ورکول کيدله، بلکې يوازې ټوپک او مرمۍ ورکول کيدلې تر څو په کليوالو سيمو کې هر څه يې چې يې زړه غواړي هغه اعمال سرته ورسوي.

د اربکيزم پروژه په حقيقت کې د اطرافي سيمو د اوسيدونکو د ځورولو، بې کوره کولو او د مال او شتمنيو د لوټ تالان سيستماتيک آغاز و، په ډيرو سيمو کې مجاهدينو د اربکيزم د پروژې مخنيوی وکړ اما په کومو سيمو کې چې دا پروژه کاميابه شوه ورسره په عام اولس بې دريغه مظالم پيل شول. اربکيانو هر متدين افغان د طالب په نوم يا بې کوره کاوه او يا يې هم په صحرايي محکمو کې د بند او قتل سزا ورکوله، په دې سربيره له خلکو په زوره مالونه وړل، د خلکو په کورونو کې پوستې جوړول، په خلکو جبري مالي وضع کول، قسماقسم بد اخلاقۍ او مظالم هغه ناخوالې وې چې داربکيزم پروژې له ځان سره راوړې. تر دې چې وروسته همدا پروژه ځکه اشغالګرو او د کابل رژيم ته په زيان تمامه شوه چې بې جلبه اربکيان په اطرافي سيمو کې د حکومت استازي بلل کيدل او په هر ناوړه عمل سره يې د اولس او حکومت تر منځ فاصله او ناباوري زياتيدله.

د اربکيزم پروژه چې پراخ تبليغات ورته کيدل او په سلګونو ميليونه ډالر ورباندې مصرف شول د څو کلونو له تيريدو وروسته نهايتا ځکه له زوال سره مخامخ شوه چې په اکثرو سيمو کې يې ولسي- انتقامي غبرګونونه راوپارول، دغه راز اربکيانو د وسلو، پوځي موټرو او تدارکاتي توکو په خرڅولو او مجاهدينو ته په سپارلو سره جهادي ليکو ته غير ارادي قوت ورکړ چې وروسته يې له امله په اطرافي سيمو کې د کابل درژيم واکمنې

پای ته ورسیدله او اربکیانو ته سپارل شوې نړدې ټولې سیمې د مجاهدینو تر واک لاندې راغلې. د اربکیانو د پروژې له پیل اوه کاله وروسته اوس یوازې د پکتیکا، کندهار، او هلمند په ځینو ساحو کې اربکیان پاته دي په نورو ولایاتو کې دغه فتنه کاملا محو شوې او تر واک لاندې سیمې یې مجاهدینو نیولي دي.

## آیا محلي اردو به نتیجه ورکړي؟

اوس چې د اربکیانو، پاڅونیانو او محلي پولیسو له ناکامۍ وروسته یو ځل بیا د محلي اردو په نوم ملیشې جوړیږي نو معلومه خبره ده چې د زړې تجربې او فارمولې تکرار دی چې لزوما به یې نتیجه هم د پخوا په شان وي. په اوس وخت کې د دې ملیشو د بریا چانس ځکه کم دی چې یو خو په اولس کې د اشغال په اړه عمومي شعور او د پوهې کچه لوړه شوې ده. افغان اولس له اوولس کلنو تجربو وروسته اوس اشغالګر او هغوی شیطاني دسیسې پیژندلې دي. اوس ټول پوهیږي چې اشغالګر د پاڅون، اربکي او دغسې نورو جالبو نومونو څخه په استفاده یو ځل بیا ټوپکیزم را ژوندی کوي، بې جلبه او بدعنصره وسلوال تشکیلات جوړوي چې حتمي پایله یې یوازې د اولس ځورول او د بداخلاقیو او هرج و مرج ایجاد دی.

افغان اولس ته د اربکیانو مظالم یاد دي. نو ځکه به د بل ځل لپاره د دښمن په خوږو خبرو ونه غولیږي. اولس ته معلومه ده چې د اربکیزم له پروژې سره نه یوازې د اولس سر، مال او عزت له خطر سره مخامخ شو، بلکې په کلیو او اطرافو کې یې کور په کور بدۍ، قومي منازعات او خپل منځي دښمنۍ هم وزیږولې،ځوان نسل یې د ګمراهۍ په خوا سوق کړ او بې شمیره بدمرغۍ یې په میراث پریښودې.

دغه راز هغه ټوپکیان چې د اربکیزم په پروژه کې وکارېدل، دا ورته یاد دي چې امریکایانو او مرکزي حکومت څرنګه په سپیره میدان پریښودل، هغوی به چې دمجاهدینو په لاس وژل کیدل نو په تلفاتو یې امریکایانو باک نه کاوه او په دې بده ورځ یې دوی غیر مسؤل ټوپکیان بلل. د اربکیزم د پروژې پاتې شوني عناصر د اشغالګرو او کابل رژیم جفا په یاد لري نو ځکه به بیا ځان د هغوی د دفاع لپاره سپر نه کړي.

## اولس او مجاهدین باید څه وکړي؟

اوس چې اشغالګرو او داخلي اجیرانو پریکړه کړې چې له اطرافي سیمو به پر شا کیږي، خپل ځواکونه به ښارونو ته راټولوي او په اطرافو کې به د جګړې مسؤلیت د محلي اردو تر نوم لاندې نویو جوړیدونکو ملیشو ته سپاري. نو د دې ملیشو د جوړیدلو او بریا چانس که څه هم ډیر لږ دی خو اولس او مجاهدین یې باید مخنیوي ته بیدار واوسي داسې اقدامات بایدوکړي چې د دشمن دغه شیطاني توطئه په نطفه کې خنثی شي تر څو په دې ډول د ډیرو غولیدلو ځوانانو د وینو تویدلو مخه ونیول شي او په اطرافي سیمو کې د نویو جګړو د پیل مخه ډب شي.

د کابل رژیم د دفاع وزرات ویاند جنرال رادمنش وایي چې په محلي اردو کې به زیاتره هغه کسان استخدام شي چې پخوا یې په ملي اردو کې دندې اجراء کړې او بیا له دې صفه وتلي دي. د موجوده رژیم د اردو

زياتره عساكر د افغانستان د شرقي او شمال شرقي ولاياتو سره تړاو لري. په دې ولاياتو كې ډېرو كسانو يو وخت په اردو كې دندې اجراء كړې دي چې زياتره يې له دې صفه له راوتلو وروسته د اسلامي امارت د دعوت او ارشاد كميسيون ته تسليم شوي او د حفاظت كارتونه يې هم اخيستي دي.

په دې ولاياتو كې مجاهدين بايد په همدې تسليم شويو كسانو خصوصي څار ولري. تر څو يې دښمن بيا ونه غولوي، د هغوى تضمينونه بايد له سره وارزوي تر څو يې د دښمن ليكو ته د ورتګ احتمال نفي شي. دغه راز د دعوت او ارشادكميسيون بايد د علماء كرامو او قومي مخورو سره په مشوره او ګډ كار په اولس كې پراخ دعوتي او تنويري فعاليت بايد وكړي، د اولس ځوانان په خاص ډول

هغه كسان چې يو ځل يې د دښمن په صفوفو كې وظيفې اجراء كړې او بيا د اسلامي امارت د عفوې له فرمان څخه په استفاده تسليم شوي دي. هغوى بايد پوه كړل شي چې د دوهم ځل لپاره د دښمن ليكو ته ورنشي. ځكه چې په دې سره يې شوى عهد مات او د سختې سزا مستحق به وګرځي.

له دې نه علاوه د پخوانيو مليشو، ټوپكيانو، ګلم جمو، اربكيانو او نورو ناوړه عناصرو فجيع اعمال بايد خلكو ته ورپه ياد كړل شي چې هغو مليشو څه وكړل او په آخر كې له څرنګه بد انجام سره مخامخ شول. نو د اولس د ټولو اقشارو خير په دې كې دى چې ددښمن د دغه شيطاني پروګرام مخه ونيسي. تر څو مو اولس له يوې بلې بدمرغۍ، كور په كور جګړې، ګډوډۍ او ټوپكمارۍ څخه محفوظ پاته شي.

# د ذي الحجې دلسو ورځو

# او د قربانۍ فضیلت

مفتي محمدگل سعید

د ذی الحجې دلسوورځوفضیلت:ستر څښتن جل جلا له په همدې ورځو بانـدې قسم کـړی دی . والفَجْـر وليـالٍ عَشْرٍ. په دې آیت کې د یادوو شویو لسو ورځـو پـه اړه لـوی عالم شاه ولي الله دهلوي رح وايي: له [الفَجْـر] څخـه مـراد د لوی اختر ورځ او له [وليالٍ عَشْرٍ-] څخـه بيـا مـراد تـر لـوی اختر وړاندې لس ورځې دي.ابن تیمیـه او ابـن قیم (رحمهـم الله) هم همدا خبره غوره گڼلې ده.ابـن کثیر رح بيـا د ایـت کریمه لس شپې؛ د لوی اختر لومړنۍ لس ورځې بولي.دا لـس ورځې د عبادت ځانګړې ورځې دي چې بايـد الله جـل جـلا له پکې زيات يـادکړی شي او همدارنګـه لـوی عبـادت يـانې حج هم په همدې ورځو کې ادا کېږي. ستر څښتن جل جـلا له فرمايلي:وَأَذِّن فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالاً وَعَلَى كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ * لِيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْـمَ اللَّهِ فِي أَيَّامٍ مَّعْلُومَاتٍ عَلَى مَا رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الأَنْعَامِ- د حج سوره، ۲۸ نمبر ایت.ژباړه: او په خلکو کې د حج اعـلان وکـړه، نـو تاته به راځي پلي او سواره په هـره ګرنـدۍ سپرلۍ،د خپلـو ګټو لپاره به له هر لرې ځای راځي، او په معلومو ورځو کې د الله جل جلا له نوم ياد کړئ په هغه څارويو چې در کـړل شـوي دي.ځېنـي دينپوهـان پـه دې عقيـده دي چـې د نـړۍ بهترینې ورځې د لـوی اختـر لـومړۍ لـس ورځـې دي چـې د عرفـات ورځ هـم پکـې ده. عرفـات هغـه ورځ دی چـې الله تعـالی پکـې د جهـنم دروازې تړلـې وي، د خپلـو بنـده ګـانو دعاګانې قبلوي، د هغوئ ګناهونه بخښي او جنت ته يې دننه کوي.ډېرې صحابه کـرام او سـتر علـماء وايـي چـې: د أَيَّامٍ مَّعْلُومَاتٍ موخه د لوی اختر اولې لس ورځې دي.په يادو لسو روځو کې دوهمه ستره ورځ د لـوی اخـتر ورځ ده چـې نبـي کريم صلى الله عليه وسلم يې په اړه فرمـايي:إِنَّ أَعْظَـمَ الأَيَّـامِ عِنْدَ اللَّهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَوْمُ النَّحْرِ ثُمَّ يَوْمُ الْقَرِّ- د ابـو داود سـنن .ژباړه: رښتيا هم چې الله جل جلا له ته تر ټولو ورځـو غـوره ورځې د قرباني او د قربانۍ تر ورځې وروسته ( يانې د لـوی اختر دوهمه) ورځ ده.د دې ورځې په اړه نبي کريم صـلی الله عليه وسلم يو ځای داسې فرمـايي:عن أَبِي هُرَيْـرَةَ قَـالَ: جَـاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم فَقَـالَ:دُلَّنِي عَـلَى عَمَـلٍ يَعْـدِلُ الْجِهَـادَ؟ قَالَ:لاَأَجِـدُهُ. قَالَ:هَـلْ تَسْـتَطِيعُ إِذَا خَـرَجَ الْمُجَاهِدُ أَنْ تَـدْخُلَ مَسْـجِدَكَ فَتَقُـومَ وَ لاَ تَفْـتُرَ، وَتَصُـومَ وَ لاَ تُفْطِرَ؟ قَالَ: وَمَنْ يَسْتَطِيعُ ذَلِكَ؟ بخـاري شريـف ژبـاړه: ابـو هريرة وايي چې يـوه ورځ يـو سـړی پيغمبر صلی الله عليـه وسلم ته راغی او ويې ويل : ما ته داسې کـار را ونښيه چـې بدله يې له جهـاد سره برابـره وي؟ رسـول الله صـلی الله عليـه وسلم ورته وويل: چې داسې کار نشته. بيـا يـې ورتـه وويـل چې: ته داسې کولی شې چې کـوم وخـت مجاهـد لـه خپلـه کوره ووځي او ته جومات ته داخل شې، دومره لمونځ وکړې چې ستړی نشې او په دوامـداره توګـه پرتـه لـه مـاتولو روژه ونيسې؟ هغه ځواب ور کړ چې دا د چا په وسه پوره ده؟نبـي کريم صلى الله عليه وسلم د دې لسو روځو د فضيلت پـه اړه فرمايي: عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم أَنَّـهُ قَـالَ: مَا الْعَمَلُ فِي أَيَّامٍ أَفْضَلَ مِنْهَا فِي هَذِهِ). قَالُوا! وَلاَ الْجِهَـادُ ؟ قَـالَ، وَلاَ الْجِهَادُ، إِلاَّ رَجُلٌ خَرَجَ يُجاهـد بِنَفْسِـهِ وَمَالِـهِ فَلَـمْ يَرْجِـعْ

بِشَيْءٍ. ترجمه: له حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبي رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې د الله تعالی په نزد داسې کومه ورځ نشته چې ښه او نیک عملونه دي هغه جل جلا له ته دومره خوښ وي. صحابه کرامو وویل چې؛ اې د الله رسوله: ایا جهاد هم د دې ورځو د نیکو کړنو په اندازه نه دی؟ هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هو جهاد هم پدی ورځو کې د تر سره شوي ښه کار ( عمل ) سره سم نه دی.لاکن پرته له هغه کسه چې خپل سر او مال دواړه ور سره یوسي خو یو هم را نه وړي (یانې چې د الله تعالی په لاره کې شهید شي). پدې لس ورځو کې د ښه چار ( عمل ) بدله د الله تعالی په لاره کې تر جهاد هم ډېره ده. په دې ورځوکې بایدمسلمان پر خپلو ټولو تېرو ګناهونو د زړه له تله توبه وباسي ،تسبیح ، تحمید ، تهلیل او په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې دې درود وویل شي.

له ابن عمر رضي الله عنه څخه حدیث روایت شوی چې: ما من ایام اعظم و لا احب الی الله العمل فیهن من هذه الایام العشر فاكثروا فيهن من التهليل و التكبير و التحميد-رواه احمد. امام بخاري لیکلي دي چې :كان ابن عمر وأبو هريرة يخرجان إلى السوق في أيام العشر- يكبران ويكبر الناسُ بتكبيرهما. ژباړه: ابن عمر او ابو هريره ( رضی الله عنهم ) دواړه به په دې لسوورځو کې بازارونو ته وتل، تکبیرونه ( الله أكبر الله أكبر، لا إله إلا الله، والله أكبر الله أكبر ولله الحمد) به يې ويل او نورو خلګو به هم ور سره بدرګه کول.پورتني تکبیرونه دې خلګ د عرفات د ورځې له ماسپښین او حاجیان دې د اختر د ورځې له ماسپښین وروسته د هر لمانځه په پای کې؛ د اختر تر دریمې ورځې ووایي.په دې ورځو کې د روژې نیول ډېر زیات ثواب لري. د عرفات د ورځې روژه پرته له حجاجو؛ نورو مسلمانو ته سنت ده. ځکه نبي کريم صلی الله علیه وسلم یې په اړه فرمایي:صِيامُ يُومِ عَرَفَة، أَحْتَسِبُ على اللهِ أَنْ يُكَفِّر السنَة التِي قَبْلَه، والسَّنَة التِي بَعْده.ژباړه:امیدلرم چې د عرفې ( عرفات ) د ورځې روژه به د تېر او راتلونکي کال ټولو ګناهونو ته بدله وي.له حفصې رضي الله عنها څخه روایت شوی دی چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم د عاشورا د ورځې، د دغو لسو ورځو او د هرې میاشتې د دریو ورځو روژې نه پرېښودې.

قرباني:قرباني لکه لمونځ ځانته وخت لري تر هغه وخت مخکې د قرباني کول جواز نلري ، د اختر د ورځې د سهار تر داخلیدو مخکې قرباني کول نه صحیح کیږي ، کله چې سهار داخل شي ، نو د قرباني وخت هم شروع کیږي ، لیکن په هغه علاقو کې چې هلته د اختر لمونځ نه کیږي ، د هغو لپاره بل شرط نشته ، خو په ښارونو کې ، یعني هلته چې د اختر لمونځ ادا کیږي ، د هغو لپاره که څه هم د قرباني وخت داخل دئ ، مګر د دوی لپاره دا شرط دئ چې د اختر تر لمانځه ورروسته به وي ، مخکي صحت نلري ، خو دا بیا ضرور نه دئ چي تر خطبې ویلوبه ورروسته وي ، بلکه که تر خطبې مخکې ذبح شي نو هم صحیح دئ . او اخیري نیټه یې د اختر دریمه ورځ ده ، مطلب دا چې د قرباني وخت درې ورځې او دوه شپې دئ . البته بهتره داده چې د ورځې وي ، د شپې مکروه بلل کیږي ، دارنګه په ورځو کې لومبۍ ورځ تر نورو ډیره بهتره او د اجر په اعتبار زیاته ده په بدایع الصنایع کې دي: فَلَا يَجُوزُ لِأَحَدٍ أَنْ يُضَحِّيَ قَبْلَ طُلُوعِ الْفَجْرِ الثَّانِي مِنْ الْيَوْمِ الْأَوَّلِ مِنْ أَيَّامِ النَّحْرِ وَيَجُوزُ بَعْدَ طُلُوعِهِ سَوَاءٌ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْمِصْرِ أَوْ مِنْ أَهْلِ الْقُرَى ، غَيْرَ أَنَّ لِلْجَوَازِ فِي حَقِّ أَهْلِ الْمِصْرِ شَرْطًا زَائِدًا وَهُوَ أَنْ يَكُونَ بَعْدَ صَلَاةِ الْعِيدِ، لَا يَجُوزُ تَقْدِيمُهَا عَلَيْهِ عِنْدَنَا .

قرباني کول پر هغه چا واجبه ده چي عاقل ، بالغ ، شتمن ، او مقیم وي ، یعني خاوند د نصاب وي او مسافر نه وي ، که خاوند د نصاب نه ؤ ، یا ؤ خو مسافر ؤ ، نو پر هغه قرباني کول نشته . هغه نصاب او شتمني چې پر صاحب یې قرباني واجب ګرځي ، د سرسایې نصاب دئ ، یعني که تر ضرورت او حاجت زیات دومره شیان له یو چا سره موجو دوه ، چې د هغو قیمت دوه پنځوس نیمي تولې سپین زر کیږي ، نو پر دغسي چا باندي قرباني کول واجب ګرځي .

درې جامې په حاجت کې داخلې او څلورمه یې تر ضرورت زیاته  ګڼل کیږي ، د سکونت او استوګنې له کورڅخه پرته بل  کور تر ضرورت زیات دئ  . په یوه سرائ کې تر دووه خونو زیاتې غرفې او کوټې تر حاجت زیاتې دي ، دارنګه تر حاجت زیاتې غالی هم په نصاب کې شمیرل کیږي  . دارنګه هغه څوک چې کتابونه ولري ، که دده د خپلې مطالعې لپاره ؤ ، نو هغه کتاب په نصاب کې داخلیږي کوم چې له ده سره د هغه بله نسخه هم موجوده وي ، او که یو چا د نورو د مطالعې لپاره کتابونه ایښي ؤ، نو دا هم په نصاب کې شامليږي  . پر هغه ښځه هم قرباني شته چې مهر یې معجل وي ، او په مهر مؤجل کې قرباني نشته  . نابالغ او مجنون که د نصاب خاوند ؤ ، نو پدې اړه صحیح قول دادئ چې پر دوی قرباني کول نه دئ واجب . پلار او وَلِي یې نشي کولائ چې د هغوی له مال څخه قرباني وکړي ، البته له خپله ماله څخه یې کولائ سي  . دارنګه پر مسافر هم قرباني کول نه دئ واجب ، البته مستحب کار دئ چې ویې کړي ، که مسافر د قرباني په ورځو کې مقیم شو ، که څه هم د اخیرې ورځې یوه ګنټه پاته وي قرباني وربانديې واجب ګرځي .و في المبسوط : قَالَ ( وَهِيَ وَاجِبَةٌ عَلَى الْمَيَاسِيرِ وَالْمُقِيمِينَ عِنْدَنَا ) وايضا فيه  : «وَإِنْ كَانَ لِلصَّبِيِّ مَالٌ فَقَالَ بَعْضُ مَشَايِخِنَا رَحِمَهُمْ اللَّهُ تَعَالَى عَلَى الْأَبِ وَالْوَصِيِّ أَنْ يُضَحِّيَ مِنْ مَالِهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَلَى قِيَاسِ صَدَقَةِ الْفِطْرِ الْأَصَحُّ أَنَّهُ لَا يَجِبُ ذَلِكَ ، وَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَفْعَلَهُ مِنْ مَالِهِ . فقهاءکرامو لیکلي دي چې د قبرو د زیارت لپاره څلور ورځې تر ټولو بهترې ورځې دي: (دوشنبه ، پنجشنبه ، جمعه او هفته). همدارنګه په هغوورختونوکې زیارت کول ډیر فضیلت لري کوم چې شریعت  له برکته ډک وختونه بللي ، لکه د برائت  شپه، د ذی الحجې د میاشتې اولني لس ورځې ، ددواړو اخترنو ورځې ، او د محرم  لسمه. له دې څخه معلومه شوه چې د اختر په ورځ د وفات شویو قریبانو مقبرې ته تلل ، او دعا ورته کول ، مستحب او افضل کار دئ  . قال في الهندية  : وأفضل أيام الزيارة أربعة يوم الاثنين والخميس والجمعة والسبت والزيارة يوم الجمعة بعد الصلاة حسن ويوم السبت إلى طلوع الشمس ويوم الخميس في أول النهار وقيل في آخر النهار وكذا في الليالي المتبركة لا سيما ليلة براءة وكذلك في الأزمنة المتبركة كعشر ذي الحجة والعيدين وعاشوراء وسائر المواسم كذا في الغرائب .

هغه څوک چې له ده څخه داخترپه لمانځه کې  د اول رکعت تکبیرونه فوت شي ، او امام قرائت وایي ، نو دی به له تکبیر تحریمه وروسته درې تکبیره ووایي ، او همدا ډول دې له امام سره شریک شي  . هغه څوک چې له امام سره د رکوع په حال کې یو ځائ شي ، نو که دده په فکر ده درې واړه  تکبیرونه په ولاړه ادا کولائ شي ، او له امام سره یې رکوع نیولئ شوائ ، نو په ولاړه دې تکبیرونه ووایي لاسونه دې غوړنو ته وړي ، او که د رکوع د تیریدو ویره وه ، نو په رکوع کې به درې تکبیره ووایي ، خو لاسونه به غوړو ته نه پورته کوي  . او که له یو یا دوو تکبیرنو ویلو وروسته سملاسي امام پورته شو ، نو له ده څخه پاته تکبیرونه ساقطیږي ،او که یو څوک له امام سره د اول رکعت د قومې په حال کې یو ځای شو ، نو هغه به اول رکعت سره له تکبیرونو راګرځوي.( إذا أدرك الإمام في صلاة العيد بعد ما تشهد الإمام قبل أن يسلم أو بعدما سلم قبل أن يسجد للسهو أو بعدما سجد للسهو ولم يسلم الإمام فإنه يقوم ويقضي صلاة العيد) .

دلوی اخترپه ورځ سهار وختي راپورته کیدل  ، غسل او مسواک وهل ، پاکې، ستره او عمده جامې اغوستل ، عطر او خوشبویي لګول  ،د اختر  تر لمانځه مخکې خوراک نه کول ، عید ګاه ته د تلو په وخت  په لوړ اواز تکبیرونه ویل  مستحب دي .

قرباني ته د فقهې په اصطلاح کې «اضحیه» ویل کیږي، اضحیه د هجرت په دوهم کال مشروع شوې ده ، په همدغه کال د دواړواخترنولمونځ اوزکات هم مشروع ګرځیدلی دی.  فقهاء کرامو د اضحيې د ثبوت لپاره له قرآن څخه دغه مبارک آیت وړاندې کوي ، چې الله پاک فرمایي :

فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ (الكوثر ۲) . ځینو مفسرینو ددې تفسیر پدې ډول کړی دی چې په دې آیت کې له لمانځه څخه د اختر لمونځ او له نحر څخه قرباني کول مراد دي. او په احادیثو کې د قرباني د ثبوت لپاره ډیر دلایل موجود دي،چې یوځوېې دادي: عَنْ أَنَسٍ قَالَ ضَحَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ أَقْرَنَيْنِ ذَبَحَهُمَا بِيَدِهِ وَسَمَّى وَكَبَّرَ وَوَضَعَ رِجْلَهُ عَلَى صِفَاحِهِمَا. ژباړه: له حضرت أنس څخه روایت دئ چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) دوه سپین رنګي پسونه چې ښکرونه یې درلودل پخپل لاس، پدا ډول ذبح کړل چې خپله مبارکه پښه یې د هغه د غاړې پر طرف کیښودله او بسم الله او الله اکبر یې وواېه .

عن أبي هريرة أن رسول الله قال: من كان له سعة، ولم يضح، فلا يقربّن مصلاّنا. یعني هغه څوک چې شتمن وي او قرباني ونکړي ، هغه دې خامخاضرور زموږ عیدګاه ته نه حاضریږي . دارنګه روایت دئ چې د قربانۍ په ورځو کې الله (جل جلاله) ته قرباني تر هر نیک کار ډیره زیاته خوښه او بهتره ده ، د قرباني د هر ویښته او وړۍ په بدل کې قرباني کونکي ته یوه نیکي ورکول کیږي . د قرباني د وینې څاڅکئ مځکې له دې چې مځکې ته رسیږي ، د الله په دربار کې قبوله ګرځي . قرباني واجب عمل دی اوبهتره داده چې د قرباني حیوان پخپل لاس ذبحه کړای شي ، او یا د قرباني د ذبحې په وخت کې حاضر اوسي ، او د ذبحې آله باید ښه پرې کونکې او تیره وي ، او مذبوح ته تر هغه بایدانتظاروکاږي تر څو یې له ټول جسد څخه حیات ووځي. او د قرباني د غوښو په اړه مناسب طریقه داده چې درې برخې کړی شي ، یوه برخه یې د ځان لپاره راوګرځول شي ، دوهمه خیرات او دریمه یې پر قریبانو وویشل شي، که څه هم هغوی ځانته قرباني کړې وي . ويستحب يوم الفطر أن يطعم الإنسان قبل الصلاة وفي الأضحى بعدها ويغتسل فيهما ويتطيب ويلبس أحسن ثيابه ويتوجه إلى المصلى وهو غير مكبر جهرا بخلاف الأضحى فإنه يكبر فيه جهرا طول الطريق [تحفة الملوك] . ( وَأَمَّا ) الَّذِي يَرْجِعُ إلَى الْأُضْحِيَّةِ فَالْمُسْتَحَبُّ أَنْ يَكُونَ أَسْمَنَهَا وَأَحْسَنَهَا وَأَعْظَمَهَا لِأَنَّهَا مَطِيَّةُ الْآخِرَةِ قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {عَظِّمُوا ضَحَايَاكُمْ فَإِنَّهَا عَلَى الصِّرَاطِ مَطَايَاكُمْ } وَمَهْمَا كَانَتْ الْمَطِيَّةُ أَعْظَمَ وَأَسْمَنَ كَانَتْ عَلَى الْجَوَازِ عَلَى الصِّرَاطِ أَقْدَرَ ، وَأَفْضَلُ الشَّاءِ أَنْ يَكُونَ كَبْشًا أَمْلَحَ أَقْرَنَ مَوْجُوءًا[بدائع الصنائع] . والمستحب أن تكون الأضحية أسمنها وأحسنها وأعظمها , وأفضل الشاة أن تكون كبشا أملح أقرن موجوء , أو أن تكون آلة الذبح حادة من الحديد , ويستحب أن يتربص بعد الذبح بقدر ما يبرد ويسكن من جميع أعضائه وتزول الحياة من جميع جسده , ويكره أن يضحى ويسلخ قبل أن يبرد , هكذا في البدائع . والأفضل أن يذبح أضحيته بيده إن كان يحسن الذبح ; لأن الأولى في القربات أن يتولى بنفسه , وإن كان لا يحسنه فالأفضل أن يستعين بغيره ولكن ينبغي أن يشهدها بنفسه , كذا في الكافي . ويستحب أن يأكل من أضحيته ويطعم منها غيره , والأفضل أن يتصدق بالثلث ويتخذ الثلث ضيافة لأقاربه وأصدقائه , ويدخر الثلث , ويطعم الغني والفقير جميعا , كذا في البدائع . ويهب منها ما شاء للغني والفقير والمسلم والذمي , كذا في الغياثية .ولو تصدق بالكل جاز , ولو حبس الكل لنفسه جاز , وله أن يدخر الكل لنفسه فوق ثلاثة أيام إلا أن إطعامها والتصدق بها أفضل إلا أن يكون الرجل ذا عيال وغير موسع الحال فإن الأفضل له حينئذ أن يدعه لعياله ويوسع عليهم به، كذا في البدائع .[الهندية].

# دشهید مولوي ګل موسی نصرت

## ژوند ته لنډه کتنه

سعد کتوازی

ژوند که لیږ وي یا زیات، ښه وي اوکه بد له دې مخې چې خدای ﷻ یې یو چاته ورکوي او بیرته یې هم ترې اخلي یو دروند امانت دی، خو له دې مخې چې یو څوک پرې لـه نیست څخه وجود ته راځي یو ستر نعمت دی، پـه دې مانا چـې کـه دغه امانت موږ ته نه وای راکړل شوی، موږ به د دې نړۍ د یو غوره مخلوق په توګه څه چې بیخي به مو وجود نـه لرلای، لـه نیست څخه په وجود راتللو او د یو غوره پیداوالي څخه به بې برخې و، نو د همدې امانت ژوند په مټ موږ لـه نیست څخه په وجود راغلي یو، د ژوند حقیقت یوه ازماینه ده، په هغه کې د بریالیتوب پـه پایلـه کې انسان تـه بیرتـه د تل لپاره لـه نیکمرغیو ډک په واک کې ورکول کیږي.

دغه امانت او فلسفه یې په دې نړۍ کې په ټاکلي نیټه له سپارلوسره سم پـای تـه رسیږي او بیا نـه تکراریږي، خـو بیاهم یو مجاهد چې ور کې په لوړه کچه بریالی وي سـل ځلـه یې نور هم غواړي او ارزو یې کوي، کـه څـه هـم د یـوې دومره ګړۍ لپاره ورکړل شي چې دی ورکې یوځل بیرته ووژل شي.

شهید مولوي نصرت رحمه الله هم د یو مجاهد په توګـه لـه پوره بریالیتوب سره د ژوند دغه دروند امانت ترټاکلي مـودې په مخ یـو وړ او د شهادت پـه ترلاسـه کولـو یـې بیرتـه خپـل څښتن تعالی ﷻ ته وسپاره، الله ﷻ دې همیشـنی ژونـد ورتـه ښائسته او له نیکمرغیو ډک کړي.

**زوکړه او زدکړې:** شهید مولوي ګل موسی نصرت رحمه الله د مرحوم ګل محمد زوی او د لعل محمد لمسی پـه ۱۳۵۳ لمریز کال د افغانستان کیڼ ختیځ د پکتیکا ولایت نکي ولسوالۍ د اشکي په کلي کې دې فاني نـړۍ تـه سـترګې غړولې، لومړنۍ زدکړې یې د کلي له ملا امام څخه ترسره کړې، د شوروي یرغل څخه د هجرتونو په لړ کې کورنۍ د وزیرستان سرحدي سیمې ته وکوچېده، پاتې زدکړې یې د میرانشاه ښار د شهید مولوي قاري احمدګل صاحب رحمه الله په بحرالعلوم نومې مدرسه کې له شیخ الحدیث و التفسیر مولوي عبدالمنان پیرکوټي او مولوي عبدالکبیر صاحب څخه پیل کړې، وروسته د سیمې بیلابیلو مدرسو ته لاړ، او بیا د خوست متهٔ چینې د مشرحقاني صاحب مشهورې مدرسې تـه راغـی، دوهـم کـال د صبریو ولسوالۍ مکتب سیمې مدرسې ته داخل شو، په هیواد کـې د اسلامي امارت د سقوط په لومړي کال یې د وزیرستان عیدک سیمې پـه نظامیـه نـومې مدرسـه کـې وړه دوره وکـړه، خـو د صلیبي یرغل په وړاندې نوي جهادي بهیر پیل کیدو لویې دورې کولو ته پرې نښود.

**د جهادپیل:** شهید مولوي ګل موسی نصرت رحمه الله لـه وړوکتوبه د یو ویښ ضمیر او جهادي فکر څښتن و، د شوروي یرغل په وروستیو کې چې لاهم تنکی ځوان و د دینـي زدکړو ترڅنګ یې جهادي فعالیت کاوه، د خوست باړۍ، ژوره او لـژه کې د مشر حقاني صاحب د مشهور قوماندان حاجي محمد اسماعیل رحمه الله تـر مشرۍ لاندې د فرد پـه توګـه پـه جهاد بوخت و.

د شوروي له وتلو وروسته یې د وزیرستان پـه سرحـدي سیمه کې زدکړو ته دوام ورکړ، د اسلامي تحریک پـه نـوم د طالبانو له را ښکاره کیدو سره سم د سیمې د غښتلي مجاهـد احمدطه په ملګرتیا په غزني کې له هغه سره یوځای شـو، څه موده وروسته د مولوي طـه، مولوي صدراعظم او ځینـې نورو سیمه ایزو مجاهدینو په ملتیا لوګر کې د خپـل استاد مولوي عبدالکبیر صاحب هم سنګره شو، مولوي صاحب د ننګرهار ولایت د والي په توګه و ګومارل شـو نصرت رحمه الله هـم ورسره

لاړ او د مولویصاحب د لیوا قوماندان حاجي حمید خان ګربز سره و اوسېد، د کونړ ولایت اسمار او دره نور ولسوالیو په نیولو کې په زړه پوري فعالیت درلود، او د ټانکسل دنده یې هم په مخ وړله.

د کابل د شمال جنګي کرښو، شکردره، چاریکار، پل متک او داسي نورو سیمو کې د یو زړو مجاهد په توګه فعاله ونډه درلوده، او بیا مخ په وړاندې کاپیسا،بامیانو او...سیمو کې د جهاد په لومړیو کرښو کې د امریکایي یرغل تر شیبو و اوسېد، د اسلامي امارت له سقوط وروسته بېرته خپلو زدکړو ته را وګرځېد او د شمالي وزیرستان په عیدک نظامیه مدرسه کې وړه دوره واخسته.

د یرغل په وړاندې چې نوی جهادي بهیر پیل شو، مولوي نصرترحمه‌الله هم د خپل تعلیمي کال له پوره کېدو سره سم د یو چریک ګروپ په مشري فعالیت پیل کړ، سیمي ته د امریکایانو د لومړي ځل راتلو په مهال یې په خپل کلي (نکه ولسوالی) کې یو ناڅاپه برید پرې ترسره کړ او درنه مرګ ژوبله یې ورته واړوله، همدایې د اشغال په وړاندې د جهاد پیل و، او د ولایت په سطحه په امریکایانو همدغه لومړی برید و.

همدارنګه یې هغه وخت د ملګرو په ملتیا د زېړوک مربوط سیمه کې د نکي ولسوال باندې کمین ووا‌هه، عسکر او ولسوال ترې په تېښته لاړل او رینجر یې د مجاهدینو لاس ته ولوېد، دا هم د ولایت په سطحه لومړی رینجر و چې مجاهدینو غنیمت کړ.

دغه راز یې د استشهاد د لړۍ په پیل کې د زېړوک کمپاین ته یو استشهادي بریدګر ننه ایستو چې په پوره بریالیتوب سره یې برید ترسره کړ او درنه مرګ ژوبله یې واړوله، د لواړه په سره سر سیمه کې یې کامیاب کمینونه هم ووهل چې د دښمن له مرګ ژوبلي پرته مجاهدینو هیڅ راز تلفات نه درلودل.

مولوي نصرترحمه‌الله د برمل د ولسوال په توګه، د کابل اداري د ټاکنو پروسې په مهال د خپل مسئولیت په ساحه کې د دښمن په ټولو مرکزونو او پوستو جبهېي بریدونه و کړل چې خورا بریالي او ټاکنیز کمپاین ته یې د روند ټکان ورکړ.

د پکتیا ولایت د کمیسیون مشرۍ په مهال یې د پټان ولسوالۍ مربوط د پولیسو په قرارګاه او اړوندو پوستو بریدونه ترسره کړل چې ټول په بشپړ ډول فتحه شول، د دوه رینجر او دریو عرادي ټانګانو په ګډون ګڼ شمیر مهمات، سپکې او درنې وسلې هم ولجه شول.

د۱۳۹۵المریز کال په سرطان میاشت کې د پکتیا جانیخېلو په ولسوالۍ او د هغې په دفاعي پوستو تاریخ سازه بریدونه ترسره کړل چې پکې مستهدف ځایونه ټول ونیول شول، د۱۴ټانګانو او۱۶رینجر موټرو په ګډون زیات شمېر سپکې او درنې وسلې، له وسلو او مرمیو ډک صندوقونه او په لویه پیمانه ډول ډول پوځي مهمات ولجه شول.

شهید مولوي نصرترحمه‌الله د اشغال له پیله د یو ډلګۍ مشر په توګه راڅرګندشو، وروسته د نکې او وړپسې د برمل د ولسوال په توګه دنده په مخ یوړله، له هغه وروسته یې څوکاله پرلپسې لومړی د پکتېکا او ور پسې د پکتیا د کمېسیون د مشري دنده ترسره کړه.

**شخصیت یې:** مولوي نصرترحمه‌الله یو داسي خوږمن، مخلص، دښې وړتیا، ستري حوصلي، اوسپنیز هوډ، متشرع، متواضع، د لوړو اخلاقو څښتن او د جهاد او اسلامي امارت اهدافو ته متعهد، وفادار او ژمن مشر و چې نه یواځې د خپلو ملګرو تر منځ بلکي په خپلو او پردو ټولو کې یې محبوبیت درلود، په لومړي لیده کاته به دي دا سي انګیرله چې د څوکالو خوږ ملګری دی.

شهید مولوي نصرترحمه‌الله به د ملګرو په بیلابیلو مزاجونو سم ور سره چلېده، له علم، علماو، طالبانو او مجاهدینو سره یې ډېره زیاته مینه او هغو ته یې بې کچې احترام درلود، د ټولو جهادي مشرانو یې د استادانو او امیرانو په توګه مثالي اطاعت کاو، د همدې اطاعت په مټ یې د مشرانو په وړاندې داسي څواکمن باور ترلاسه کړی و چې د خپلو سیالانو ترمنځ یې ځانګړی رتبه درلوده.

شهید نصرترحمه‌الله یوداسي پرهیزګاره، نرم مزاجه، خوش تبه او مینه پال ځوان و چې د خدای ورکړې ښکاره ښکلا ترڅنګ په همدې معنوي ښکلاو یې په هر ځای کې د ملګرو تمرکزځانته راخپل کړی و او د هغوی په زړونو کې یې ځانګړی ځای درلود، هغه رحمه‌اللهلا له وخته داخلي دښمن د یو غلام او کرایه کړل شوي په توګه د زړه سوي او رحم وړ باله او په دې باور و چې هغه د اصلي دښمن تش د لاس آله او د سینې سپر ده په خپل ټول توان به یې ځنګ ورکاوه بلکې د هغه د ژوند ژغورني هڅه به یې کوله، له همدې امله د هدف په نښه کولو کې یې بېساري محتاط و.

د نومـوړي هڅـو، احتيـاط، سـپين ږيرتـوب، خواخـوږي، نرمښت، ويښ ضمير او اخلاقو خورا زياتي ګټې، ښـې پـايلي او لاسته راوړني درلـودې، خلکـو تـه پـه ځـان ور نـږدې کولـو د هغوی محبوبيت او ملاتړ را خپلولو سره يې خپله سيمه تړواک لانـدې او هلتـه يـې د مخـالفينو کچـه او خپـل تلفـات بيخـي صفرته راټيټ کړل، ملګرو ته يې خپل اصلي دښمن او هـدف ور وپيژندل تر څو خپل هرډول ځواک همدلتـه وکـاروي او بـې ځايه يې اوبـه نکـړي، و لـس يـې د خارجيـانو لـه ښـکار کېـدو وژغوره ـ د هغو په وړاندې يې را ويښ او له هغو سره د جهاد روحيه يې ورکړه، د روان جهاد تقـدس او سـپېڅلتيا يـې ورتـه روښانه کړه، داخلي دښمن يې په داسي موډ کې راوسـت چـې ورسره مزاحمـت او سـيمي تـه د راتلـو زړه يـې نشـو کـولای او داسي نور....

**خاطري:** د پکتېکا مولـوي عبدالقـدوس د شـهيد مولـوي نصرترحمه‌الله د خوش تبې په اړه وايې: يـوه ورځ پـه مـوټر کـې ورسره وم، د ده د موټر سيټونه پـه يـو سـپين پشـمي پـوښ باندې پوښل شوي و، يو کوچني ملګری يې د مخ په سـيټ کـې ور سره ناست و، ما کوچني ته ويل ته خو په دې موټر کې ځکه خوشال يې چې د مېړي غوندې ورې لري، مولوي نصرترحمه‌الله دومره زيات وخندل چې موټر يـې لـه لاري ويوسـت او ترهغـه ولاړ و چې خندی ارام شو.

**يـو مولـوي صـيب وايـې:** زه د مدرسـې طالـب وم ور سره شپه مي شوه، سهار يو بل ملګري ته ورتللم، نصرت لـه يـوې خوا ملا و او له بلې خوا نظامي مشر هم و، خـو د خاکسـاري يـې دا انداز و چې زما لپاره يې خپل کار و ځنډاوه يو يې سـاتونکی و زه يــې هغــه ملګــري تــه پــه مــوټر کــې ور ورم، هلتــه نصرترحمه‌الله لکه زما ساتونکی چې وي داسي چپ راته ناسـت و او بيا يې بېرته تر خپله ځايه ورسولم او هغـه پـه خپـل کـار پسي لاړ.

يـو قـاري صـيب وايـې مولـوي نصـرترحمه‌الله د پکتيـا د کمېسيون د دندې په مهال هلته ډېـر زيـات مصـروف و، چـې پېنځه دقيقې به وزګار شو پـه نـږدې بـازار کـې يـې د وراره د خوشبويې او نورو توکو دوکان و، له هغه سره به په دوکان کې لګيا کېده، موږ بيا بيا لېدلی و ګيراکيانو ته به يې سامانونه را اخېسـتل، وربيـه کـول بـه يـې، د دوکـان لـه سـامانو بـه يـې ګردونه پاکول، وراره او د هغه دوکان ته راغليو شناختګانو ته به يې چای دمه کاو، چا بيخي دا نشوای ويـلای چـې يـو مـلا يـا ادنی نظامي دي وي.

نظامي ملګري او قوماندانان وايې مولوي نصرت رحمه‌الله د جنګ په ميدان کې له هغو تېرلو ځانګړنو چـې يـو جنګـي مشرـ يې لـري برخمنـد و او د جنـګ پـه ټولـو اړخونـو لکـه د دښـمن تشخيص، د هغه په نښه کولو، له هغه سره متقابـل برخـورد، د هغه له اسېرانو سره چلند، د نوې نېول شويو سېمو ساتنه، له عامو وګړو سره تعامـل، د ناڅاپـه حـالاتو کنـټرول، د ملګـرو ترمنځ يووالی او د شريعت په چوکاټ کې ژوند او... نـه يـوازې پوه بلکې ورکې ښه ماهر او تجربه هم و، له دې هرڅه سره چا د هغه او د يو عام فرد توپير نشو کولای، د همدې ابتکـار پـه درلودلو له نورو ملګرو مخکې و، هيڅ وخت يې په شـاته پـاتې کېدو کې نه رخصت غوښـتی او نـه يـې د چاوړانـدېز اوټېنګـار منلی، او اخير کې هم په پـوره زړورتيـا جهـاد، اسـلامي امـارت، خپل مسئوليت او د مشرانو اطاعـت تـه د ټېنـګ تعهـد ښـکار شو.

**شهادت يې:** د ۱۳۹۵المريزکال د تلې مياشتي په۲مـه چـې د۱۴۳۷ سپوږميز کال د۱۲مي لـه۲۲سره برابـره ده د جمـې پـه ورځ هغه مهال چې د پکتيا جانېخېلو ولسوالۍ اول ځل لـه دې وړاندې پوره نېول شوې او تر يوڅه مودې پوري خالي ولاړه وه، د لوی اختر له رخصتيو په ګټه دښمن غوښتل بيـا پکـې ځـای پر ځای شي، نصرترحمه‌الله يوځل بيا پروګرام ترتيب کړ ترڅو د دښمن د راتللو په کتار کمين ووهي، نور ملګـري يـې د کمـين لپـاره ټاکـل شـوي غونـدۍ شـاته را تـاو کـړل خپلـه مولـوي نصرترحمه‌الله او يو بل ملګری له دوهم لوري غونډۍ تـه ختـل چې ناڅاپه د غونډۍ سرته د دښمن عسکر له مخه ختلي و او نور يـې شـاته و پـه نصرترحمه‌الله او ملګـري يـې بريـد وکـړ، د غونډۍ له سره عسکرو هم بريد وکړ.

د دوه په دوه له دوه او هم دوو لوريو ته کلک مقاومـت وروسته د دين په لاره او د شريعت پـه نفـاذ کـې نـه سـتړې کېـدونکی، د هېـواد او مـؤمن ولـس د ازادۍ پـه لاره کـې، د صلېبي ير غل پـه وړانـدې د اوسـپنې لـه هـوډ سره ولاړ دغـه ستر شاهکار له خپل ملګري سره د شهادت جام وڅښـه او د تـل لپـاره لـه دې بـې پايښـته نـړۍ وکوچېـد (انالله وانـا اليـه راجعون) الله دي په هغه نړۍ لوړه رتبه ورکړي آمين.

شهيد نصرترحمه‌الله شاته پېنځه زامـن، درې لـونې، تـور سرې، د ده د لارې لارويـان شـېږ ورونـه او د ده پـه مـورال پوښلې ډلګۍ پرېښوده، روح دې ښاد او ياد دې تل پاتې وي.

# طالبانو ولې

## د صلیب سره د خوندیتوب تعهد سلب کړ؟

معین احمد ( معین )

د روان کال د زمري د میاشتې په ۲۳ نیټه طالبانو د یوې اعلامیې په ترڅ کې د سره صلیب له نړیوالې کمیټې سره د هغوی د خوندیتوب په خاطر کړی تعهد بیرته واخیست .

د سره صلیب نړیوالې کمیټې له تیرو دیرشو کلونو راهیسې په افغانستان کې بشري فعالیتونه تر سره کړي، او په صحي او د بندیانو د حال احوال راوړلو په برخه کې یې د پام وړ فعالیتونه کړي.

د سره صلیب نړیواله کمیټه د ژنیو کنوانسیون د مقرراتو له مخې د جګړې د قربانیانو ، بندیانو او په جګړه کې ژوبل شویو کسانو لپاره بشري مرستې تیاروي او له کوم توپیر پرته یې د جګړې پر متضررینو باندې ویشي.

زمونږ په جګړه ځپلي هیواد کې د سره صلیب نړیواله کمیټه د دریو لسیزو فعالیت سابقه لري ، چې افغانان یې د خدمتونو پوروړي دي.

پر افغانستان تر امریکایي یرغل وروسته هم سره صلیب دلته خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړ او د امریکایانو لخوا په بګرام او ګوانتنامو کې بندیان شویو افغانانو او د هغوی د ویرجنو کورنیو ترمنځ یې د تماس برابرولو زمینه مساعده کړه.

همداراز سره صلیب د جګړې له زخمیانو سره د هغوی د وړیا علاج او په جګړه کې معیوب شویو کسانو ته د مصنوعي غړیو جوړ ولو په برخه کې ډیر کار کړی دی.

یاده کمیټه چې د هیواد په (۱۵) ولایتونو کې د فعالیت مرکزونه لري د کابل رژیم ترڅنګ له طالبانو سره هم د خپلو فعالیتو د ترسره کولو په خاطر ښې اړیکې ساتې.

تر اوسه پورې څو ځله د دولت تر کنټرول لاندې ساحو کې د سره صلیب کارکوونکي تهدید شوي، اختطاف شوي او وژل شوي دي، خو د طالبانو تر واک لاندې ساحه کې د هغه حفاظتي تعهد له مخې چې د دوئ او طالبانو ترمنځ شوی دی ، د مرګ، اختطاف او د نقلیه وسائطو د غلاکیدو له ګواښ سره نه دي مخ شوي.

### طالبانو ولې تري خپل حفاظتي تعهد واخیست؟!

سور صلیب د ژنیو کنوانسیون د مقرراتو له مخې مسؤلیت لري چې په جګړه ځپلیو سیمو کې د جګړې د طرفین ترمنځ د خپل ناپلویتوب په ساتلو سره د هغوی د اسیرانو لپاره د ژوند آسانتیاوې برابرې کړې، د ژوند



تحفظ یې وکړي او د طرفینو په محبسونو کې د بندیانو د بشري حقونو خوندیتوب وکړي.

د همدغو وظیفوي مسؤلیتونو د ښه تر سره کولو په خاطر طالبانو هغوی ته په خپلو سیمو کې د کار کولو زمینه مساعده او د هغوي د کارکوونکو، کاري مراکزو او نقلیه وسائطو تحفظ یې د کړي تعهد له مخې په غاړه اخیستی و.

خو کله چې د سږکال په زمري میاشت کې د څرخي پله له طالب زندانیانو سره د کابل رژیم چارواکو د امریکایانو په دستور بد چلند پیل کړ طالبانو له سره صلیبه وغوښتل چې د هغوی د بندیانو د ژوند ژغورلو په خاطر باید د کابل رژیم له عدلي او قضایي مقاماتو سره خبره وکړي چې بې ځایه طالب زندانیان ونه ځوروي.

خو سره صلیب سره له دې چې دا دوي کاري مسؤلیت او د همدې کار لپاره یې په افغانستان کې دفترونه خلاص کړي ، د طالب زندانیانو په اړه د طالبانو په غوښتنه ځان کوڼ وا چاو.

تر هغه وروسته طالب زندانیان مجبورشول د خپلو بشري حقوقو د ترلاسه کولو لپاره غذایي اعتصاب وکړي چې لسمې ورځې ته د بندیانو د اعتصاب په غزیدو سره په زرګونو بندیان د کوما حالت ته ورسیدل، طالبانو بیا له سره صلیب څخه دیادو بندیانو د ژوند ژغورلو په خاطر د مداخلې غوښتنه وکړه چې له بده مرغه سره صلیب بیاهم هیڅ ځان خبر نه کړ.

هماغه و چې طالبان نور مجبورشول له دوی سره کړی حفاظتي تعهد لغو کړي.

او دا ځکه چې په افغانستان کې د سره صلیب چارواکي د طالب زندانیانو د ژوند ژغورلو په برخه کې د ژنیو کنوانسیون له معینو مقرراتو څخه په تخطي سره له خپلو کاري مسؤلیتونو ورهاخوا په شخصي- فعالیتونو لګیادي چې امارت یې په هغه کې د هیڅ ډول تحفظ مسؤلیت په غاړه نه اخلي .

په افغانستان کې د سره صلیب چارواکي باید داخبره درک کړي چې تاسو د خپل کاري ایجاباتو له مخې نه باید د چا تر اغیزې لاندې راشئ ، ستاسي اړوند فعالیت چې په هره ساحه او د هرچا تر اثر لاندې وي باید کاملا بیطرفانه او جرأتمندانه وي.

تاسو د امریکایي فرمایشاتو له مخې نه باید د طالب زندانیانو د ژوند ژغورلو په برخه کې د امریکایانو تر اغیزې لاندې راشي او د زرګونو کوماته رسیدلو زندانیانو د ژوند ژغورلو په برخه کې سهل انګاري وکړئ...

# د اخترونو لمونځ

ابوحمزه

**د اخترونو فضیلت (غوره والی):**

په اخترونو کې د مسلمانانو ستره خوشالي وي، یوه له بله سرهویني، مینه او الفت ورسره زیاتیږي، د مسلمانانو هغه دوه رکنونه چې یو حج ده او بل عمره دواړه په ډېره مینه اداء کوي، هر شخص د خپل رب لويي بیانوي او ستاینه کوي.

**د اخترونو د لمانځه حکم:**

په چا چې دجمعې لمونځ واجب وي، د اختر لمونځ هم پرې واجب دی.

**د لمانځه وخت:**

د اختر لمونځ د اشراق د لمانځه په څېر، له لمرختلو وروسته له افق څخه د یوې نیزې په اندازه ارتفاع څخه تر زوال لږ مخکې کیږي.

**د اختر د ورځې سنتونه:**

١. د اختر جمعې ته له تلو دمخه خواږه خواړه خوړل؛ غوره داده چې درې، پنځه یا اوه کجورې وخوړل شي، په لوی اختر کې ښه داده چې له بیرته ګرځېدو وروسته د قربانۍ په غوښه ناشته وکړي.

٢. غسل کول او نوې جامې اغوستل.

٣. مسواک وهل.

٤. عطر لګول ترڅو نور لمونځ کوونکي له بدبويۍ څخه په تکلیف نه شي.

٥. د لمانځه ځای ته په تلو راتلو کې لاره بدلول.

٦. په لاره کې په زوره تکبیرونه ویل.

**د لمانځه طریقه:**

د اختر لمونځ په جمعې سره اداء کیږي، یواځې کول یې نه سهي کیږي، څنګه چې د جمعې لمونځ دی، دوه رکعته له اذان او اقامت پرته اداء کیږي، پدې اړه له ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت ده، هغه وایي چې: پیغمبر صلی الله علیه وسلم د اختر په ورځ راووت او د اختر لمونځ یې له اذان او اقامت پرته وکړ.

امام به د اختر د لمانځه دشروع تکبیر وایي، ورپسې به ثناء وایي بیا درې تکبیرونه وایي، له هر تکبیر سره به لاسونه پورته کوي او بیا به یې پریږدي، لمونځ کوونکي به دهغه متابعت کوي، بیا به اعوذ بالله، بسم الله، فاتحه او سورت لولي. د تکبیرونو ترمنځ به دیوه تکبیر لوستلو په اندازه غلی کیږي، یا دې دا دعا لولي: سبحان الله والحمدلله ولا إله الا الله والله أکبر.

په دویم رکعت کې به هم درې تکبیرونه زیات وایي خو له فاتحې او سورت ویلو وروسته او له رکوع دمخه به وي.

**په لوی اختر کې تکبیرونه:**

په هرمسلمان مکلف، بالغ بانديې د لوی اختر تکبیرونه ویل واجب دي.

تکبیرونه یې دادی : الله اکبر، الله اکبر، لا إله إلا الله والله أکبر، الله أکبر ولله الحمد

تکبیر به د عرفات د ورځې له سهاره د لوی اختر د دریمې ورځې ترمازدیګره پورې له هر فرض لمانځه وروسته لوستل کیږي.

سرچینې:


- ✓ سنن النسائي
- ✓ الفتاوی السراجیة
- ✓ رد المحتار
- ✓ الفقه الحنفي في ثوبه الجدید

# دسولي مرغان

الیاس فاتح

وطنه غیږ ته دې د سولې مرغان کله راځي
د ازادۍ د مسافرو کاروان کله راځي

دجنګ سکروټو مو د امن ګلان سره لمبه کړل
خدایه د سولې د رحمت سپین باران کله راځي

دظلم شپه څومره اوږده شوه په مظلوم امت
چې اذانګه دنیا و، منبر د اذان کله راځي

په لوی وحشت د انساني وینو ویالې بهوي
په زبیښاکګرو د قهرنو توپان کله راځي

چې طالب څنې اچوي دازادۍ اتڼ کې
هغه صحنه به دخوښۍ پر افغان کله راځي

دفراق غم د پلار یعقوب نظر اوبه اوبه کړ
طالب یوسف به دکیوبا له کنعان کله راځي

نور د ملوک دنصیب وچاودې دپښو تڼاکې
بدرۍ په زلفو کې تړې وړی ارمان کله راځي

مایې دمینې انګور ولید دزړګي پر ښېښه
خو د اقرار توری په خوله د جانان کله راځي

چې نړۍ خلاصه کړي له شر د صلیبي ښاماره
ربه! دنیا ته ایوبي مومن خان کله راځي

داستقلال لمر دې ډوب شوی دعرب او دترک
دافغاني خلافت نور په جهان کله راځي

چې له حجرو یې درزیدلې دشاهانو سینې
ها دتقوا په زغرو پټ ملایان کله راځي

دځنکدن وروستۍ شپې رالندوي روان دي
فاتح ته کران ترخپله ځانه یاران کله راځي

# Shahamat

د اروزګان ولایت چناراتو ولسوالۍ کې د دښمن هغې قرارګاه انځورونه
چې د امارت مجاهدینو لخوا فتح او وسلې یې غنیمت شوې